Yoon Cultural Foundation
یون کولتوري یون

# د پښتو شعر
# هندسي جوړښت

غزل
څلوریزه
قطعه
بوللــه
دویزه
درپیز
مستزاد
څلوریز
پنځه ییز
شپږیز
او نور...

لنډۍ
سروکی
کاکړۍ غاړې
د اتڼ نارې
ببولاله
چاربیته
بدله
بګتۍ
لوبه
او نور...



محمد اسمعیل یون

۱۳۸۷ ل کال

Ketabton.com

ketabton.com - The Digital Library

# د پښتو شعر
# هندسي جوړښت

لیکوال

محمد اسمعیل یون

ketabton.com - The Digital Library

# بسم الله الرحمن الرحیم

## کتاب پېژندنه


| | |
|---|---|
| د کتاب نوم: | د پښتو شعر هندسي جوړښت |
| لیکوال: | پوهیالی محمد اسمعیل یون |
| خپرندوی: | یون کلتوري یون |
| چاپشمېر: | ۱۰۰۰ ټوکه |
| لومړی چاپ: | ۱۳۷۷ل کال |
| شپږم چاپ: | ۱۳۸۷ل کال |
| د لیکوال پرله پسې نومره: | (۱۳) |
| د خپرندوی پرله پسې نومره: | (۱۳) |
| کمپوزر: | ضیاءالرحمن ضیاء |

ketabton.com - The Digital Library

# نیولیک


| ګڼه | سرلیک | مخ |
| --- | --- | --- |
| ۱ | ددې چاپ سریزه | ۱ |
| ۲ | د لیکوال په باب څو خبرې | ۴ |
| ۳ | د پښتو شعر هندسي جوړښت، یو ... | ۷ |
| ۴ | د لارښود استاد نظر | ۱۱ |
| ۵ | سریزه | ۱۳ |
| | **لومړی څپرکی** | |
| ۶ | ګڼ شعري فورمونه | ۱۹ |
| ۷ | غزل او ډولونه یې | ۱۹ |
| ۸ | څلوریزه (رباعي) | ۳۸ |
| ۹ | قطعه | ۴۳ |
| ۱۰ | بولله (قصیده) | ۴۵ |
| ۱۱ | دویزه (مثنوي) | ۶۰ |
| ۱۲ | دریېز (مثلث) | ۶۸ |
| ۱۳ | مستزاد | ۷۱ |
| ۱۴ | څلوریز (مربع) | ۷۴ |
| ۱۵ | پینځه ییز (مخمس) | ۷۸ |
| ۱۶ | شپږیز (مسدس) | ۸۵ |
| ۱۷ | اوه یز (مسبع) | ۸۹ |
| ۱۸ | اته یز (مثمن) | ۹۳ |
| ۱۹ | لسیز (معشر) | ۹۶ |
| ۲۰ | ترجیع بند | ۱۰۱ |

ketabton.com - The Digital Library


۲۱ ذوالقافیتین (ترکیب بند ) ۱۰۵
۲۲ ټول قافیز ۱۱۲


## دویم څپرکی


۲۳ پښتو ازاد شعر ۱۱۲


## دریم څپرکی


۲۴ د پښتو ولسي شاعرۍ یا نظم فورمونه ۱۳۸
۲۵ لنډۍ ۱۳۸
۲۶ سروکی (نیمکۍ ) ۱۴۰
۲۷ کاکړې غاړې ۱۴۷
۲۸ اتڼ نارې ۱۴۹
۲۹ ببولاله ۱۵۵
۳۰ چاربیته ۱۵۹
۳۱ مقام ۱۷۴
۳۲ بدله ۱۷۸
۳۳ لوبه ۱۸۲
۳۴ داستان ۱۸۴
۳۵ بګتۍ ۱۹۰



## څلورم څپرکی


۳۶ د پښتو ولسي شاعرۍ یا نظم ځیني نور فورمونه ۱۹۳
۳۷ پایله ۲۰۲
۳۸ اخځونه ۲۰۸
۳۹ د محمد اسمعیل یون لنډه پېژندنه ۲۱۴

ketabton.com - The Digital Library

# د دې چاپ سریزه

((د پښتو شعر هندسي جوړښت)) د پوهنیارۍ علمي رتبې لپاره زما تېزس و. د څو کلن تدریس په بهیر کې چې کله ما هم پښتو نظم او د هغه بېلابېل ډولونه تشریح کول او یا مې له محصلینو څخه د هغو د




تعریف پوښتنه کوله، نو زیات شمېر به په کې ټکني کېدل، د وخت په تېرېدو سره ما پر تشریح سربېره د هغو شکلونه هم ورته پر تخته رسمول، بیا به مې ترې پوښتنه کوله، نو دوی به د هر فورم شکل سم رسموه، خو په ګړني یا لیکني تعریف کې یې بیا هم ستونزې لرلې.

له دې څخه ماته ښه پته ولګېده، چې هر وخت د یوه شي جسم مجسم شي، نو ذهن ته ژر لاره پیدا کوي. همدا وجه وه چې د پوهنیارۍ ترفیع لپاره مې همدا موضوع ثبت کړه. له ځانګې

ketabton.com - The Digital Library

ځخه زما دا موضوع په ښه ډول پاس شوه، د پوهنځي علمي شورا هم په کې څه ستونزه راولاړه نه کړه، خو کله چې د پوهنتون علمي شورا ته لاړه، نو د طبيعي علومو پوهنځيو يو شمېر استادانو، له هغې جملې ځخه هم يو دوه تنو، چې د هر چا په علمي ترفيع کې به يې خنډ راولاړوه، سخت مخالفت وکړ، ويې ويل چې: شعر له هندسې سره څه اړه لري؟ او همدا رنګه ځينې نور دلايل، خو کله چې زه ور پسې لاړم او ددې اثر په اړه مې معلومات ورکړل، نو د هغوی هم نه يوازې قناعت حاصل شو، بلکې ماته يې وويل، چې دا زموږ لپاره هم جالبه موضوع ده. په پای کې دې اثر د ترفيع ټول پړاوونه ووهل. تر هغې وروسته مې د چاپ تکل وکړ. په امريکا کې زما يو دوست ښاغلي وزيرګل پښتونيار يې مالي لګښت پر غاړه واخيست او دا اثر چاپ شو. تر چاپ وروسته هم چا چې لوستی و، خوښ شوی يې و، څرنګه چې د پښتو نظم تشريح د ژبو او ادبياتو پوهنځيو د پښتو څانګو يوه مهمه موضوع ده، نو محصلينو ته د يو درسي مرستندوی کتاب کار يې هم ورکړ. زياتو محصلينو واخيست، نو ځکه يې د بيا بيا چاپ څو ځلي اړتيا پيدا شوه، تراوسه پورې دا اثر پنځه ځلي چاپ شوی، خو زه فکر کوم، چې نورو چاپونو ته يې هم اړتيا ده. که څه هم ما غوښتل چې يو څه نور تغيرات هم په کې راوړم، خو اوسمهال راته دا مجال پيدا نه شو. له نورو ادبپوهانو ځخه مې هيله ده، چې هم دا اثر کره

ketabton.com - The Digital Library

کړي او هم يې لاپسې وغځوي. له قدرمنو محصلينو څخه مې هم هيله ده، چې د لوستلو او ددې اثر د کارولو په حالت کې، که له کوم ابهام او ستونزې سره مخامخېږي او يا هم د نورې اسانتيا لپاره څه وړانديزونه او نظرونه لري، په ليکلې بڼه دې ماته راولېږي، چې په راتلونکو چاپونو کې يې په کې ځای پر ځای کړو.

نور نو دا کتاب او دا هم تاسې قدرمن لوستونکي.

په درنښت
د پوهنيزو مرکزونو د پياوړتيا په هيله
پوهندوی محمد اسمعيل يون
ارګ، د جمهوري رياست ودانۍ
د ۱۳۸۷ل کال د کب ۲۲مه نېټه
کابل - افغانستان

ketabton.com - The Digital Library

# د لیکوال په باب څو خبرې

ما لپاره د ډېرې خوښۍ ځای دی، چې د کابل پوهنتون ځوان استاد او د پښتو زیارکښ لیکوال او ښه شاعر پر ما ګران محمد اسمعیل یون د کابل په ډېرو سختو شرایطو کې د یو بل نوي کتاب په لیکلو بریالی شوی دی او زیاته خوشالي لا په دې کې ده، چې اوس یې چاپ ته اماده کړی او چاپېږي.

ده مهرباني وکړه او له مانه یې وغوښتل چې څو کرښې د سریزې په توګه پرې وکارېږم، خو زه په دې سریزه کې د دې اثر د ښاغلي لیکوال په باب څو خبرې کوم.

د شپېتمو کلونو په اوایلو کې لا ښاغلی محمد اسمعیل یون پوهنتون ته نه و شامل شوی او د خپلو منځنیو زده کړو وروستي کلونه یې تېرول، خو ما به دی لیده چې په ډېر ذوق او شوق یې د کابل مطابعو ته منډې رامنډې کولې او اثار یې چاپول. د کابل له ځینو جریدو سره یې همکاري کوله، په مشاعرو کې یې برخه اخیستله. د ده هڅو او استعداد دی په خپلو همزولو ځوانانو کې ښه وځلاوه. ده د هغه مهال په ځوانانو کې ښه موقف او نوم پیدا کړ. د لیکوالو ټولنې او د کابل پوهنتون فرهنګي شورۍ ته یې لاره پیدا کړه او له دغو دوو فرهنګي موسسو سره یې ښه د مزې همکاري وکړه.

ketabton.com - The Digital Library

دا مهال ده خپلې پوهنتوني زده کړې پای ته رسولې، د زده کړو تر څنګه يې خپلې فرهنګي هڅې لا پراخولې د پوهنتون د ځينو ځوانانو په مرسته يې په کابل کې د يوې فرهنګي ټولنې د جوړولو لپاره کار پيل کړ.

پر ډېرو مشرانو فرهنګيانو وګرځېد او زمينه يې دې ته مساعده کړه چې زموږ مشران، کشران، فرهنګيان سره کېني او د خوشال فرهنګي ټولنه جوړه کړي.

له دې ټولنې او ددې ټولنې له بري او د کارونو له پرمختګ سره يې اورنۍ مينه وښوده او دا مينه تراوسه ورسره پالي او د ټولنې خپرنۍ ارګان شمشاد مجله د زړه په وينو چاپ ته اماده کوي او خپروي.

وروستي شپږ کلونه زموږ د هېواد او خلکو لپاره د وير او ماتم کلونه وو، ډېرو لږو خلکو دغو ويرونو او ماتمونو ته زړه ونيولی شو، زياترو فرهنګيانو هېواد پرېښود، اما ده دغو ټولو ناخوالو، ستونزو، تنګسو او کړاوونو ته ځان ټينګ کړ او په خپل هېواد کې پاتې او فرهنګي کار سره يې مينه تر پخوا لا زياته شوه. د خپلې همدې مينې پر اساس اوس يې يوه پښه په پېښور کې وي او يوه په افغانستان کې، دلته په پېښور کې په خورا لوړ همت او بې ساري زيارکښنې د هيله مجله چاپوي، کتابونه چاپوي او بيا يې افغانستان ته رسوي او په کابل کې يې پر هغو پاتې فرهنګيانو وېشي.

ketabton.com - The Digital Library

دی اوس نه یوازې د چاپ او خپرولو په کار بوخت دی، بلکې له ډېرو مصروفیتونو سره سره په لیکلو او تالیف هم بوخت دی. مقالې، سرمقالې رسالې او کتابونه لیکي، هغه هم په داسې شرایطو کې چې د هېواد دننه نه د څېړنې لپاره شرایط برابر دي او نه منابع او ماخذ میسرېږي.

زه دده ټولې فرهنګي هڅې ستایم. د لا زیاتو بریالیتوبونو لپاره یې دعا کوم.

په درناوي

سرمحقق زلمی هېوادمل

ketabton.com - The Digital Library

# د پښتو شعر هندسي جوړښت
# یو هنري او ښکلاییز نوښت

د هند د نیمې وچې په ادبي اسمان کې د علامه شبلي نعماني د ((شعرالعجم)) (که څه هم ادبي تذکره هم ده) د لمر وړانګو د پارسي شعر و شاعرۍ کړلېچونه دومره وځلول او دومره یې د پارسي شاعرۍ مراندي راښکلي چې نن هم د پارسي ژبې او ادب کېږدۍ پرې نېغه ولاړه ده. ان چې د لس اتو لسیزو د ادبي پرمختیا یي بهیر له چټکتیا سره سره دومره څوک پیدا نه شول او یا به یې د شعر العجم پر تلپاتېینې دومره باور وي چې پر شویو بدیعي او صناعي تعریفاتو باندې یې د بیا کتنې اړتیا ونه انګېرله او د اغېزمنۍ اندازه یې له دې نه هم لګي چې ایرانیانو یې بېرته پارسي ژباړه اړینه وګڼله.

په پښتو کې هم د شعر العجم په څېر یوه اثر ته چې عربي او دېواني ادبي صنایع (غزل، رباعي، قطعه، قصیده، مثنوي، مستزاد، مثلث، مربع، مخمس، مسدس، مسبع، مثمن، معشر، ترجیح بند، ترکیب بند او...) راوښيي اړتیا وه. که څه هم د شعر العجم په څېر منظم او اوډلي څه رامنځته نه شول؛ خو پښتو لیکوالو بیا هم خورې ورې هڅې وکړې او د ادبي فنون، روح ادب، د ادب مناره، قافیه، خوږه شپېلۍ، بدیع او بیان، لیتکی، بدیع او د

ketabton.com - The Digital Library

پښتو شعر، د پښتو ادب په تاریخ کې قصیده، پښتو غزل او ... په څېړ ځینې اثار رامنځته کړل، چې دې هر اثر پر خپل وخت د ځانګړو صنایعو په پېژندنه او سپړنه کې په زړه پورې ونډه واخیسته؛ خو په خپله د پښتو د ولسي او فولکوري شاعرۍ د څانګو او څېلونو د پېژندنې اړتیا ته په پاملرنه لومړنی لیکوال چې د یوې تخصصي او ځانګیزې(مسلکي) اړتیا په توګه یې د پښتو شعر د رغښت او سکښت اړتیا وانګېرله، هغه د پښتو ژبپوهنې نوښتګر او زیارن استاد پوهاند ډاکتر مجاور احمد زیار و، چې د شاعرانه او ژبنیو ازمېښتونو په رڼا کې یې ((پښتو شعر څنګه جوړېږي؟)) نومي اثر رامنځته کړ او د خپلې څېړنې او ازمېښتونو له کوچ او نچوړ یې دا راوایستل چې په پښتو شعر کې تر هرو درېو څپو وروسته څلورمه څپه خجنه (فشاري) راځي او یوازې په پښتو شعر کې نه، بلکې دده دا سپړلی دود پر هغو شعري چوکاټونو هم سور راځي، چې له عربي ژبې نه ورته راغلي دي.

د پوهاند زیار دغه نوښتی هڅه رښتیا چې د پښتو شعر رغونې پر موضوع د یوه ځانګړي ازمېښت لرونکی اثر و، چې په علمي او څېړنیزه جامه کې پښتو شاعرانو او د شعر مینه والو ته وړاندې شو. تر دوی وروسته که څه هم د ارواښاد استاد روهي ((شعر پېژندنه)) هم د شعر پر تیورۍ او منځپانګه باندې یو ارزښتناک اثر و، چې د ژوندۍ شاعرۍ او ژمنې شاعرۍ تک و برید په ګوته کوي.

ketabton.com - The Digital Library

ښايي د همدغو دوو استادانو د استادانه او نوښتګرانه روزنې او له دوی دواړو سره د همېشنۍ ناستې ولاړې اغېزو، چې د دوی وتلي او رښتين پتمن او مينه وال شاګرد د پښتو تنکی او هڅاند ليکوال او خوږژبی شاعر ښاغلی محمدا اسمعيل يون يې د پښتو د ولسي شاعرۍ په بېلا بېلو څېلونو(ژانرونو ) کې د يوه نوښت رامنځته کولو ته وهڅاوه او د شعر او نظم بديعي تعريف ته يې داسې يوه سمبوليکه ژبه او يوه هندسي جوله ورکړه، چې په دودېدنې سره يې د شعر د جوليز ارزښت يو عادي مينه وال هم له سر خوږوونکيو تعريفونو پرته په ډېره اسانۍ کولای شي، چې په دېواني او ولسي شاعرۍ کې د قافيې (c,b,a او نور... ) رديف (=)، مسره (ـــ) له ښنو نه په دې وپوهېږي چې د شعر قافيه، رديف او نور لوازم کوم کوم دي؟

ښاغلی يون د ټاکليو ښنو لپاره خپله ورکه له لرغونې نه نيولې تر ځوانې شاعرۍ پورې لټولې ده، چې دا لټون او څېړنه په خپله يو ډول پرتلې ته يوه بلنه غوندې هم ده. دده د دغو سمبولونو يا قيمتونو په ټاکنه کې کېدی شي له تخنيکي او غرېيز پلوه څه کمزورۍ تر سترګو شي او هغه څنګه چې يو خو يې دومره درانه ژبني او شعري نوښت ته په يوازې ځان اوږه ورته کړې او بل دا چې له هر نوي ګام سره کاواکي او د تيندک انديښنه ارومرو ملګرې وي. خو له دې سره سره خبره په لوی سر کې پر دغسې يوه نوښتي چار باندې د لاس پورې کولو او اوږې ورته کولو ده. زه په داسې ترخ کې چې ښاغلي يون

ketabton.com - The Digital Library

ته د هېواد د سياسي فضا په دغسې خړ پړتيا او دوند کې د داسې يوه ستر نوښت په کولو پر مبارکۍ سربېره ځانګوالو شعر پوهانو ته هم بلنه ورکوم، چې ده ته په خپلو لوراندو لارښوونو او نغوتو د ځوان کول په وده کې برخه واخلي. البته خپله دا يوه يادونه هم د ښاغلي يون د هڅان فطرت د درناوي په ترڅ کې اړينه بولم چې که دی د خپل دې زيار په وړاندې د ولولې د ځوانۍ په غوښتنه په ډېر لږ څه (پوهنيارۍ) نه وای بسيا شوی؛ نو ما دده دغه زيار په ګانده کې د ده د لوړو علمي او پوهنتوني رتبو لپاره بسنده ګاڼه، خو بيا هم ورته د مبارکيو د وړاندې کولو او د نور پرمختګ په هيله خپله خبره د خوشال بابا په دې هيله منه وينا رالنډوم چې:

لا به ډېر ګلونه وا شي په دا باغ کې
د ګلزار د غوړېدلو يې اغازدی

نمانځنه

محمد آصف صميم

۷/۱/۱۳۷۷

پېښور

ketabton.com - The Digital Library

# د لاربنود استاد نظر

لـه ډېـرې مـودې راهيسـې د کابـل پوهنتـون د ژبـو او ادبيـاتو پوهنځي په پښتو څانګه کې د پښتو شعر د شکلي جوړښت په باب د يـو بشـپړ علمـي- څېړنيز اثـر ليکلو تـه اړتيـا وه، لـه نېکـه مرغـه ښـاغلي محمد اسمعيل يـون پـه خپـل علمـي هانـد او هڅې سره دا علمي خلا ډکه او دا مهم ضرورت پوره کړ.

((د پښتو شعر هندسي جوړښت)) د پوهنيار علمي رتبې لپاره د يـون ټـاکلې موضـوع ده. دا موضـوع خـورا ډېـره جالبـه، ضـروري او جامع ده. محمد اسمعيل يـون پـه ډېـر زحمت، زيـار او زغـم سره دا موضوع په هر اړخيز ډول څېړلې ده. ګڼ اثـار او منـابع يـې ورپسـې کتلي او په پای کې يې له ګڼو نويـو او پخوانيـو اخځونـو نـه پـه کـې ګټـه اخيسـتې ده. اثـر پـر (۴) څپرکـو وېشـل شـوی دی، پـه پيـل کـې سريزه راغلې، چې د پښـتو شـعر پـر شـکلي سکښـت او ددې اثـر د ليکلـو د اړتيـا پـه بـاب خبـرې کـوي. ورپسـې د نظـم هغـه بېلابېـل فورمونه معرفي شوي، چې په پښتو او عربي ژبه کې دود دي، بيا د پښـتو ازاد شـعر پـه بـاب څېړنـه راغلې ده، ورپسـې د پښـتو ولسـي شاعرۍ ګڼ فورمونه معرفي شوي دي. تر دې وروسته په بل څپرکي کې د پښتو ولسي شاعرۍ ځينې نور فورمونه معرفي شوي، په پای کـې يـو پايلـه (نتيجـه) راوړل شـوې، چـې ددې کتـاب پـر ټـول څرنګوالي او په عام ډول د پښتو شاعرۍ پر شکلي رغښت باندې

ketabton.com - The Digital Library

رڼا اچوي. سره له دې چې تر او سه پورې د ښاغلي محمد اسمعیل یون یو شمېر نور علمي او څېړنیز اثار چاپ شوي او د (پوهنیار) علمي رتبې لپاره د ده هر یو اثر کفایت کاوه لکه: ((د ژبو او ادبیاتو پوهنځي پښتو کتابښود))، ((افغانستان ته اوښتي فرهنګي زیانونه)) او نور... پر هر یوه ده د (پوهنیار) علمي رتبه اخیستلای شوه. خو ده بیا هم د خپلې علمي ترفیع لپاره د ((پښتو شعر هندسي جوړښت)) نوې موضوع وټاکله. په ډېرو سختو او تنګو شرایطو کې یې خپله دا هیله پوره کړه او هغه اړتیا یې هم له منځه یوړه چې په پښتو څانګه کې د داسې یو اثر د نشتوالي له کبله محسوسېدله.

زه ((د پښتو شعر هندسي جوړښت)) علمي څېړنیز اثر د ښاغلي محمد اسمعیل یون د (پوهنیار علمي رتبې) لپاره وړ، پوره او بشپړ ګڼم او له اړوندو څانګو څخه هیله کوم، چې نوموړي ته د دې ګټور علمي اثر له کبله د پوهنیار علمي رتبه تصویب او ورکړي.

په درناوي

پوهندوی محمدصابر خوېشکی

د پښتو څانګې آمر

ketabton.com - The Digital Library

# سریزه

تر اوسه پورې په پښتو ادب کې يو شمېر د اسې پوهنيز (علمي) اثار کښل شوي، چې په هغو کې د پښتو شعر پر جوړښت او رغښت باندې رڼا اچول شوې ده. دغه راز د پښتو شعر د مانيز او جوليز جوړښت په اړه ګڼ شمېر ليکنې شوي او يو شمېر بېلابېل شعري فورمونه (شکلونه) تر څېړنې او شننې لاندې نيول شوي دي. هر فورم په جلا جلا ډول څېړل شوی او ځانګړنې يې په ګوته شوي دي. له همدې کبله د پښتو شعر(نظم) شکلونه په ټوليز (عمومي) ډول پر دوو لويو برخو وېشل شوي دي: (١)

١- د شعر يا نظم هغه فورمونه او چوکاټونه چې له عربي ژبې څخه پښتو ته راغلي، خو دلته زموږ په ژبه کې دود دي، سره له دې چې دا شعري فورمونه له عربي ژبې څخه پښتو ته راغلي، خو د پښتو ژبې د غږيز جوړښت تابع دي. په دې مانا ؛ د نظم هغه قوانين چې په عربي ژبه کې د عربي نظمونو لپاره دود دي هغه نه مني او د پښتو نظم خپل جوړښت يانې څپيز - خجيز (سېلاب-تونيک) سيستم پرې تطبيقېږي. (٢)

د غږيز او څپيز خجيز جوړښت له مخې دا شعري فورمونه يا صنفونه هماغه قوانين مني چې د پښتو د نورې ولسي، ملي او يا لوستې شاعرۍ د نظمونو پر بېلابېلو فورمونو تطبيقېږي.

ketabton.com - The Digital Library

په دې شعري چوکاټونو کې په ټولیز ډول د (۱۵) په شاوخوا کې شعري فورمونه موجود دي لکه: غزل، قطعه، قصیده، مثنوي، مستزاد، مثلث، مربع، مخمس، مسدس، ترجیع بند، ترکیب بند، معشر او... (۳)

۲- هغه شعري فورمونه یا د نظم چوکاټونه دي، چې هغه په خپله د پښتو شاعرۍ زېږنده دي او یا هم له پخوا څخه په دې ژبه کې باب دي. اکثره دا شعري چوکاټونه په نورو ژبو او په ځانګړي ډول د ګاونډیو ژبو په شاعرۍ کې لیدل شوي نه دي. دا سې ښکاري چې دا شعري فورمونه د پښتو ژبې د غږیز او اهنګین جوړښت پر بنسټ رامنځته شوي او خوند یې هم په همدې ژبه کې دی. د دې شعري فورمونو ځینې یې قافیې او ان ردیفونه هم لري، خو ځینې یې بیا له دې قید څخه هم ازاد دي، خو د غږونو او څپو داسې پرله پسې اوډنه او انتظام لري، چې د نظم هرې مسرې ته یو ډول ځانګړی ترنم او اهنګ ورکوي او هغه خوند پوره کوي، چې څوک یې له منظوم کلام څخه اخیستلای شي. د یو منظم قانون له مخې د اهنګ لوړوالی او ټیټوالی او د ژبې له غږیز جوړښت سره بشپړ پیوستون، د پښتو ملي او ولسي شاعرۍ ډېره خوندوره کړې ده. له همدې کبله خو دا شاعري زموږ د ولس د موسیقۍ له څپو سره ډېره ښه اوډلتیا مومي او کله چې بیا دا دواړه ښکلي هنرونه سره یوځای شي، نو بیا د دردمنو زړونو زنګ لري کړي.

ketabton.com - The Digital Library

د پښتو ژبې د شعر دا چوکاټونه هر یو بېل بېل شکل لري، د څپو د شمېر او د مسرو د څومره والي او ځرنګوالي له پلوه یو له بله بدلون مومي، خو بیا هم د ځینو خجیز جوړښت له مخې پر ټولو یو قانون تطبیقېږي. یانې تر هرو درېو څپو وروسته څلورمه څپه خج (فشار) اخلي. د یادونې وړ ده، چې همدا نظام پر هغو شعري چوکاټونو هم د تطبیق وړ دی، چې له عربي ژبې څخه پښتو ته راغلي دي.

د پښتو شاعرۍ خپل چوکاټونه لنډۍ، سروکی، لوبه، بګتۍ، چاربیته، بدله، نارې یا غړونه، کاکړي غاړې او نور دي.

ددې ترڅنګ په پښتو ادب کې د ازاد شعر یا د ازاد نظم یو بل ډول شعري فورم هم موجود دی. ځینې کسان دا شعري فورم له نورو ژبو څخه پښتو ته راغلی شعري فورم بولي، خو ځینې نور ادبپوهان بیا پر دې ټینګار کوي، چې دا هم د پښتو ژبې د نورو شعري چوکاټونو په څېر د پښتو شاعرۍ زېږنده دی. دوی وایي د پښتو ولسي شاعري او ازاد شعر ترمنځ زیات ورته والی موجود دی، د پښتو ملي شاعرۍ ځینې فورمونه هم د قافیې او ردیف له قید و بند څخه ازاد دي او د مسرو اوږدوالی او لنډوالی لري او ازاد شعر هم، نو په دې وجه پښتو ازاد شعر یا ازاد نظم له پښتو ژبې نه پردی شعري فورم نه شي ګڼل کېدی. ددې یادونه هم په کار ده، چې په پښتو ازاد شعر کې ځینې هغه قیدونه او قوانین، چې د پښتو شعر نور شعري چوکاټونه یې ثابت ساتلي او هغو ته یې یوه مشخصه بڼه

ketabton.com - The Digital Library

ورکړي، هم له منځه تللي دي. د دې شعري چوکاټونو ترمنځ ګډه او مشترکه وجه د وزن شتوالی او د څپېز خجيز قانون منل دي.

ازاد نظم يا ازاد شعر لکه د لنډۍ، چاربيتې، غزل او يا هم نورو په څېر کوم ټاکلی شکل نه لري. لکه څنګه چې يې له نامه څخه ښکاري شاعر د خپل درد او اند د افادې لپاره کولای شي، خپلو ازادو شعرونو ته بېلابېلې بڼې ورکړي، خو (وزن) بيا هم تراوسه پورې د ازاد شعر يو رغوونکی رکن (توک) دی.

لکه څنګه چې د مخه يادونه وشوه، تراوسه پورې په پښتو ادب کې د پښتو شعري فورمونو د تشخص لپاره ګڼ شمېر ليکنې شوي او يو شمېر کتابونه ليکل شوي دي. په دې ليکنو کې د پښتو شعر د تخنيکي جوړښت په اړه زيات معلومات او څرګندونې وړاندې شوې دي، خو بيا هم داسې يوې رسالې ته اړتيا وه، چې په هغې کې د پښتو شاعرۍ د بېلابېلو چوکاټونو هندسي جوړښت ترسيم شي او د هغو د بدن سيستم افاده کړي.

دا اړتيا هغه وخت ډېره رامنځته کېږي، چې څوک عملاً په پوهنځي او يا بل روزنيز مرکز کې د پښتو شاعرۍ د جوړښت پر څېړنه، شننه او تشريح بوخت وي. هلته تشريح کوونکی مجبور دی، چې د محصل او يا پوهنتونکي د ذهني قناعت د خړوب لپاره د شعر هندسي شکل پر تخته ترسيم کړي. زه چې عملاً له داسې يو تدريسي بهير سره مخامخ وم، نو د محصلينو د پوهېدنې لپاره مې په ازمېښتي توګه د هر شعري فورم هندسي بڼه هغو ته رسم کړه.

ketabton.com - The Digital Library

ددې عملیې تر تکرار وروسته دې کار مثبته پایله ورکړه او محصلین د خپل ذکاوت په اندازه له ډېرو هغو شعري فورمونو سره، یا په بشپړ ډول او یا په نیمه ډول اشنا شول، چې پښتو کې کارېدل. د نظم د هرې برخې او رکن د افادې لپاره بېلابېلې نښې نښانې او علایم وټاکل شول، لکه د قافیې د افادې لپار (a) نښه، د ردیف لپاره (=) نښه او د مسرې لپاره کرښه (__) وټاکل شول. د همدغو علایمو او هندسي نښو په واسطه د یو شعر هندسي جوړښت لاسته راتلای شي. ددې امکان هم شته، چې په یو شعري فورم کې څو ډوله قافیې موجودې وي، نو د هغو بېلابېلو د افادو لپاره د قافیې څو نور شکلونه په دې ډول (c,b او d ) وټاکل شول.

خو دا ټولې نښې نښانې د ښوونکي او محصلینو ترمنځ د یوې قراردادي وسیلې په توګه، د خپل مشکل د حل او شعري جوړښت د هندسي شکل د افادې په غرض استعمالېدې، نه د مطلقو ټاکل شویو هندسي نښو په توګه.

اوس هم دا نښې د یو ازمېښت او وړاندیز بڼه لري. د پښتو ژبې او ادب له درنو پوهانو او لیکوالو څخه په ډېره مینه هیله لرم، چې د پښتو شعر د هندسي ترسیم لپاره زموږ دا هیله پوره او بشپړه کړي؛ زموږ پر وړاندیز غور وکړي او په پای کې داسې یوه پایله لاسته راشي، چې د هغې په واسطه د دې امکان برابر شي، چې د پښتو شاعرۍ د بېلابېلو چوکاټونو هندسي رغښت، اسکلیټ او جوړښت ترسیم شي.

ketabton.com - The Digital Library

موږ به دلته لومړی پر هغو شعري چوکاټونو او د هغو پر هندسي جوړښت خبرې وکړو ، چې هغه له عربي څخه پښتو ته راغلي او دلته زموږ په ژبه کې دود دي او بیا به د پښتو پر نورو شعري فورمونو او زموږ د ولسي شاعرۍ پر شعري فورمونو رڼا واچول شي.

ketabton.com - The Digital Library

# لومړی څپرکی

# ګڼ شعري فورمونه

## ۱- غزل:

په پښتو شاعرۍ کې غزل یو له هغو شعري چوکاټونو څخه دی، چې ډېر عام مقبولیت لري. د پښتو اکثرو شاعرانو د غزل په فورم کې زیات قلم چلولی دی. په همدې وجه خو غزل په پښتو کې د ځینو نورو شعري فورمونو په اندول زیات ظرافت او لطافت ته رسېدلی دی. د غزل ښکلا او ظرافت په دې نور هم زیات شول، چې دې فورم ته د پښتني چاپېریال زیاتې انځورنې وردننه شوې، ځوانو پښتنو شاعرانو ته هم غزل داسې یو فورم دی، چې د دوی قلم په کې ښه ازمېښت کولای شي. اکثره ځوان شاعران په همدې فورم کې خپل وزن ښه پوخ کړي، پر قافیې، ردیف، څپو او د نظم پر ځینو نورو توکو ځان واکمن کړي، نو بیا نورو شعري فورمونو ته مخه کړي. پخوا به د غزل په فورم کې هغه مسایل راتلل، چې په ټولیزه ډول یې غنایي او عشقي مسایل په خپله غېږه کې رانغاړل، وروسته بیا د غزل ځولۍ د ژوند له نورو رنګارنګ ګلونو ډکه شوه او اوس غزل تر دې بریده رسېدلی، چې په یوه مسره کې یې ناخوالې او په بله کې یې د ژوند د خوږو رنګارنګي بیانېدی شي.

ketabton.com - The Digital Library

په پښتو کې لومړنی شاعر چې دې شعري فورم ته يې پښتني شال ور په سر کړ، هغه لوی خان خوشال بابا و، چې د غزل په يوه مسره کې يې توره او بله کې زلفې وځلولې:

تـــوره چـــې تـېرېـږي خو ګوزار لـره کـه نه
زلفې چې ول ول شي خو خپل يار لره کنه(۴)

د غزل د دومره عام مقبوليت او زيات استعمال يوه وجه شايد همدا وي، چې د يو مانيز پيوستون او تسلسل ترڅنګ د غزل هر بيت په اصطلاح ځانته پاچا دی او په ځانګړي او خپلواک ډول ډېر درووند مانيز بار پورته کولای شي.

غزل لکه چې له نامه څخه يې ښکاري عربي کلمه ده او له همدې ژبې څخه پښتو ته دا فورم راغلی دی. له مانيز پلوه نورو هغو شعرونو ته، چې غزليز، عشقي يا غنايي مانيز بار لېږدوي، هم غزل ويل کېدی شي، خو د فورم له پلوه بيا غزل ځانګړې بڼه او شکل لري.

غزل معمولاً هغه شعري چوکاټ ته وايي، چې مطلع ولري، يانې د سربيت يې اکثراً مقفی وي او د بل هر بيت دويمه مسره يې قافيه ولري او د مطلعې قافيه تعقيب کړي، د بيتونو شمېر يې له (۵-۱۵) بيتونو پورې وي. د څپو شمېر يې معمولاً سره برابر وي. په ځينو خاصو غزلو کې کېدی شي د غزل هغه مسرې چې قافيه نه لري، يوه څپه تر قافيه والو مسرو څخه زياتې شي. په پښتو کې له ۷ څپيز

ketabton.com - The Digital Library

څخه نیولې بیا تر ۱۵ څپیزو پورې غزلونه شته. قافیه په غزل کې اساسي توک دی، خو ردیف اختیاري دی.

هر کله که په مطلع کې تر قافیې څخه وروسته ردیف راوړل شو ، د همغه ردیف راوړل په ټولو قافیه لرونکو مسرو کې حتمي ګڼل کېږي. په پښتو شاعرۍ کې د غزل فورم دا لاندې بڼې لري:

**۱- بې ردیفه غزل:**

هغه غزل دی، چې ردیف ونه لري او پر قافیه پای ته رسېدلی وي. لکه د پیرمحمد کاروان دا غزل:

په غرونو کې نښتر وي او په کلي کې چنار
په زړه کې مګر ځانګې ځانګې وغځېږي یار

زلمي زلمي خوبونه دې په غېږه کې شیندم
که وخت دې چېرته وغځوي ګونځې په رخسار

په سر کې لکه غر یو سي ګلونه د جلال
له کوم سر نه چې ول تاو شي د دار لکه دستار

ketabton.com - The Digital Library

راوغځـــوه لاس لکـــه د کوچـــو غونـــدې ســـپين
د تـــورو وينـــو ډک زړګـــی مـــې دی پرهـــار پرهـــار

اعجـاز دی د نغمـو ګنـې نـو څنګـه بـه يـې وړای؟
دا درونـد د غمـو بـار پـه نـري تـار تـار د سـتار

بېګـاه مـې تـوتکۍ جـوړې جـوړې پـه خـوب ليـدې
کېـدی شـي ګـډ شـم نـن د تـورو سـترګو پـه بـازار

نـن خونـد کـوي چې سـور سـالو اور بـل کـړي پـر ګـودر
پـرون خونـد کـړو اورونـو د روسـانو پـر کتـار

ورځـــه ورپســـې راولـــه شـــبنم غونـــدې طبيـــب
غـزل دې شـو کاروانـه د نـرګس غونـدې بيمـار(۵)

د پـورتني غـزل هـره مسـره ۱۴ څپـې لـري: چنـار، يـار، رخسـار، دستار، پرهار، بازار، کتار او بيمار يې د قافيې کلمې دي.
رديف نه لري. ددې غزل هندسي جوړښت په دې ډول دی:

a_________________________

ketabton.com - The Digital Library

a______________________________

______________________________

a______________________________

______________________________

a______________________________

______________________________

a______________________________

______________________________

a______________________________

______________________________

a______________________________

______________________________

a______________________________

______________________________

a______________________________

په پښتو کې لومړۍ معلومه او لاسته راغلې منظومه ژباړه هم د غزل له فورم سره سمون خوري. د پټې خزانې په حواله ابو محمد هاشم ابن زيد السرواني په (۲۲۳-۲۹۷هـ) کې د يو عراقي شاعر محمد ابن خلاد يو شعر په پښتو ژباړلی دی(۲). د شعر پښتو منظومه ژباړه داده:

ketabton.com - The Digital Library

ژبه هم ښه وینا کاندي چې یې وینه
د خاوند په لاس کې زر او درهمونه

ژبور ورله ورځي وینا یې اوري
د درهم خاوندان تل وي په ویاړونه

که درهم یې ځنې ورک سو سي نتلی
پر نړۍ یې وي په خړو پېژندونه

که بډای سوښي وبولي خلک وایي
دا وینا ده رښتیانیه له رښتونه

که بېوزلی و وایي رښتیا خبره
نور و وایي دا خو سوښي دې تېرونه

هو درهم ښندي هر چاله لویه برخه
د درهم د خاوند هر ځای پرتمونه

ketabton.com - The Digital Library

درهـــم ژبـــه ده کـــه خـــوک ژبـــور کېـــږي
ده وسله که خوک پـرې کاندي قتالونـه(۷)

د پورتني شعر هره مسره ۱۲ خپې لري (وینه، درهمونه، ویاړونـه، پېژندونه، ربتونه، تبرونه، پرتمونه او قتالونه) یې د قافیې کلمې دي، ردیف نه لري. هندسي شکل یې دادی:

a____________________________
a____________________________

____________________________
a____________________________

____________________________
a____________________________

____________________________
a____________________________

____________________________
a____________________________

____________________________
a____________________________

____________________________
a____________________________

**۲- ردیف لرونکی غزل:** د غزل د فورم هغه بڼه ده، چې د قـافیې ترڅنګ ردیف هم ولـري. ردیـف هغـه یـوه یـا څـو کلمـې دي چې تـر

ketabton.com - The Digital Library

قافيې څخه وروسته په يوه شکل او تر ډېره زياته حده په يوه مانا تکرار راځي، دا غزل وګورئ:

د وخـت سـالار زمـا تربـور دی اشـنا
دا نـوم مـې ځکـه د منصـور دی اشـنا

د مغولـــوالې انتهـــا نـــه ښـــکاري
د وخـت خوشـال پـه رنتبـور دی اشـنا

د اټـک پلـه نـه د امـو تـر غـاړو
د زړه وطـن مـې ټـول چـور چـور دی اشـنا

سـتا د نظـر پـه تعويـذو بـه رغـې
ژونـدون مـې تـا پسـې رنځـور دی اشـنا

هغـه چـې تـه بـه يـې ټکـور تـه راتلـې
د زړه ټـپ هغســې ناسـور دی اشـنا

ketabton.com - The Digital Library

لـــوګی لـــوګی دي بېکســـيار لـــه کتـــو
درتلی چې نه شي بس مجبور دی اشنا(۸)

د پورتني غزل هره مسره ۱۱ څپې لري. تربور، منصور، رنتبور، چور، انځور، ناسور او مجبور، په کې د قافيې کلمې دي. (دی اشنا) (دی اشنا) چې تر ټولو قافيو وروسته په يوه شکل او يوه مانا تکرار راغلي، رديف ګڼل کېږي.
د پورتني غزل هندسي بڼه داده:

=a____________________________
=a____________________________

____________________________
=a____________________________

____________________________
=a____________________________

____________________________
=a____________________________

____________________________
=a____________________________

____________________________

ketabton.com - The Digital Library



ددې شکل بله بېلګه داده:

دا چې ځړېږي مخامخ درته په دار سرونه
په دې وطن کې بس همدغه وو د کار سرونه

وږي يې هسې هم غاصب همېشه وړي په زوره
کاشکې دا ځل زموږ غنم وکړي د مار سرونه

زه خو د مينې ارمانجن وم ما خو زړونه غوښتل
کړل دې د عقل طرفدارو راشمار سرونه

د سپينو ستورو په ليدو شي فرښتې راياد دې
دا سې ښکارېږي لکه وي چې يې هوار سرونه

تر سرېتوب د زړو قدر يو په زره زيات شو
دروېشه نن سبا واړه شول تر دينار سرونه(٩)

ketabton.com - The Digital Library

د پورتني غزل هره مسره ۱۵ څپې لري. (دار، کار، مار، راشمار، هوار او دينار) يې د قافيې کلمې دي. (سرونه، سرونه) په کې رديف دی.

**۳- دوه قافيز غزل:** دا هغه ډول غزل دی، چې دوه بېلابېلې قافيې ولري. مانا دا چې د دوو مسرو د پای تر قافيې څخه دمخه او يا د مسرو په منځ کې بله قافيه موجوده وي. په مطلع کې دوه بېلابېلې قافيې موجودې وي. د نورو مسرو قافيې د مطلعې خپله خپله قافيه تعقيبوي، که چېرې تر هرې قافيې وروسته رديفونه راغلي وي، نو تر هرې تعقيبوونکې قافيې څخه وروسته د هغې خپل رديف هم په همغه بڼه تکرارېږي. لومړی به دلته هغه بېلګه راوړو چې څنګ په څنګ قافيې ولري:

کـه يـم ډېـر د حوادثـو پـه کشـال شـل
خـو درځـم کـه مـې رهبـر شـه باکمـال مـل

تـا چـې څـوان د دلبـرۍ د کـرم عـام کـړ
درتـه جـوړ شـو د عاشـق غريـب د سـوال ول

معشـوقه چـې د جبـين غوټـه خـوره کـه
د عاشـق د خـاطر غوټـه شي فـی الحـال حـل

ketabton.com - The Digital Library

د جفـا وفـا سـودا پـه خپـل اختيـار کـه
د خوبـانو پـه دربـار کـې دی دلال لـل

اوښـکې تېـل صـبر پنبـه لـري اور مينـه
بـاري خدای ج مـې چـراغ نـه کـه د اقبـال بـل

د هنـر د چابـک سـوار لافـه کـه ماتـه
چې اسمان نيلي راواخلي د خپـل چـال چـل

خـو چـې وليـد شـي د مينـې پـه ورشـو کـې
رقيبـان کـه علـي خـان لکـه شـغال غـل(۱۰)

په پـورتني غـزل کې د کشـال، باکمـال، سـوال، فـی الحـال، لال، اقبال، چال او شغال، د لومړۍ قـافيې کلمې دي او (شل، مل، ول، حل، لل، بل، چل او غل) د دويمې قافيې کلمې دي. رديف نه لري.

هره مسره يې ۱۲ څپې لـري. د غـزل دا ډول پـه پښـتو شـاعرۍ کې دومره باب نه دی. په پخوانيو ديوانو کې يې ښېلګې شته. هند سي شکل او جوړښت يې دا دی:

ba________________________

ketabton.com - The Digital Library

ba___________________________

___________________________
ba___________________________

___________________________
ba___________________________

___________________________
ba___________________________

___________________________
ba___________________________

___________________________
ba___________________________

___________________________
ba___________________________

د دوه قافیه ییزو غزلو بل ډول دادی، چې لومړی قافیه د مطلعې د مسرو په منځ کې راځي، ورپسې بیا ردیف راځي، ورپسې بیا بله قافیه او بیا ورپسې ردیف. د مطلعې هره قافیه ځانته ځانته ردیفونه او ځانته ځانته قافیې لري، یانې دا چې د وروسته مسرو قافیې، په مطلع کې راغلې قافیې تعقیبوي. لکه د اسحق ننګیال دا غزل:

## خیبري تنده

ketabton.com - The Digital Library

تول عمر درنه ده سپکېدو ته يې چې پرې نږدئ
خاوره پښتنه ده او پردو ته يې چې پرې نږدئ
پرېږده خيبري تنده چې بيا په وينو ماته شي
ګرمه معرکه ده سړېدو ته يې چې پرې نږدئ
سره چې وړي اورونه په کمڅو کې د پښتو ناوې
ښه ده چې لمبه ده لوګېدو ته يې چې پرې نږدئ
زلفو د جانان ته چې څو سرې وينې غوټۍ نه شي
لاره تکه سره ده وچېدو ته يې چې پرې نږدئ
نن مې د خوشال توره چې بيا هوس د شرنګ لري
تاوه په شرنګ ښه ده چوپېدو ته يې چې پرې نږدئ
ګورئ چې اسمان کې وربځ د ستورو د لار پل وهي
ورځ خو لا اوږده ده تورو شپو ته چې يې پرې نږدئ
وړې يې چې غرور ته ثريا په جام د سترګو کې
نبغه مو شمله ده کږېدو ته يې چې پرې نږدئ(۱۱)

دا غزل دوه قافيې او دوه رديفونه لري. په لومړۍ قافيه کې (درنه، پښتنه، معرکه، لمبه، سره، ښه اوږده او شمله) د قافيې کلمې دي. (ده، ده) يې رديف دی او په دويمه قافيه کې (سپکېدو، پردو، سړېدو، لوګېدو، وچېدو، چوپېدو، شپو او کږېدو) د قافيې کلمې دي. (ته يې چې پرې نه ږدئ، ته يې چې پرې نه ږدي) يې رديف دی. ددې غزل هندسي جوړښت داسې انځورېدی شي:

=b ____________________ =a ____________

=b ____________________ =a ____________

________________________________

=b ____________________ =a ____________

________________________________

=b ____________________ =a ____________

________________________________

=b ____________________ =a ____________

________________________________

=b ____________________ =a ____________

________________________________

=b ____________________ =a ____________

________________________________

=b ____________________ =a ____________

**۴- ماته غزل:** (ماته غزل) ورته ځکه وايي چې په منځه ملا کې يې د هرې مسرې په منځ کې د اهنګ يوه وقفه راځي. په همدې منځ کې د څپو د شمېر له مخې هر مسره پر دوو مساوي برخو وېشل کېږي، لکه په لاندې غزل کې چې (ګوره د زخمو غوټۍ) د مسرې لومړۍ برخه او (څاڅي مې له سترګو نه) د مسرې دويمه برخه ده. کله کله د اهنګ دا وقفه تر قافيې وروسته راځي او کله د رديف يوه



ketabton.com - The Digital Library

ketabton.com - The Digital Library

برخه هم ورسره نیسي او بیا تر هغه وروسته وقفه او بیا نور ردیف راځي. دلته به ددې ډول غزل یوه بېلګه وړاندې شي:

## د تصور څپې

ګـورم د زخمـو غـوټۍ څـاځي مـې لـه سـترګو نـه
یـار تـه د کمڅـو غـوټۍ څـاځي مـې لـه سترګو نـه
نـن چـې دا تیـارې کـوڅې ټـولې دي بـاغچې بـاغچې
جـام جـام د سـپرلو غـوټۍ څـاځي مـې لـه سترګو نـه
پرېوتـــل لـــه شـــونډو مـــې ســـتا د اننګـــو ګـــلان
ګرانـې د نشـو غـوټۍ څـاځي مـې لـه سـترګو نـه
مات مې شو د صبر جام ښکل مې کړه مینو شه خوله
مـاتې د توبـو غـوټۍ څـاځي مـې لـه سـترګو نـه
او ښـــکه د لیمـــو د بـــاغ رغـــړې دې قـــدم پســـې
ګـوره د اسـرو غـوټۍ څـاځي مـې لـه سـترګو نـه
اورې د ننګیـــال پـــر ســـر ســـتا د تصـــور څپـــې
راغلې د خیالو غوټۍ څاځي مې له سترګو نه (۱۲)

ketabton.com - The Digital Library

په پورتني غزل کې (زخمو ، کمثو ، سپرلو ، نشو ، توبو ، لېمو او خيالو ) د قافيې کلمې دي. (غوتۍ ثاثي مې له سترګو نه ) يې رديف دی. هره مسره يې **۱۴** ثپې ده. هندسي شکل يې دا دی:

= /a
= /a

/
= /a

/
= /a

/
= /a

/
= /a

/
= /a

**۵- بې مطلعې غزل:** هغه غزل دی، چې يوازې مطلع نه لري، يانې د سر لومړی بيت يې مقفي نه وي. د لومړي بيت دويمه مسره يې قافيه لري او د نورو بيتونو د دويمو مسرو قافيه يې د لومړي بيت د دويمې مسرې قافيه تعقيبوي. که چېرې د لومړي بيت د

ketabton.com - The Digital Library

دويمې مسرې تر قافيې وروسته رديف راغلى وي، نو د نورو قافيه والو مسرو رديفونه هم همدا بڼه لري.

په پښتو لرغونې شاعرۍ کې د شيخ رضى لودي او نصر لودي ترمنځ شوى شعري سوال او ځواب هم له همدې فورم سره ورته والى لري. د دې فورم يوه بېلګه داده:

## هيله

چې خزان وهلى بڼ يې سور او شين کړم
د خيالونو دنياګۍ ته مې نن راشه

د ګيلو مانو په شونډو ګوتې کېږده
درواری شمه يوه شېبه پخلا شه

چې غوټۍ زما دهيلو پې ساه واخلي
په سره ځله کې پرخه د سبا شه

ketabton.com - The Digital Library

چې د مړاوو خاطرو سترګې يې ښکل کړم
پـه ترخـو شـونډو مـې يـو واريې موسـکا شـه

د رنتبــور د شــپو دردونــه مــې هېرېــږي
د غـــزل ذهـــن تـــه ننـــوزه ســـاه شـــه

پـــه ټپونـــو مـــې پټـــې د مينـــې کېـــږده
يـــوه هيلـــه ده پوښـــتنې لـــه مـــې راشـــه

وينـې (څـه وي) پـه کـې نـه شـته دي ګيلـې دي
د پيونـد سـپېرو زخمونـو لـه دوا شـه(۱۳)

په پورتني شعر کې (دا، پخلا، سبا، موسکا، ساه، را او دوا) د قافيې کلمې دي، (شه، شه) يې رديف دی. هندسي بڼه يې داده:

______________________________
=a______________________________

______________________________
=a______________________________

ketabton.com - The Digital Library

________________________________
=a_______________________________

________________________________
=a_______________________________

________________________________
=a_______________________________

________________________________
=a_______________________________

________________________________
=a_______________________________

## ۲- څلوریزه (رباعي):

رباغي هم هغه شعري فورم دی، چې له عربي څخه پښتو ته راغلی دی. دا فورم څلور مسرې لري، له ځینو استثنایي حالاتو پرته چې په هغه کې کېدی شي د درېیمې مسرې یوه څپه د قافیه والو مسرو تر څپو کمه یا زیاته شي، په ټولیزډول د ټولو څلور واړو مسرو د څپو شمېر سره مساوي وي. د رباعي لومړی بیت مقفی وي، درېیمه مسره یې قافیه نه لري او د څلورمې مسرې قافیه

ketabton.com - The Digital Library

يې د مطلعې قافيه تعقيبوي.د غزل په شان په څلوريزه کې هم رديف اختياري وي، خو کله چې د رباعي په مطلع کې رديف راوړل شو څلورمه مسره کې به ضرور بيا هماغه رديف تکراريږي.

په پښتو کې د بېلابېلو څپو په شمېر رباعي ويل شوي، خو لس څپيزې څلوريزې په کې زياتې دي. دا رباعي اکثره په تول تللې دي. هغه رباعي چې لس څپيزې دي، هره مسره يې دا هنگ له مخې تقريباً پر دوو برخو وېشل کېږي. پنځه څپې يې يوه خوا او پنځه يې بله خوا په تول تللې وي.

د لوی خان (خوشال بابا ) هغه رباعيات چې د يو ځانگړي کتاب په بڼه د (خوشال رباعيات) په نوم د پښتو ټولنې له خوا چاپ شوي او شمېر يې تقريباً (۱۵۰۰) رباعياتو ته رسېږي، تقريباً په سلو کې **۸۵** څلوريزې يې لس څپيزې دي.

پر اوسني وخت د څلوريزو بل بشپړ کتاب چې زموږ په لاس کې دی، هغه د (پسته اور ) په نوم د هېواد د نوميالي شاعر محمد صديق پسرلي د څلوريزو مجموعه ده. په دې اثر کې څه کم (يوزر ) څلوريزې راغلي، چې ټولې لس څپيزې دي. د استاد قيام الدين خادم اکثره څلوريزې هم لس څپيزې دي.

يوه بله خبره چې د رباعي يا څلوريزو په باب د ياد وړ ده، هغه داده، چې عام ولس او په ځانگړي ډول ځينې سندرغاړي رباعي هغه ډول شعر يا نظم ته وايي چې معمولاً د پند، نصيحت او اخلاقي مسايلو په باب ويل شوي وي او په موسيقۍ کې يې

ketabton.com - The Digital Library

سندرغاړي تر غزل او يا کومې بلې سندرې د مخه وايي او په همدې موقع کې د اورېدونکو د ذهن پاملرنه ځانته راجلبوي. دلته يوه تېروتنه رامنځته کېږي؛ هغه دا چې اکثره سندرغاړي تر اصل غزل او سندرې د مخه کم شعر لولي هغه اکثره د مانا د انتخاب له مخې وي، نه د فورم له مخې. څرنګه چې په رباعي کې هم ډېر زيات اخلاقي، ديني، او نور مسايل راځي، نو دوی اکثره هغو شعرو ته چې دا موضوعات په کې بيان شوي وي، هغو ته رباعي وايي، سره له دې چې که د فورم له مخې هغه غزل هم وي. دلته د دې يادونه په کار ده، چې دا رباعي يا څلوريزه هغه رباعي نه ده، چې عام ولس يا سندرغاړي يې په کومه مانا او بڼه استعمالوي.

څلوريزه يا رباعي دا لاندې بڼې لري:

۱- هغه رباعي چې رديف نه لري، لکه د استاد خادم دا څلوريزه:

که دا غفلت وي پښتو ورکېږي
چې پښتو لاړه پښتون ډوبېږي

تللي خو تللي دي خير به غواړو
په پاتې قام مې اوس زړه رپېږي(۱۴)

په پورتنۍ څلوريزه کې (ورکېږي، ډوبېږي او رپېږي) د قافيې کلمې دي. رديف نه لري، هره مسره لس لس څپې لري. هندسي شکل يې دا دی:

a________________________

ketabton.com - The Digital Library

a__________________________

__________________________
a__________________________

بله بېلګه:

د مــار کــه نــه وي پــه تــن کــې زهــر
ســـردار کـــه نـــه لـــري خنجـــر د قهـــر

دا دواړه توکـــه بـــه زمـــا پـــه پوهـــه
نـه یـاد پـه کلي وي نه یـاد پـه شـهر(**۱۵**)

په دې رباعي کې (زهر، قهر، شهر) د قافيې کلمې دي. رديف نه لري، هره مسره لس لس څپې لري.

**۲**- هغه ډول رباعي يا څلوريزې دي، چې تر قافيې څخه وروسته رديف هم لري.

دا لاندې څلوريزې وګورئ:

تـــن بـــه تـــاوان وای کـــه مینـــه نـــه وای
ژونـد بـه حیـوان وای کـه مینـه نـه وای

ketabton.com - The Digital Library

انســــان بــــه ځــــه و د لارې دوړه
جهـان بـه وران وای کـه مینـه نـه وای(۱۲)

په پورتنۍ څلوريزه کې (تاوان، حيران، او وران) د قافيې کلمې دي. (وای که مينه نه وای) يې رديف دی. هره مسره لس څپېزه ده او د پښتو د اکثرو څلوريزو په شان، هره مسره په منځـه ملا کې نيمايي کېږي او تر لږې لفظي وقفې وروسته يې دويمه برخه لوستل کېږي، دوه نورې بېلګې يې دادي:

د باطـــل زړه کـــې خطـــر پيـــدا شـــو
تيـــارې بـــوګنېږي ســـحر پيـــدا شـــو

ضـــمير موســـکی شـــو د انســـانانو
سـترګې پيـدا شـوې نظـر پيـدا شـو(۱۷)

❋❋❋

پـــه تـــوره شـــپه کـــې شـــمعه رڼـــا کـــا
مـــاوې: مـــاتم کـــا مـــاوې ژړا کـــا

ketabton.com - The Digital Library

کــــه پتنګـــان دي ســـتي ايـــرې شـــول
مـاوي: پاکـان دي عشـق او وفـا کـا (۱۸)

هندسي شکل يې:

=a
=a

=a

## ۳- قطعه:

قطعه هم په هغو فورمونو کې راځي، چې له عربي ژبې څخه راغلي او په پښتو شاعرۍ کې باب شوي دي. قطعه لکه د څلوريزې (رباعي) په شان څلور مسرې لري، خو له رباعي څخه يې تفاوت دا دی، چې په رباعي کې لومړی بيت مقفی وي يانې دواړه مسرې يې سره قافيې لري او يوه شان قافيه تعقيبوي او د دويم بيت دويمه مسره ورسره هم قافيه وي، خو په قطعه کې د لومړي بيت لومړۍ او د دويم بيت لومړۍ مسرې له قافيې نه ازادې وي او د دواړو بيتونو دويمې مسرې په خپل منځ کې يو شان قافيه جوړوي. قطعه هم په دوو ډولو ده:

۱- هغه قطعه چې رديف نه لري لکه:

بیا د میو جام به مات کړم
چې ځواني شي زما تېره

په ځوانۍ کې ګناه خوند کړي
په پیرۍ کې تقوا ډېره(۱۹)

۲- هغه چې ردیف لري لکه:

د احساس دوزخ کې اوسم
په ارمان د یو جنت کې

مساوات دې بر ملا شي
شي انسان دې په عزت کې(۲۰)

هندسي جوړښت یې په دې ډول دی:

____________________
a____________________
____________________
a____________________

بل شکل:

____________________
=a____________________
____________________

ketabton.com - The Digital Library

کله کله ځینې لوستونکي، سندرغاړي او ان لیکوال (رباعي او قطعه) دوه بېلابېل شعري فورمونه یو بل سره مطالعه کوي، (څلوریزې) ته (قطعه) وایي او (قطعې) ته څلوریزه. دوی په دې تېروزي چې د دواړو د مسرو شمېر سره برابر دی، نو فکر کوي چې دواړه به یو شان وي. دې کې شک نه شته چې د مسرو شمېر یې سره برابر دی، خو د رباعي یا څلوریزې ټول بیت ضرور مقفی وي، یانې دواړه مسرې یې یو شان قافیه لري، خو د قطعې لومړی بیت مقفی نه وي. البته د لومړي بیت دویمه مسره یې قافیه واله وي، چې د دویم دویمه مسره هم همدا قافیه تعقیبوي. د اهنګ له پلوه هم دا دواړه شعري فورمونه توپیر لري.

## ۴- بولله (قصیده):

قصیدې ته په پښتو کې (بولله) وایي. خپله قصیده عربي کلمه ده. په لغت کې (قصد کړای شوي) ته وایي. په عربي اصطلاح کې هغه شعر و چې د بیتونو شمېر به یې تر ۱۲ یا ۱۷ کم نه و او دا نوم د قصد له مصدره جوړ شو، چې معنا یې استقامت او اتصال، سموالی، برابري او سوچه توب وو(۲۱).

دا هغه شعري فورم دی، چې د غزل په شان د سر لومړی بیت یې مقفی وي. د نورو بیتونو د هر بیت دویمه مسره یې قافیه ولري او د مطلعې قافیه تعقیب کړي. قصیده په شکل او جوړښت کې له غزل سره چندان توپیر نه لري، توپیر یې دا دی، چې د غزل د بیتونو

ketabton.com - The Digital Library

شمېر له ۵ څخه تر ۱۵ پورې وي او د قصيدې بيا له ۱۲ څخه تر دوو سوو يا تر دې هم زياتو بيتونو پورې دی. پخوانی قصيدې له مانيز پلوه هره يوه اکثره پر درېو برخو وېشل شوې دي:

د قصيدې لومړۍ برخې ته تغزل يا تشبيب وايي چې په هغې کې شاعر تر اصلي موضوع دمخه د طبيعت ستاينه کوي. د قصيدې دويمه برخه د هغې اصلي موضوع ده. دا برخه له تغزل يا تشبيب نه وروسته پيلېږي او په دې کې شاعر د خپل ممدوح ستاينه کوي. د قصيدې درېيمه برخه دعائيه بولي چې په هغې کې شاعر د خپل ممدوح لپاره د خدای(ج) له دربار نه د ښېنې او هوساينې غوښتنه کوي.

په اوسنيو قصيدو کې پورتني نورمونه چندان په پام کې نه نيول کېږي. د غزل او ځينو نورو شعري فورمونو په شان، په قصيده کې هم رديف اختياري دی، خو که مطلع کې راوړل شو، نو په نورو دويمو مسرو کې يې راوړل حتمي کېږي. قصيدې دوه شکلونه لري، يو هغه ډول دی، چې رديف نه لري او بل هغه ډول دی، چې رديف ولري. د پښتو لومړۍ معلومه لاسته راغلې قصيده په هغه شکل کې راځي چې رديف نه لري. هغه قصيده دا ده:

د فلک له چارو څه وکړم کوکار
زمولوي هر ګل چې خاندي په بهار
هر غټول چې په بيديا غوړېده وکا

ketabton.com - The Digital Library

ربــږوي يــې پــاڼې کانــدي تــار پــه تــار
ډېــر مخونــه د فلــک څپېــړه شــنه کــا
ډېــر ســرونه کــا تــر خــاورو لانــدې زار
د واکمــن لــه ســره خــول پرېباســي مــړ شــي
د بېوزلــو وینــې تــوی کانــدي خونخــوار
چې لــه برمــه يــې زمــري رپــي ځنګلــو کــې
لـــه اکوبـــه يـــې ډاري تيـــر و جبـــار
هــم يـــې غشـــي ســـکڼي ډال د ژوبلـــورو
رســـتمان ځنـــې ځغـــلا کانـــدي پـــه ډار
چې يــې مــلاوې نــه کړېــږي پــه غښــتليو
دا فلــک پــرې وکــا څــه کــاري ګــوزار
پــه يــوه ګردښــت يــې پرېباســي لــه برمــه
نــه يــې غشــی نــه لينــدۍ وي نــه يــې ســپار
څــه تيــری څــه ظلــم کانــدې ای فلکــه
ســتا لــه لاســه نــه دې هــېڅ ګــل بــې لــه خــار
پــه ويرژلــو لــور نــه کــړې پــه زړه کراړيــه !
پرنتليـــــو اوروې د غـــــم ناتـــــار
هــېڅ روغــی مــې پــه زړه نســته ســتا لــه څــوره

ketabton.com - The Digital Library

ببلـــوې پـــه ژړا ژړ مـــين لـــه يـــار
لــه تېريــو دې اوښــې څــاڅي لــه اوربځــو
چينــې ژاړي پــه ورتې ورتې ســتا لــه شــنار
نــه بــه لاس واخلــې لــه څــوره نــه بــه لــورې
نــه بــه مــلا كــړې لــه ببوزلــو لــه تــرار
نــه بــه زړه وســوځوې پــه هېڅــا بانــدې
نــه بــه پرېــوزې لــه ګردښــته لــه مــدار
نــه بــه وصــل كــړې مــين لــه بــل مينــه
نـــه بـــه درملـــې ټپونـــه د افګـــار
ســتا لــه لاســه دې پراتــه ژوبــل زګېــروي كــا
هــر پلــو تــه ټپــي زړونــه پــه څــار څــار
كلــه غــوځې كانــدې مرانــدې د زړګيــو
كلـــه تېـــر باســـې وګـــړي هوښـــيار
كلـــه ټكـــې واچـــوې پـــر نـــازوليو
كلــه خيــرې كــړې ګرېــوان د نمنځــې چــار
كلـــه غورځـــوې واكمـــن لـــه پلازونـــو
كلـــه كېنـــوې پـــه خـــاورو كـــې بـــادار
زمـوږ پـر زړونـو دې نـن بيـا يـو غشـی وويشـت

ketabton.com - The Digital Library

ودې ژوبلله په دې غشي هزار
پر سوريو باندې وير پرېووت له پاسه
محمد واکمن چې ولاړی په بل دار
يو وار شو اسير په لاس د ميرڅمنو
انتقال يې وکړ قبر له بل وار
په سماوو يې ودان اهنګران وو
په ټيکنه و پر درست جهان او ښار
د محمود د ژوبلو رو په لاس کښېوت
چې غزنه ته يې باتلی په تلوار
ننګياليو لره قيد مړينه ده ځکه
سه يې والوتله هسک ته پر دې لار
ترنړۍ يې غوره خاورې هديره کا
د زمريو په ببرېو کله وي څوار
په دې وير د غور وګړي تور نمري سول
په دې وير رڼا تياره سوله د ښار
ګوره ښاخي رڼې اوښې له دې غرونو
دا کړونګي ساندې لي په شورهار
نه هغه زرغا د غرونو د بېديا ده

ketabton.com - The Digital Library

نــــه د زرکيــــو پــــه موســـــا دی کتهـــــار
نـــه غتهـــول بيـــا زرغـــونېږي پـــه لاښـــونو
نـــه بـــامې بيـــا موســـېده کـــا پـــه کهســـار
نـــه لـــه غرجـــه بيـــا راځـــي کـــاروان د مشـــکو
نـــه رادرومـــي غـــور تـــه بيـــا جـــوپې د شـــار
د پســــــرلي اوره تـــــودې اوښـــــې توينــــــه
مرغلــــرې بـــــه نيســـــان نـــــه کـــــړي نثـــــار
دا پـــــه څـــــه چـــــې محمـــــد ولاړ لـــــه نړيـــــه
پــــه ويرينــــه يــــې ســــو غــــور تــــول ســــوګوار
نـــه ښـــکارېږي هغـــه ســـور د ســـور پـــه لتـــو
نــــه ځلېــــږي هغــــه لمــــر پــــر دې ديــــار
چـــې بـــه نجليـــو پـــه نخـــا پـــه کـــې خندلـــه
چـــې بـــه پېغلـــو کـــا اتـــڼ قطـــار قطـــار
هغــه غــور پــه ويــر ناتــار د واکمــن کښــېوت
هغـــه غـــور ســـو د جانـــدم غونـــدې ســـور اړ
لاس دې مـــات شـــه ای فلکـــه چـــې دې وکـــا
محمـــد غونـــدې زمـــری د مړينـــې ښـــکار
شـــين زړګـــی فلکـــه ولـــې لا ولاړ يـــې؟

ketabton.com - The Digital Library

ای د غــور غرونــو پــه څــه نــه شــوئ غبــار
مځکـــې ولـــې پـــه رپېږدلـــو نـــه پرېـــوزې
لانــدې بانــدې شــئ چــې ورک شــي دا شــعار
چــې زمــري غونــدې واکمــن ځــي لــه جهانــه
چــې څــوک نــه کــړي پــر نــړۍ بانــدې قــرار
ســـخ پـــه تـــا ای محمـــده د غـــرو لمـــر وې
پـــه نـــړۍ بـــه نـــه وي ســـتا د عـــدل ســـار
تـــه پـــر ننګـــه وې ولاړ پـــه ننګـــه مـــړ ســـوې
هـــم پـــر ننګـــه دې پـــه ننګـــه کـــا ځـــان جـــار
که سوري دې په تګ وير کاندي ويرمن سول
هـــم بـــه ويـــاړي ســـتا پـــه نـــوم ســـتا پـــه ټبـــار
پـــه جنـــت کـــې دې وه تـــون زمـــوږ واکمنـــه
هـــم پـــه تـــا دې وي ډېـــر لـــور د غفـــار (۲۲)

د شيخ اسعد سوري په دې قصيده کې (کوکار، بهار، تار، زار، خونخوار، جبار، دار، ګوزار، سپار، خار، ناتار، يار، شنار، ترار، مدار، افګار، ځار، هوښيار، چار، بادار، هزار، دار، وار، اوښار، تلوار، لار، څوار، ټبار، شورهار، کتهار، کهسار، شار، نثار، سوګوار، ديار، قطار قطار، سوراړ، ښکار، شعار، قرار، سار،

ketabton.com - The Digital Library

جار، تبار او غفار) د قافيې کلمې دي، رديف نه لري هره قافيه واله مسره يې ۱۱ څپې او بې قافيې مسره يې ۱۲ څپې ده.

هندسي شکل يې دادی:

a____________________________
a____________________________

_____________________________
a____________________________

_____________________________
a____________________________

_____________________________
a____________________________

_____________________________
a____________________________

_____________________________
a____________________________

_____________________________
a____________________________

_____________________________
a____________________________

_____________________________
a____________________________

ketabton.com - The Digital Library

____________________________
a___________________________

____________________________
a___________________________

____________________________
a___________________________

(ترپايه)

د ښکارندوی غوري لرغوني قصيده هم دا بڼه لري.

د قصيدې بل شکل دا دی، چې تر قافيې وروسته رديف هم ولري.

## د کابل زخمي سندرې

د زړه زخـم مـې د سـرې مـالګې کمـر دی
راختلـی پـرې د سـپينو اوښـکو لمـر دی

د کابـل زخمـي سـندرې يـې رانـه وړې
د باګرام (سـروش) لـه مانـه مـرور دی

ketabton.com - The Digital Library

د ښکلو او شونډو یاد هم رانه هېر دی
جوړ غزل مې له خنجر او له پرهر دی

د لمر پېغله د غربت زېړې نیولې
سپین سحر مو زېړ په شان د مازیګر دی

پر مریو مو بلا چړې شوې پخې
قصابان د کلي وایي چې اختر دی

چې په تبر د بتانو مغزي غوڅ کړي
چا وې مورکې هم پیدا زوی د اذر دی

مات کودري یې له تاندو وینو ډک دي
د شهیدو پېغلو څه رنګین ګودر دی

ما یې زړه او ربډه دی مې چغې نا وري
هو د کاڼو په غوږونو کوڼ خیبر دی

ketabton.com - The Digital Library

سپین لباس د پرښتو ابلیس اغوستی
جاهلان وایي وارث د پیغمبر دی

پوروړي یې د ژوند د سکو ډېر دي
زموږ کلي ته راغلی سوداګر دی

کوټنۍ د ماشومانو شهیدانې
پر ساحل راخور د وینو سمندر دی

کړې ړندې د تصویرونو مړو مړو اوښکو
تبدیلي له هنداړو نه جوهر دی

ماښوګان یې خرخوي پر نهنګانو
د بې نوحه بېړۍ څه سپېره لنګر دی

د حسین او ذوالجناح وینې مباح دي
دلته هلته دا بیان د هر شمر دی

ketabton.com - The Digital Library

هــر اغــزی رانــه د وینــو قلنــګ غــواړي
د تنهــاکو پــه پنهــو کــې مــو ســفر دی

بــې جرســه قــافلې تــه یــې جــرس کــړ
مــات مــې زړه کــې د ظــالم د غشــي ســر دی

څــه ســړه تــوده پېــرزو د یــار اغیــار ده
د یــو لاس کــې زمهریــر د بــل ســقر دی

ګرځــوم یــې در پــه در چېرتــه یــې کېــږدم
د ژونــدون د مــړي پېټــی مــې پــر ســر دی

د ژونــدون پــه هــدیره کــې یــې ایســار کــړم
یــو اشــنا راتــه نکیــر دی بــل منکــر دی

هــر دجــال دي د همــدي جــامې اغوســتې
پــه وطــن راغلــی بــې نښــې محشــر دی

ketabton.com - The Digital Library

پــــر ګلونـــو بـــاروتي خپســـې ناســـتې
د ورېمـــو پـــه لمبـــو لولپـــه ځيګـــر دی

يتــيم ژونـد ايســار د غشــو پـه سـيلۍ کې
تــاو لــه ځانــه يــې د زخــم ســور څــادر دی

د ايـــاز څڼـــې د ګـــور چينجـــي خـــوړلي
د محمــود دربــار بــې مشــکو بــې عنبــر دی

چـې لـه هند بـه يـې ورېمـې د چنـدڼ راوړې
د پښـــتون د طـــوطي مـــات هغـــه وزر دی

بيـــايې کـــړی دی اودس د چـــا پـــه وينـــو
چـــې خطـــاب يـــې د وژنـــې پـــر منبـــر دی

پـــه خلـــوت کـــې بـــه د تـــاک تيونـــه روي
پـــه جلـــوت کـــې ســـوی لـــوی د کـــوثر دی

ketabton.com - The Digital Library

د کــاروان د وطــن نــوم پــه وینــو لــیکم
مــا تراشــلی ورتــه روح لکــه مرمــر دی.(۲۳)

په دې قصیده کې (کمر، لمر، مرور، پرهر، مازیګر، اختر، اذر، ګودر، خیبر، پیغمبر، سوداګر، سمندر، جوهر، لنګر، شمر، سفر، سر، سقر، پرسر، منکر، محشر، ځیګر، څادر، عنبر، وزر، منبر، کوثر او مرمر) د قافیې کلمې دي. (دی، دی) یې ردیف دی. د شعر هره مسره ۱۲ څپې ده. جوړښت یې په دې ډول دی:

=a___________________________
=a___________________________

___________________________
=a___________________________

___________________________
=a___________________________

___________________________
=a___________________________

___________________________
=a___________________________

___________________________
=a___________________________

___________________________

ketabton.com - The Digital Library

=a___________________________

___________________________
=a___________________________

___________________________
=a___________________________

___________________________
=a___________________________

___________________________
=a___________________________

___________________________
=a___________________________

ترپایه...

## ۵- دوه یزه (مثنوي):

دوه یزه (مثنوي) هغه ډول شعري فورم دی، چې هر بیت یې په خپل منځ کې ګډه قافیه لري (مقفی وي)، د بیتونو شمېر یې ثابت نه دی. په ټولو قافیه والو شعري چوکاټونو کې مثنوي تر ټولو خلاص او لوی شعري فورم دی. شاعر کولای شي په دې شعري فورم کې خپل مقصد تر وروستي بریده بیان کړي، ځکه نو اکثره شاعران د لویو موضوعګانو د بیان په غرض دا فورم انتخابوي، لکه ابوالقاسم فردوسي چې د شاهنامې د لیکلو لپاره دا فورم وټاکه. په

ketabton.com - The Digital Library

مثنوي کې که شاعر په یوه قافیه کې له ستونزې سره مخ شي، نو بلې ته تللای شي. په مثنوي کې هر بیت ځانته قافیه لري، کېدی شي ځینې بیتونه یې ردیفونه ولري او ځینې یې ونه لري، خو د ټولو بیتونو وزن مشترک وي او د څپو شمېر یې سره مساوي وي. مانا دا چې مثنوي مقفی مشترک الوزنه او د مساوي څپو لرونکی فورم دی.

لکه د مخه چې مو یادونه وکړه په مثنوي کې کېدی شي ځینې بیتونه ردیف لرونکي وي او ځینې په قافیه ختم شوي وي، نو په دې صورت کې مثنوي دا شکل اختیاروي:

a___________________________
a___________________________

=b___________________________
=b___________________________

c____________________________
c____________________________

همداسې نور بیتونه

او یا هم دا شکل:

=a___________________________
=a___________________________

b___________________________
b___________________________

ketabton.com - The Digital Library

c________________________________
c________________________________
او همداسې نور بيتونه

دلته به د مثنوي يوه بېلګه راوړو:

## ته به راغلې

پــه ســترخوان بــه مــې پرتــه وچــه ډوډۍ وه
بــل څــه نــه وو همېشــه وچــه ډوډۍ وه

ماشــومان مــې وو زلخــوړي او خــوا تــوري
شــول پيکــه يــې د مخونــو روښــان ســتوري

مــا ويــل چــې بــدلوم بــه دغــه حــال زه
ټولــوم بــه پــه څــه توګــه زر او مــال زه

يــوه شــپه بيــا تــوره شــپه وه ډېــره تــوره
زه پــه غــلا پســې روان ومــه لــه کــوره

ketabton.com - The Digital Library

چې له ورایه څه رڼا په نظر راغله
یو طرف ته خېمه ستا په نظر راغله

چې خېمې ته در دننه شوم ژړا وه
ګډه ستا په ماشومانو یو غوغا وه

سو ځېدل واړه له لوږې په سره اور کې
د خوړلو هېڅ شی نه و ستا په کور کې

بس یو دېګ و ستا و مخته په اور باندې
ایشولې دې په دغه دېګ کې سپاندې

ماشومان دې تېر ایستل په دې خبره
( چې کتغ دی پخېدونکی ژر تر ژره

د یو څه ساعت لپاره صبر وکړئ
بیا به واړه خپل ځانونه پرې ماړه کړئ )

ketabton.com - The Digital Library

زمـــا زړه کبـــاب پـــه دغـــه ننـــداره شـــو
ځـــان لـــه دې کبلـــه ټيـــټ راتـــه ښـــکاره شـــو

چـــې پـــه کـــور کـــې مـــې پرتـــه ســـپينه ډوډۍ وي
پـــه ســـترخوان مـــې همېشـــه ســـپينه ډوډۍ وي

خـــو د شـــکر ســـبق بيـــا هـــم لـــه مـــا هېـــر شـــو
فـــرق د حـــق او نـــاحق بيـــا هـــم لـــه مـــا هېـــر شـــو

پـــــر ازغنـــــه لاره بانـــــدې مـــــې ســـــفرو
ســـور د ييلـــو پښـــو پـــه وينـــو مـــې هـــر پـــلو

لـــرې ځـــاى تـــه ومـ روان لـــه لـــرې ځايـــه
ګلـــه مـــن ومـــه پـــه دې ســـبب لـــه خدايـــه

چـــې د پښـــو څپلـــۍ يـــې هـــم نـــه وې راکـــړې
تـــودې ځمکـــې مـــې وې دواړه تلـــې وړې

ketabton.com - The Digital Library

په شــــنه زړه مــــې پــــرې کولــــه اوربده لاره
پــــه عــــذاب ومــــه د ژونــــد لــــه درانــــه بــــاره

زړه مې غوښت چې زياتې ساه اخيستل بس کړم
مــات د ژوند دا زنــګ خــوړلى شــان قفس کــړم

خــو چــې ځــان مــې جــوړاوه و دغــه کــار تــه
هغــه وخــت وم نــږدې شــوى يــوه ښــار تــه

ددې ښــــار پــــه دروازه شــــوم وردننــــه
د ارام پــــه اراده شــــوم ور دننــــه

چــې يــو څــو قدمــه لاړمــه پــه وړانــدې
برابــرې مــې شــوې ســترګې پــه تابانــدې

پــه څکېــدو وې را روان زمــا پــه لــورې
پــه بــدن دې وو لاســونه او ســر پــورې

ketabton.com - The Digital Library

مګـــر ښـــې دې ګـــوره چـــاوې قلـــم کـــړې
نـــیم ورنونـــه دې وو پـــاتې نـــیم یـــې وړې

زمـــا زړه کبـــاب پـــه دغـــه ننـــداره شـــو
زمـــا حـــال خـــراب پـــه دغـــه ننـــداره شـــو

مـــا ویـــل چـــې لـــه څپلیـــو یـــم بیـــزاره
یبلـــې ښـــې مـــزل کـــولای شـــم پـــه لاره

ښـــادی نـــه غـــواړم لـــه پاکـــه خدایـــه نـــورې
زمـــا ښـــې دې وي زمـــا پـــه جســـم پـــورې

پـــر مـــا بانـــدې همغـــه عجیبـــه وخـــت و
شـــپه او ورځ بـــه مـــې پـــه سر کـــې خیـــال د تخـــت و

پـــه دې نیـــت مـــې ټـــولې کـــړې وې لښـــکرې
مســـت اســـونه تېـــرې تـــورې کلکـــې زغـــرې

ketabton.com - The Digital Library

چې په زور د چا تخت ونيسم باچا شم
په دې توګه به تر هر چا سر بالا شم

هر يو لاس به ماته پورته په سلام وي
هر يو سر به ماته ټيټ په احترام وي

خو تر دې خبره وړاندې چې روان شم
په وطن د چا ورګډ لکه توپان شم

ته مې وليدې چې ټول په اوښکو لوند وې
در په دره وې په دواړو سترګو ړوند وې

خپله وبره پاچاهي دې وه بايللې
د وطن حکمراني دې وه بايللې

هر څه هر څه وو خپل ورور له تا اخيستي
تاج و تخت يې و په زور له تا اخيستي

ketabton.com - The Digital Library

پــه دې خيــال چــې بيــا د تخــت دعــوه ونــه کــړې
پـــه ده بانـــدې دوبـــاره حملـــه ونـــه کـــړې

ســتا لــه ســره يــې ســتا ســترګې وې ايســتلې
پـــه ډبـــره يـــې ســـتا ســـترګې وې ايســـتلې

زمـــا زړه کبـــاب پـــه دغـــه ننـــداره شـــو
زمـــا حـــال خـــراب پـــه دغـــه ننـــداره شـــو

مـا ويـل داسـې منصـب دې خـدای ميـرات کـړي
چــې د ســر دښــمنان دومــره د چــا زيــات کــړي

چــې خپــل ورور يــې هــم کــار اخلــي لــه خنجــره
دواړه ســترګې يــې پــه زور کــاږي لــه ســره (۲۴)

په پورتنۍ دوه يزه (مثنوي) کې تاسو وليدل، چې اکثره بيتونه يې بېلابېلې قافيې لري. ځينې بيتونه يې رديفونه لري او ځينې يې نه لري. خو ټول يې يو ګډ وزن تعقيبوي او د څپو د شمېر له مخې سره مساوي دي، خو په مثنوي کې کله کله داسې پېښېدی شي چې

ketabton.com - The Digital Library

د ټولو بيتونو د څپو شمېر کې يې يوه څپه زياته يا کمه شي خو د هربيت مسرې يې د څپو د شمېر له مخې حتمي سره مساوي وي.

## ۲- دربيز (مثلث):

هغه ډول شعري فورم دی، چې هر بند يې (درې مسرې) لري. درېواړه مسرې يې متحدالوزنه وي او يو شان قافيه تعقيبوي. په مثلث کې قافيه اساسي او رديف اختياري توکي وي. د مسرو د څپو شمېر يې سره برابر وي. د سر بند درېواړه مسرې يې په خپل منځ کې ګډه قافيه لري. يانې درې واړه مسرې يې قافيه لري، د هر بند دوه لومړۍ مسرې په خپل منځ کې او دريمه مسره يې قافيه کې له مطلعې او يا د سر د بند له قافيې سره يو شان وي. په ټوليز ډول د دې فورم هندسي جوړښت په دې ډول دی:

a___________________________
a___________________________
a___________________________

b___________________________
b___________________________
a___________________________

د مثلث د بندونو شمېر کېدی شي تر دوو زيات وي، خو که د بندونو شمېر يې هر څومره وي همدا پورتنۍ عمليه پرې تطبيقېږي. دلته به د مثلث يوه بېلګه وړاندې کړو، چې څلور بندونه لري:

ketabton.com - The Digital Library

څه اوښکې وینې اوري په دې سپینو چنارو
یو شور دی پورته کېږي د اروا له منارو
ژړا مې نه ودرېږي په خوږمنو ولولو

اورونه دي اورونه چې بلېږي په تقدیر
بې وسې یو بې هیلې د دې ظلم په تدبیر
څه مینه محبت رانه لاهو شول په اورو

د ګل پاڼې مې شولې د جانان د مخ حیا
په تورو سترګو پاتې شوه له ما ټوله دنیا
څه سترې سترې لارې شوې د هیلو په مېرو

د ګلو به دې بیا هغه دوران کله رائي
د هجر په سوز تللی به ارمان کله رائي
څه تور مهرونه لګي له خندا په ډکو خولو(۲۵)

د پورتني شعر په لومړي بند کې (چنارو، منارو، ولولو) د قافیې کلمې دي، په دویم بند کې (تقدیر او تدبیر) د قافیې کلمې دي او (اورو) د لومړي بند له قافیې سره یو شان ده. په درېیم بند کې (حیا، دنیا) په خپل منځ کې د قافیې کلمې او (مېرو) د لومړي بند له

ketabton.com - The Digital Library

قافيې سره يو ډول ده. څلورم بند کې (دوران، ارمان) په خپل منځ کې د قافيې کلمې دي (کله راځي) رديف دی (خولو) د لومړي بند له قافيې سره يوشان ده. هندسي جوړښت يې دادی:

a______________________
a______________________
a______________________

b______________________
b______________________
a______________________

c______________________
c______________________
a______________________

=d______________________
=d______________________
a______________________

## ۷- مستزاد:

(( د رباعي، غزل يا قصيدې پر هره مسره باندې چې يوه لنډه غونډې مسره ورزياته شي، مستزاد ګڼل کېږي. په دې لحاظ لومړۍ يا لويه مسره وړوکې مسرې ته د مانا له مخې احتياج نه

ketabton.com - The Digital Library

لري، ځکه چې ټوله مانا په لومړۍ مسره کې بشپړه وي. جوړښت يې داسې دی، چې يوه مسره يې لنډه او بله اوږده وي. دلته به د بېلګې په توګه د مفتي عبدالحنان لغماني يو مستزاد شعر ولولئ:

شــپه د دوشـنبې ده چــې نبــي صــاحب روان شــو
تېــر تــر لا مکـــان شـــو
شـــپه د دوشـــنبې وه ورتـــه راغـــی جبرائيـــل
ويـــې کـــړ قـــال و قيـــل
زه يـــم رالېږلـــی پـــه جلتـــۍ ســـره جليـــل
پـــــا ځېږه خليـــــــل
شــاه نبـــي زمـــوږه لکـــه ســـروه خرامـــان شـــو
تېـــر تـــر لا مکـــان شـــو

✵ ✵ ✵

شـاه نبـي چـې سـپور شـو پـه بـراق بانـدې لـه واره
ويـــــې نيولـــــه لاره
ســـل زره ملکـــې بـــل پـــه لاس يـــې شـــعله داره
تلـــې بـــه يـــو هـــواره
لاړه تـــر اســـمانه حاضـــر مـــاه تابـــان شـــو
تېـــر تـــر لا مکـــان شـــو

✵ ✵ ✵

ketabton.com - The Digital Library

پــاس پــه اســمانو کــې چــې بــه تــه نبــي عــرب
شـــاه علـــي نصـــب
صـــف پـــه صـــف ملکـــو بـــه دده کـــاوه ادب
امــــــــــــر و د رب
پـاتې پـه خپـل ځـاى کې جبرائيـل ورتـه حيـران شـو
تېـــر تـــر لا مکـــان شـــو

✵ ✵ ✵

اتلـــس کالـــه شـــپه وه د معـــراج وکـــړه يقـــين
تللــــــى نــــــازنين
تــاج يــې د لــولاک پــه ســرولهت شــو د ياســين
راغــــى مــــاه جبــــين
ځکــــه پــــه کــــې واړه ســــربلنده امتيــــان شــــو
تېـــر تـــر لامکـــان شـــو

✵ ✵ ✵

تــه ((عبدالحنانــه)) د دنيــا کارونــه بــس کــه
مينـــې تـــه هـــوس کـــه
ځــان دې د نبــي اخــر زمــان پــه درکــې خــس کــه
بنـــد دې دا نفـــس کـــه
ګــوره هــر غــزل دې مشــهور پــه درســت جهــان شــو

ketabton.com - The Digital Library

تېــــر تــــر لا مكـــــان شـــــو (۳۲)

هندسي شکل يې داسې دی:

=a________________________
=a____________
b_________________________
b____________
b_________________________
b____________
=a________________________
=a________________

د نورو بندونو جوړښت يې هم همداسې دی.

## ۸- څلوريز (مربع):

مربع هغه ډول شعري فورم دی، چې هر بند يې څلور مسرې لري. د لومړي بند څلور واړه مسرې يې په خپل منځ کې همقافيه وي، ياني يو شان قافيه تعقيبوي. رديف په کې اختياري دی که د سر په مسره کې رديف راوړل شو، نو د لومړي بند په څلور واړو مسرو کې يې راوړل حتمي دي. د نورو بندونو درې مسرې سره په خپل منځ کې همقافيه وي، خو د څلورمې مسرې قافيه يې د لومړي بند د مسرو قافيه تعقيبوي او که لومړی بند رديف ولري، نو د نورو بندونو د څلورمو مسرو قافيه او رديف بايد همغه د لومړي بند

ketabton.com - The Digital Library

قافیه او ردیف تعقیب کړي. که شاعر هر څومره د بندونو زیاتول غواړي، نو پورتنۍ قاعده باید مراعات کړي. بله خبره داده، چې که چېرې د لومړي بند مسرې ردیف ولري، نو دا ضروري نه ده، چې د ټولو بندونو لومړۍ درې وارې مسرې دې هم ردیفونه ولري، بلکې د ټولو بندونو څلورمه مسره د لومړي بند د شکلي جوړښت یانې د قافیې او ردیف تعقیبولو ته اړه ده. بل ټکی دادی، چې اکثره د ټولو مسرو د څپو شمېر سره مساوي وي، خو په ځینو خاصو حالاتو کې کېدی شي د کوم بند د څپو شمېر د یوې څپې په اندازه زیات یا کم شي. ددې فورم هندسي جوړښت داسې ترسیمېدی شي:

=a____________________________
=a____________________________
=a____________________________
=a____________________________

b____________________________
b____________________________
b____________________________
=a____________________________

دا بڼه هم درلودای شي:

a____________________________
a____________________________
a____________________________
a____________________________

=b____________________________
=b____________________________

ketabton.com - The Digital Library

=b__________________________
a__________________________

دلته به د مربع یوه بېلګه وړاندې شي:

درېغــــه نـــوی عجـــب وخـــت د نوبهـــار وای
شـــګوفه هـــر رنـــګ ګلونـــه د ګلـــزار وای
لاس تـــر لاس ســـره نیـــولی مـــا او یـــار وای
پـــه مـــزه مـــزه خـــواږه ویـــل تکـــرار وای

***

یـــا وا ناســـت یـــا ســـره ګرځېـــدی پـــه بـــاغ کـــې
معطـــره وای د ګلـــو پـــه دمـــاغ کـــې
دوه پـــه دوه مـــو ســـره راز وای پـــه فـــراغ کـــې
هـــم مـــانع پـــه دواړو ســـترګو ړونـــد اغیـــار وای

***

دواړه ســـترګې تـــورې کـــړې پـــه رنجـــو وای
ملتـــانې نکریـــزې ایښـــې پـــر لاســـو وای
ســـره ناســـت غـــاړه غـــړۍ راز مـــو ورو ورو وای
شـــانه کـــړې تـــورې زلفـــې پـــر رخســـار وای

***

ketabton.com - The Digital Library

راحـــت ناســـت پـــه ســـیاحي واى د ســـرو ګلـــو
بـــل غوغـــا رابانـــدي پـــاس واى د بلبلـــو
هـــم هنګـــام واى د ســـرو لبـــو د زیبښـــلو
مـــى خـــوري واى د ســـرو لبـــو مـــى تیـــار واى
❋ ❋ ❋
تـــور کاکـــل یـــې پـــر تنـــدي بانـــدې واى کښـــاته
پـــه دمـــاغ کـــې دګلشـــن ناســـت واى مـــخ راتـــه
ســـره ګـــلان مـــې واى حیـــران و تماشـــا تـــه
لاس مـــې ایښـــی پـــر اوږو د ګلعـــذار واى
❋ ❋ ❋
تـــورې زلفـــې یـــې پـــر مـــخ شـــمال وهـــلاى
غوړیشـــی یـــې لـــه ږمنځـــې خلاصـــولاى
مـــا یـــې پـــاس پـــر ســـینه خولـــه ور جـــوړولاى
شـــرمولی بـــوی د اوښـــکو د تاتـــار واى
❋ ❋ ❋
هـــر چـــې مـــا ورتـــه ویـــلاى د ده هـــو واى
هـــم مطلـــب د ده قبـــول زمـــا پـــر لیمـــو واى
پـــه خوښـــۍ واى نوبـــت تلـــی د غمـــو واى
زمـــا خواســـت منـــات دده پـــه خپـــل اختیـــار واى
❋ ❋ ❋

ketabton.com - The Digital Library

په خوښــی وای ســره ناســت غمونــه بــس وای
هــم زانـــو پــر زانـــو ایښـــی دســـترس وای
پــر ســپین مــخ مــې لاس وهلــی پــه هــوس وای
بــل پــه غـــاړه یـــې د ســرو ګلونـــو هـــار وای

✵ ✵ ✵

خدایـــه تـــا تـــه دي اســـان کـــه دغـــه وشـــي
تـــږی زړه بـــه پـــه وصـــال د یـــار اوبـــه شـــي
د ((جمعـــه)) د زړه ارمـــان بـــه پاتـــه نـــه شـــي
دده ورون د اشـــنا ســـر لاس پـــر رخســـار وای(۲۷)

## ۹- پینځه یز (مخمس):

د مخمس او مربع عمومي جوړښت تقریباً یو شان دی، توپیر يې په دې کې دی، چې په مخمس کې تر مربع یوه مسره زیاته وي. یانې دلته هر بند پینځه مسرې لري. د لومړي بند پینځه واړه مسرې یوه قافیه تعقیبوي او د نورو بندونو څلور مسرې په خپل منځ کې هم قافیه او د پینځمې مسرې قافیه یې د لومړي بند د قافیې تابع وي. تر لومړي وروسته چې نور بندونه راځي، د هر بند تر قافیې وروسته کېدی شي په څلورو مسرو کې بېل ردیف راشي. خو

ketabton.com - The Digital Library

پينځمه مسره په قافيه او رديف کې د لومړي بند د قافيې او رديف تعقيبونه کوي. پينځه يز دا لاندې بڼې درلودلای شي:

a__________________________
a__________________________
a__________________________
a__________________________
a__________________________

b__________________________
b__________________________
b__________________________
b__________________________
a__________________________

همداسې تر پايه

په يوه مخمس کې کېدی شي ځينې بندونه رديفونه هم ولري، په لومړي بند کې هم رديفونه راغلي وي، خو رديف بيا هم په مخمس کې اختياري دی، خو قافيه د مخمس اساسي برخه جوړوي. د مربع په شان له ځينې استثنايي بندونو پرته د مخمس د ټولو مسرو د څپو شمېر سره مساوي وي. کېدی شي ځينې مخمسونه د رديف لرلو له کبله داسې بڼه ونيسي:

=a__________________________
=a__________________________
=a__________________________
=a__________________________
=a__________________________

ketabton.com - The Digital Library

=b____________________________
=b____________________________
=b____________________________
=b____________________________
=a____________________________

=c____________________________
=c____________________________
=c____________________________
=c____________________________
=a____________________________

او نور بندونه

دلته به د پینځه یز یوه بېلګه وړاندې شي:

د هجــران لــه لاســه ناســت یمــه ویرژلــی
لکــه بــت پــه غتهــو ســترګو دم ختلــی
بېهــوده پــه صــورت روغ پــه زړه نتلــی
بېلتانــه پــه مــرګ حــال یــم رســولی
ربــه راولــې اشــنا پــه ســفر تللــی

✵ ✵ ✵

ډېــر مــې وکــړ د هجــران پــه بــلا صــبر
هــېڅ مــې صــبر ســرور نــه شــه پــه دا جبــر
کــه مــې ولګېــده ســر د غــم پــه قبــر
ومــې نــه ژړل پــه حــال د مهــر ابــر

ketabton.com - The Digital Library

نه شته ما غوندې هېڅوک په بخت کړلی

❋❋❋

دا کوم شرم دی کوم درم د یارۍ
دا پیوند دی بدنما ترویزارۍ
چې مې یار په توده زمکه د خوارۍ
کښېني پاخي خوار حیوان له ناچارۍ
او زه ښوی ښېرازه ګرځم سپین سپېڅلی

❋❋❋

یا له یار سره ولاړ وای په رکاب کې
یا یې مړ وای د هجران په اول تاب کې
یا وای ډوب مدام د اوښو په سېلاب کې
هسې پاتې شوم بې ابه مخ ناولی

❋❋❋

تف زما په دا بې پته اشنایۍ شه
پف د برق و د برېښنا په روښنایۍ شه
لا مې حال تر دا بتر په جدایۍ شه
صد رحمت زما د یار په دانایۍ شه
چې یې خام وم په دا غم کې پېژندلی

❋❋❋

ketabton.com - The Digital Library

چې په مینه کې کوتاه د چا قدم شي
مبتلا به لکه زه په درد وغم شي
په کلونو به جدا ځنې صنم شي
په جرګه به د رښتینو هسې ګرم شي
چې به ما غوندې بې شرمه ګرځي غلی

✵ ✵ ✵

که مې مینه په دروغ نه وي رښتیا وي
په اسیا کې د هجران تللی کسیا وي
که دا نه وي لېونی سر په صحرا وي
چې هېڅ نه شوم که مې څه شرم و حیا وي
له دې شرمه چاته پورته مه کتلی

✵ ✵ ✵

هېڅ مې خوند نه شته د سترګو غړولو
دې مې کاني په تندي دوړولو
هم مې پوست دی په وهل د لوړولو
یم لایق د هر عذاب د کړولو
چې بې یاره کړم له خلکو کور و کلی

✵ ✵ ✵

ketabton.com - The Digital Library

نوري چاري کړم همه ناتراشې لوارې
په مذهب د عاشقۍ ورانې ويجاړې
کله کله مې که اوښې په مخ لاړې
چې له غمه مې شي تويې په مخ لاړې[1]

✵ ✵ ✵

يو د يار د جدايۍ خواري نيستي شوه
بله خپله بې پتي بې همتي شوه
يو پلو د رقيبانو بدنيتي شوه
بل پلو د تور طالع بې شفقي شوه
عشق په دا هومره بلا يم ازمويلى

✵ ✵ ✵

رب مه ګوري زما و بې پتۍ ته
ما و مه سپاري زما بې همتۍ ته
يا مې راولې د سترګو وويستۍ ته
نور مې مه نيسې د هجر و نښتۍ ته
وسوم ډېر لکه کباب په اور نيولى

✵ ✵ ✵

[1] د حميد ديوان په کابل چاپ کې ددې بند يوه مسره له چاپه پاتې شوې ده.

ketabton.com - The Digital Library

د اشنا په ښکلي مخ مې سترګې وا کړې
په ناسور مې د هجران پورې دوا کړې
تللې يار راسره وصل خوا په خوا کړې
ژر په ژر دا ناروا په ما روا کړې
که مې چېرې له اخلاصه يې بللې

❋ ❋ ❋

که هر څو يار ته نږدې د زړه په ياد يم
په صورت چې ځنې لرې په هېواد يم
شپه او ورځ د خدای و داد ته په فرياد يم
په تش باد مې تسلي نه شي ناښاد يم
که مې يار د سر په سترګو وليدلی

❋ ❋ ❋

تور طالع برګشته بخت د عشق په کار کې
بد قسمت او بد شامت په دغه لار کې
بر ناحقه بدری خورم په سمه لار کې
نه شته ما غوندې هېڅوک په هېڅ ديار کې
په څه شوم زبون ساعت يم زېږېدلی

❋ ❋ ❋

ketabton.com - The Digital Library

لـــه هغـــه چـــې پوهېـــدلی پـــه ښـــه بـــد یـــم
رســـــېدلی د پنجـــاه و پـــنج تـــر حـــد یـــم
مبـــتلا د ښـــکلي مـــخ پـــه خـــال و خـــد یـــم
کـــه د صـــدق شـــل ســـنده ښـــیم رد یـــم
یـــوه ښـــکلي پـــه راســـتۍ نـــه یـــم منلـــی

❋❋❋

کـــه مـــې یـــو ځلـــه اشـــنا لـــه هنـــده راشـــي
پـــه هـــوس ورتـــه ګلـــزار د غـــم صـــحرا شـــي
لـــــه هجرانــــه یـــــې حاصــــله تبــــرا شـــــي
فراغــــت د جــــدايي لــــه چــــون چــــرا شـــــي
نـــور ((حمیـــد)) لـــه اشـــناییه لاس وکښـــلی(۲۸)

## ۱۰- شپږیز (مسدس):

هغه ډول شعري جوله ده، چې هر بند یې شپږ مسرې لري، د سر لومړي بند شپږ واړه مسرې یې په خپل منځ کې هم قافیه وي. ردیف یې اختیاري دی.

د نورو بندو پینځه مسرې په خپل منځ کې هم قافیه او هره شپږمه مسره یې پـه قافیـه کـې د لـومړي بنـد د مسـرو د قـافیې تـابع ده. د مسدس ځینې بندونه کېدی شي ردیف ولري او ځینې یې کېدی

ketabton.com - The Digital Library

شي ردیف هم ونه لري، خو قافیه د هر بند د هرې مسرې لپاره ضروري ده. دغه راز ټولې مسرې د څپو د شمېر له مخې سره مساوي وي او هم یې وزن مشترک وي. له مربع څخه یې دوه او له مخمس څخه یې یوه مسره زیاته وي.

د مسدس هندسي جوړښت داسې ترسیمېدی شي:

a____________________________
a____________________________
a____________________________
a____________________________
a____________________________
a____________________________

b____________________________
b____________________________
b____________________________
b____________________________
b____________________________
a____________________________

او همداسې نور بندونه

داسې شکل هم غوره کولای شي:

=a____________________________
=a____________________________
=a____________________________
=a____________________________
=a____________________________
=a____________________________

ketabton.com - The Digital Library

=b______________________________
=b______________________________
=b______________________________
=b______________________________
=b______________________________
=a______________________________

او د ردیف په تغیر سره نور بندونه.

دلته به د دې شپږیز یوه بېلګه راوړو:

حیف په دا ژوندون شه چې له یاره یم مهجوره
هر نفس غوځېږم د هجران په تېره توره
ژاړم پټ په زړه کې په خوله خاندم له ضروره
سترګې مې شوې دواړه په ژړا ژړا بې نوره
عقل له ما لاړ شه لېونی یم بې شعوره
دا قصه زما ده په تمام جهان مشهوره

***

لاس مې خپل کوتاه کړه د دنیا له هره کاره
غم الم مې نه شته له چا نه یم پرواداره
یار سره واصل شوم بې تلاشه بې ریباره
نن چې بهره مند یم زه له بوس و له کناره

ketabton.com - The Digital Library

سترګې څه رنګ نیسم د دلبر له ښه رخساره
تږی و اوبو ته همېشه وي ناصبوره

❋ ❋ ❋

ته په دا سرو سترګو چې افت پر ځان زما یې
ځان مې درقربان شه چې تر ځانه ګران پر ما یې
تش په دا ملال کاته له مانه هوش ربا یې
زه رنځور د عشق یم ته ثاني د مسیحا یې
حورې به زه څه کړم ملا ! څه یې راته ستایې
ماو ته تر حورو خپله کښلې ده منظوره

❋ ❋ ❋

څه وایې ناصحه زه مرید د مې فروش یم
هر چې راته وایې زه د ده حلقه بګوش یم
پند کړه وهوښیار ته زه خو مست وباده نوش یم
خلک دې تهمت را باندې وایي زه خاموش یم
اوښې مې بهېږي تر چشمې نه زیات په جوش یم
هم لرم له غمه سینه ګرمه تر تنوره

❋ ❋ ❋

نه ده د سړیو بقا زیاته تر حبابه
خونه لا پخوا له خپله مرګه کړې خرابه

ketabton.com - The Digital Library

سـیند ده دا دنیـا چـې رغـړول کـا بـې سـېلابه
کـام د اژدهـا دی دنیـا هسـک کـړه سـر لـه خوابـه
ولــې ((معــزالله)) پــه سـقر درومــې بــې اسـبابه
فکـر د توښـې کـړه همیـانۍ کـړه خپلـه پـوره.(۲۹)

## ۱۱- اوه یز (مسبع):

دا هغه ډول شعري جوله ده، چې هر بند یې اوه مسرې لري، د لومړي بند اوه واړه مسرې یې په خپل منځ کې هم قافیه وي. د نورو بندونو شپږ مسرې یې په خپل منځ کې هم قافیه خو اوومه مسره یې په قافیه کې د سر د لومړي بند د قافیې تابع وي. له مربع، مخمس او مسـدس سـره یـې یـوازې د مسـرو پـه شـمېر کـې تفـاوت وي. نـور جوړښت یې سره ورته دی. دلته هم ردیف اختیاري دی، یانې دا چې کېدی شي ځینې بندونه یې ردیفونه ولري او ځینې یې ونه لري، خو که چېرې د لومړي بند مسرو تر قـافیو وروسـته ردیف درلـود، نـو د نورو بندونو وروستۍ مسره بایـد پـه قافیـه او ردیـف کـې ضـرور د لومړي بند د قافیې او ردیف تـابع وي. دلتـه بـه د یـو اوه یـز (مسـبع) بېلګه راوړو، چې هم ردیف لرونکي بندونه لري او هم بې ردیفه بند. هندسي جوړښت یې دادی:

ketabton.com - The Digital Library

=a____________________________
=a____________________________
=a____________________________
=a____________________________
=a____________________________
=a____________________________
=a____________________________

=b____________________________
=b____________________________
=b____________________________
=b____________________________
=b____________________________
=b____________________________
=a____________________________

همدا سې نور بندونه..

و ((ت)) لــه تــوره وکــاږه چــې ســپين شــي
قــاف و ((س)) ورســره واچــوه چــې شــين شــي
پـه تحصـيف سره يې مـخ پريمينځـه چې سين شي
معــون يــې دوه ســو لــس کــه چــې رنګــين شــي
نــور دې تړولــه پــه يــوه نــيم ځــاى شــين شــي
جــوړ لــه دغــه يــوه نيمــه بــه امــين شــي
بــې لــه ((نــه)) بــه و ذکــي و تــه يقــين شــي

❋ ❋ ❋

ketabton.com - The Digital Library

څه په کار دي بې له ده که جهان ستا شي
بل د حکم قاف تر قافه پر هر چا شي
د قارون تر دنیا ډېره ستا دنیا شي
تر سخا دې د حاتم تېره سخا شي
بې بقا به تر ماڼیه د کسری شي
عاقبت به دې په ځان پورې بلا شي
سخت مکان به دې د اور جوړ پر سجین شي

❋ ❋ ❋

سر و مال واړه د ده تر نامه جار که
شیرین ځان یې توري خاورې د دربار که
تل پر ځان باندې کندلې د ښو لار که
ځان له خاصو عاشقانو سره شمار که
خط پر ځان د ده د مینې په پرکار که
مه وځه له دغه خطه زړه قرار که
چې نامه در باندې جوړه د کمین شي

❋ ❋ ❋

ښه تصدیق باوري واړه په اقوال کړه
موافق یې هر یو فعل پر افعال کړه
ځان نګهه له فسادونو د محال کړه

ketabton.com - The Digital Library

کمالات حاصل د ده د ښه کمال کړه
په دا حال سره موجود دده وصال کړه
زړه به چاود له ډېره غمه د لعین شي[1]

❋ ❋ ❋

له اخلاصه دوست دار د چهار یار شه
پر بزرګیه د حضرت صدیق اقرار شه
پس له ده حضرت عمر دی خبردار شه
پس له دوی حضرت عثمان ګڼه هوښیار شه
کل و لیان دي تر ده لاندې فهیم دار شه
تر دا هسې بزرګۍ جار د کرار شه
پیروي د دوی کوه چې ټینګ دې دین شي

❋ ❋ ❋

مخالف چې څوک له دوی دي مخ یې تور دی
کوم به زیات تر دوی ګڼې مکان یې اور دی
که بادشاه شي د اقلیم ښکاره سرتور دی
یا عادل تر نوشیروان شي هم منګور دی
یا مدام کړي سخاوت لعنت یې پور دی
عاقبت یې تنها ټک د ګور په لور دی

[1] یوه مسره کمه ده.

ketabton.com - The Digital Library

کــــی ثلـــور طرفـــه لانـــدې تــــرنګين شــــي

✵ ✵ ✵

مـــا ((جمعـــه)) پـــه خپـــل قـــدر دې دوی منلـــي
موهبـــــات دور موهبـــــات چـــــې دي راغلـــــي
طبيعـــــت در طبيعـــــت يـــــې راســـــتولي
وراثـــــت در وراثـــــت چـــــې دي ويلـــــي
اصـــــلي ولـــــي مـــــې پـــــر زړه ښنيســـــتلي
ښـــاخ د پـــانې مـــې تـــر تـــن تولـــه وتلـــي
چـې مـې جـوړ عـين اليقـين حـق اليقـين شـي.(۳۰)

## ۱۲- اته يز (مثمن):

د نظم هغه ډول دی، چې هر بند يې اته مسرې لري، اته واړه مسرې يې په خپل منځ کې يو شان قافيه لري. رديف په کې اختياري دی. د بل هر بند اوه مسرې يې په خپل منځ کې هم قافيه وي او اتمه يې د لومړي بند د مسرو قافيه تعقيبوي.

هندسي شکل يې دا دی:

a___________________________
a___________________________
a___________________________
a___________________________

ketabton.com - The Digital Library

a______________________________
a______________________________
a______________________________
a______________________________

b______________________________
b______________________________
b______________________________
b______________________________
b______________________________
b______________________________
b______________________________
a______________________________

او که ردیف ولري، نو بڼه یې یوازې د ردیف په برخه کې بدلون مومي نور چوکاټ همدا شان دی. د بندونو شمېر یې قید نه لري.

بېلګه یې داده:

توره شپه شي نالیدونکي شان لاسونه
ان تر لمره راته زبېښي مې رګونه
له ډبرو را بهر شي څو لابسونه
تاووي راته پر مخ مخ دېوالونه
تروږمی شي یو توپان شي سره تېغونه
پرېکوي تر سرو لاندې مړوندونه
وریځې وریځې شي زما د خولې اهونه

ketabton.com - The Digital Library

بیــا یــې ســیوري تــه شــي دمــه ســتا یادونــه

*** 

یــو پــه بلــه کــاروان لاړ شـــي د ســلګیو
یــو ســور لال راخخــه ورک شــي لــه ککیــو
پــه لمحــې ســیوري راپرېــوزي د پېرېــو
پــه توتــو پــه ســر شــکاوه شــم لــه ګړیــو
ســتا د څپــو پــه شــړک بــاد شــي پــه مســتیو
ددې غــره غــوټې شــي تېــرې لــه پګړیــو
مـــلا شـــي ماتـــه د زړو زړو څېړیـــو
ســترګې ډکــې او لامــده شــي ګرېوانونــه

*** 

ســتا پــه لــوري چــې مــې کلــه هــم نظــر شــي
ماتــه وور ځــاځکی د اوښــکو ســمندر شــي
پــولۍ وپړســېږي لــوېې لکــه غــر شــي
هــر یــو ګــل مــې راتــه مــات مــات پــه ډنــډر شــي
ســتا پــه کــور مــې چــې د خیــال کلــه ســفر شــي
لــه وربېښــمو بــه مــخ جــوړ د هــر حجــر شــي
پــه لمــن کــې بــه مــې کــاڼي تــول مرمــر شــي
نه یې پلورم که څوک راکړي پرې لالونه.(۳۱ )

ketabton.com - The Digital Library

# ۱۳- لسیز (معشر):

هغه ډول نظم دی، چې هر بند یې لس مسرې لري، د لومړي بند لس واړه مسرې یې په خپل منځ کې هم قافیه وي او بې قافیې مسره په کې نه وي. د بل هر بند نهه مسرې یې په خپل منځ کې هم قافیه وي او لسمه مسره یې په قافیه کې د لومړي بند د مسرې له قافیې سره یو شان وي. د معشر ټولې مسرې یو واحد وزن تعقیبوي.

په معشر کې هم ردیف اختیاري دی. که چېرې د لومړي بند تر قافیې وروسته ردیف راغلی وي، نو نور بندونه اختیاري دي، چې ردیف ولري او که یې ونه لري، خو د هر بند وروستۍ مسره چې د لومړي بند قافیه تعقیبوي باید ضرور د لومړي بند قافیه تعقیب کړي او که چېرې لومړی بند ردیف ولري نو باید د هر بند وروستۍ مسره هم ردیف ولري. دلته یې هندسي جوړښت او یوه بېلګه وړاندې کېږي.

هندسي جوړښت یې دا دی:

a________________________________
a________________________________
a________________________________
a________________________________
a________________________________
a________________________________
a________________________________
a________________________________
a________________________________

ketabton.com - The Digital Library

a______________________________

=b______________________________
=b______________________________
=b______________________________
=b______________________________
=b______________________________
=b______________________________
=b______________________________
=b______________________________
=b______________________________
a______________________________

c______________________________
c______________________________
c______________________________
c______________________________
c______________________________
c______________________________
c______________________________
c______________________________
c______________________________
a______________________________
او نور بندونه

**معشر:**

کــــه راکـــوز شـــي مســـيحا
اوبـــــه راکـــــا د بقـــــا
غوښـــــې راکـــــا د عنقــــا
ســـم پـــه صـــدق و پـــه صـــفا

ketabton.com - The Digital Library

لاس کـــه پورتـــه پـــه دعـــا
شـــپه او ورځ مـــې کـــه دوا
دعـــا غـــواړي لـــه هـــر چـــا
څـو ښـکل نـه کـړم لبـان ستا
هســـې نـــه دی رنـــځ زمـــا
چـــې شـــفا يـــې شـــي پـــه دا

❋ ❋ ❋

خوب مې نه شته دی کړمن يم
آه فريـــاد کـــوم دردمـــن يـــم
پـه سـودا د عشـق سـودمن يم
يـا مجنـون يـم يـا کـوهکن يـم
پـه جمـال يـې چـې مـين يـم
لـه خپـل يـاره روح او تـن يـم
پـه وطـن کـې بـې وطـن يـم
کـــه دا نـــه وي دروغـــژن يـــم
لکـه مياشـت پـه مـرد وزن يـم
ستـا پـه عشـق انګشـت نمـا

❋ ❋ ❋

ketabton.com - The Digital Library

زړه مې چوي د يار له غمه
دود مې درومي له قلمه
دوه مې سترګې دي پر غمه
غم زيا تېږي دم تر دمه
را پيدا شي غم له غمه
قدم ږدم په غره په سمه
دلربا خوښه خرمه
زه په دا هو مره ماتمه
چې جدا شوم له عالمه
سر مې ونيو په صحرا

✵✵✵

همېشه شور و غوغا کړم
د ورېځ په دود ژړا کړم
نه يو ځله په بيابيا کړم
د غمونو دې سودا کړم
همېشه درته دعا کړم
ياد په شپه و په ورځ ستا کړم
دا چې ډېرې زه بلا کړم
د وصال په تمنا کړم

ketabton.com - The Digital Library

لکه ستا مینې رسوا کړم
مه شه بل هسې رسوا
❋❋❋
چې دې باد د کوڅې راشي
پرې غنچه مې د زړه وا شي
چې په کښلیو مبتلا شي
شپه و ورځ په واویلا شي
په وګړي کې رسوا شي
ملامت پرې د هر چا شي
چې حاصل یې مدعا شي
غم یې هاله انتها شي
معزالله چې په ژړا شي
ستا پرې پورې شي خندا.(۳۲)

## ۱۴- ترجیع بند:

دا هغه نظم دی، چې لومړی څو بیتونه وویل شي بیا ورپسې یو مقفی بیت ورلوېږي او په دې ډول یو بند جوړوي، دغه راز بیا بل بند پیلېږي او بیا ورپسې همدا مقفی بیت تکرارېږي. په ترجیع بند کې د هر بند لومړی بیت مقفی وي لکه د غزل په شان او د بل هر بیت لومړی مسره یې بې قافیه وي او دویمه یې قافیه لري او د مطلعې

ketabton.com - The Digital Library

قافیه تعقیبوي. د بندونو د بیتونو شمېر یې سره مساوي وي. ټولې مسرې یو متحد وزن تعقیبوي. په ترجیع بند کې هم ردیف اختیاري دی. ځینې بندونه کېدی شي ردیفونه ولري او ځینې یې ونه لري. هندسي جوړښت یې داسې دی:

=a______________________________
=a______________________________
______________________________
=a______________________________
______________________________
=a______________________________
______________________________
=a______________________________
______________________________
=a______________________________
______________________________
=a______________________________
=b______________________________
=b______________________________

c______________________________
c______________________________
______________________________
c______________________________
______________________________
c______________________________
______________________________
c______________________________
______________________________

ketabton.com - The Digital Library

c_____________________________

______________________________

c_____________________________

______________________________

=b_____________________________

=b_____________________________

د ترجيع بند يوه بېلګه داده:

ستا پر مخ پر تورو زلفو زه شيدا يم
صبح و شام په آه فغان په واويلا يم
په فراق کې دې تل خورم د ځيګر وينې
صبر و توان مې بې تا نه شته مبتلا يم
نن فلک رابانده تېغ د جور و کښېښ
له سرو وينو ډک لړمون لکه حنا يم
رقيبان راسره جنګ و جدل کاندي
په دربار کې دې د سپيو مدعا يم
غزاله غوندې وحشي راځخه مه شه
زه صياد دې د ديدن په تمنا يم
که شل کاله دې ماني وي له ما ياره
بېګانه مې هنوز مه ګڼه اشنا يم
له اشنا مه کړه ماني بې وفايي ده

ketabton.com - The Digital Library

چـــې ســـېزې مـــين بـــې اوره جـــدايي ده

❋ ❋ ❋

غمـازان چـې روغـې چـارې كـړي ويجـاړې
خوار عاشق بـه څرنګ ستا پـه وصـل ويـاړې
چـــې احـــوال د فراقـــت پـــر ژبـــه راوړم
هغـــه دم مـــې وچـــوي پـــه خولـــه كـــې لاړې
د لالـــه پـــه دود لـــه عمـــره ځګرخـــون يـــم
پـــه ګوګـــل كـــې مـــې تـــل وينـــې دي ولاړې
يـــا شـــبنم دى چـــې وريـــږي پـــه چمـــن كـــې
يـــا بلبـــل دى د ســـحر پـــر ګلـــو ژاړې
ګـــرد غبـــار دې د كـــوڅې يـــم ولـــې دربغـــه
خيـــال د وصـــل دې لمـــن راخخـــه نغـــاړې
كـــه هـــر څـــو د تامـــانې دې نـــن پخـــلا شـــه
دل ســـوخته اشـــنا دې راغـــى عـــذر غـــواړې
لـــه اشـــنا مـــه كـــړه مـــانې بـــې وفـــايي ده
چـــې ســـېزې مـــين بـــې اوره جـــدايي ده

❋ ❋ ❋

راشـــه راشـــه اى زمـــا د زړه مقصـــوده
مـــا غريـــب كـــړه پـــه وصـــال ســـره خوشـــنوده

ketabton.com - The Digital Library

یو دیدن دي په سر غواړم که مینده شي
لاس پر سر یم پر دنیا له بله سوده
د وصال قدر له ما زده چې مشتاق یم
د ایاز له قدره چا زده بې محموده
له ما تمه سیه پوش لکه سکاره یم
تر لېمه مې اوښې ځي د زړه له دوده
لکه زه یم تل دا ستا په درد و غم کې
بل څوک مه شه هسې شان په غم الوده
په ماني پر څه زېبا نګاره
پیرمحمد غوندي اشنا دي کړ نابوده
له اشنا مه کړه ماني بې وفايي ده
چې سبزي مين بې اوره جدايي ده.(۳۳)

د پورتني ترجیع بند په دویم بند کې د قافیې یو څه ستونزې او یا هم پر قافیې لهجه یي تاثیرات او تحمیلات لیدل کېږي.

## ۱۵- ذوالقافیتین ترکیب بند:

په دې ډول نظم کې څو مقفی مسرې سره یو بند جوړوي بیا وروسته یو بل مقفی بیت ورلوېږي، چې د لومړي بند له قافیو سره

ketabton.com - The Digital Library

يې قافيې يو شان نه وي. وروسته بيا نور بندونه راځي او د هر بند مسرۍ يې په خپل منځ کې هم قافيه وي او د بل بند له قافيو سره توپير لري او هم د بل هر بند په پای کې ځانته بېل بېل مقفی بيتونه راځي. د بندونو د مسرو شمېر يې سره مساوي او يو متحد وزن تعقيبوي. د بيتونو او هم د بندو شمېر يې ټاکلی نه دی، خو ټول بندونه د مسرو او ځپو د شمېر له مخې سره برابر وي.

رديف په کې اختياري دی، ځينې بندونه کېدی شي رديف ولري او ځينې يې ونه لري. دلته به د حنان بارکزي يو ترکيب بند راوړو، چې د (ترجيع بند) په نوم راغلی دی. خو په نورو ځايونو او ديوانونو لکه د خوشال بابا په ارمغان کې دې ډول نظم ته ذوالقافيتين ترکيب ويل شوی دی. له ترجيع بند څخه يې توپير دادی، چې په ترکيب بند کې بيا دا مقفی بيت تر هر بند څخه وروسته يو شان نه تکرارېږي او بل توپير يې دادی چې د ځينو ترکيب بندونو د هر بند ټولې مسرۍ يې قافيه لري خو په ترجيع بند کې خبره داسې نه ده. هندسي جوړښت يې دادی:

د حنان بارکزي د ترکيب بند شکل:

a______________________________
a______________________________
a______________________________
a______________________________
a______________________________
a______________________________
b______________________________
b______________________________

ketabton.com - The Digital Library

c____________________________
c____________________________
c____________________________
c____________________________
c____________________________
c____________________________
=d____________________________
=d____________________________

او نور بندونه

د یادونې وړ ده، چې د ترکیب بند بل شکل هم شته. د خوشال په ارمغان کې داسې ترکیب بند هم شته، چې د هر بند ټولې مسرې یې مقفی نه دي، داسې وي لکه یو غزل چې یو بند جوړ کړي یانې له لومړي بیت پرته د هر بیت لومړۍ مسره له قافیې ازاده وي. کله چې بند پوره کېږي بیا یو ځانګړی او بېل مقفی بیت ورلوېږي. د حنان بارکزي ترکیب بند:

یــار مــې ولاړ شــو پــه ســفر لــه دې وطنــه
کــه ارواح و کــوچ یــې وکــړ لــه بدنــه
کــه بلبــل پــه انــدوه والــوت لــه ګلشــنه
کــه وروســتی دم و د مــړي لــه دهنــه
چــا بــی کــړې وې د ســوي زړه پوښــتنه
چــا بــی ایښــې وي ملهــم پــر زړه دننــه
دروغجــن یمــه پــه مینــه کــې هــر ګــوره

ketabton.com - The Digital Library

اشــنا ولاړ شــو زه ونــه وتــم لــه كــوره

***

چـــې خبـــر يـــې د تلـــو وشـــو ناګمـــان
لكــه تنــدر پــر چــا پرېــوزي لــه اسـمان
چــې يوسـف مــې شــو ملګــری د كــاروان
شــو يعقــوب زمــا د زړه پســـې پرېشـــان
پـــه ارمـــان ارمـــان بـــه ژاړم لـــه هجـــران
د ژونـــدون طمـــع مـــې وختـــه لـــه ځـــان
چــې تــرې پــاتې شــوم پــه دا پېغــور ګنــده يــم
ســترګې نــه لــرم پــه ســر كــې شــرمنده يــم

***

ورســـره بـــه څـــوك پـــر لارې وي ملګـــرې
چـــې ويســا بــه يــې پــه نــه شــي نــږدې لــرې
لـــه ســـتړيا بـــه يـــې زړه نـــه غـــواړي خبـــرې
لـــه ناكامـــه تـــر خـــولې تـــويې كـــه شـــكرې
د ســـرو لبـــو لعـــل بـــه پرولـــې پـــه كـــودرې
اړوي بـــــه بانـــــدې تـــــل د غمـــــو ســـــرې
عـاشــق نــه يــم اوس رښــتيا شــوه دا خبــره

چې پرهر دربانـدې ژاړم بې اثره

❋ ❋ ❋

خوب به نه ورځې مانده به تر حد تېر وي
خوشالي هوا هوس به ځنې هېر وي
سپین رخسار به یې له فکره په بل پېر وي
له سترګیا به نیشکر ورته ګنده هېر وي
په دیدن به یې درې دوه ملګري سېر وي
پر هر ځای به لکه روي پر چارپېر وي
چې ترې پاتې شوم په کومو سترګو ګورم
پوزه نه لرم په درست جهان کې ښورم

❋ ❋ ❋

دی روان شو زه پر کور په دا حیران یم
چې نه مړ شوم نه مجنون سر په بیان یم
نه اسیا رنګه له غمه سرګردان یم
ملامت د هر هندو د مسلمان یم
دی پخوا را پوهېده چې دو زبان یم
رحمتونه دې د ده پر زیرکۍ وي

ketabton.com - The Digital Library

لعنتونـــه دې زمـــا پـــر خيـــره ګـــې وي[1]

✵ ✵ ✵

کـه مـې مينـه واى رښـتيا سـوى پـه اور واى
پــه نغـرې کــې بــه د هجــر لکــه سـکور واى
ښې مې يبلې کالي څيرې سر سرتور واى
پــه انــدوه ســره مــې تــرک د دنيــا کــور واى
لــه دې غمــه مــې تراوســه ســر پــه ګــور واى
ښايي دا چې مخ مې تور او پر خره سور واى
صـــد رحمـــت دې وي د ده پـــر دانـــايۍ
صـــد لعنـــت دې وي زمـــا پـــر اشـــنايۍ

✵ ✵ ✵

يــار مــې ولاړ شــو پــه ســفر پســې زهيــر يــم
لــه دې غمــه تــل اختــه د ځــان پــه ويــر يــم
ريشــخندى د هــر صــغير د هــر کبيــر يــم
چـــې پـــه غـــم لا د قليـــل و د کثيـــر يـــم
زخمـــي کـــړى ببلتانـــه د غـــم پـــه تيـــر يـــم
هميشـــه د دغـــې چـــارې پـــه تـــدبير يـــم
چــې اجــل مــې عــذر وکــه پــه عــالم کــې

[1] د نقل پر وخت يوه مسره پاتې شوې ده.

ketabton.com - The Digital Library

ګنهـه ډېـر بـې آبـه پـاتې شـوم پـه غـم کـې

❋❋❋

په خپل فضل خواست قبول زما غريب کړې
د وصال ښادي مې يو وار پـه نصيب کړې
تللـې يـار راسـره وصـل عنقريـب کـړې
مشــرف پــه دغــه ګــل دا عنــدليب کــړې
د هجـران ناسور مې روغ پـه دا طبيب کړې
خـوا پـه خـوا راسره ګرم خپـل حبيـب کړې
پـــه کـــرم ســـره د خـــوږو زړو دوا يـــې
چـې لار ورکـه کـړي هغـه پـر لارې بيـايې

❋❋❋

وسـيله مــې کـړې مجـاز او حقيقــت تــه
خاموشـي مـې کاميـابي کـړې معرفـت تـه
مشـک مې ورک کړې لـه خـاطره طريقت تـه
راپــه غــاړه کــړې زنځيــر سـتا و قربـت تــه
کـړې طـامع مـې سـتا د وصـل و شـربت تـه
بــې پوښــتنې مــې لاهـو کـړې و جنـت تـه
غيـر خيـال مـې کـړه لـه زړه څخـه جـارو تـه

ketabton.com - The Digital Library

دغــه زهــر مــې کــړه ســتوني کــې دارو تــه

✵✵✵

د ســکوت پــه تــار مــې څيــرې زړه رفــو کــړې
رو بــرو مـــې ائينـــه د خپـــل زانـــو کـــړې
صـــبر را د نـــو خطـــانو لـــه جـــادو کـــړې
فســـادونه مـــې لـــه زړه څخـــه جـــارو کـــړې
بـــې ويلـــو مـــې پـــوره هـــره ارزو کـــړې
مـــا حنـــان د بـــيم پـــه اوبـــو کـــې لاهـــو کـــړې
کـــه مـــې چېـــرې يـــې بللـــی لـــه اخلاصـــه
په کرم مې کړه له غشو سينه خلاصه.(۳۴)

## ۱۲- تړول قافيز فورم:

دا هغه ډول فورم دی، چې هره مسره يې قافيه لري او تړولې مسرې يې يوه قافيه تعقيبوي. رديف په کې اختياري دی، خو که په لومړۍ مسره کې تر قافيې وروسته راوړل شي، نو په همدې بڼه په نورو مسرو کې هم راځي. د هرې مسرې د څپو شمېر له بلې سره مساوي وي او يو ټاکلی وزن تعقيبوي، د مسرو شمېر يې ټاکلی نه دی، دا ډول شعري فورم په پښتو کې د دود عربي فورمونو له بڼې سره يو څه توپير لري. هندسي شکل يې دا دی:

a___________________________

ketabton.com - The Digital Library

a______________________________
a______________________________
a______________________________
a______________________________
a______________________________
a______________________________
a______________________________
a______________________________
a______________________________
a______________________________
a______________________________

## یادګارونه یادګارونه

ما درته لیکلي وای شعرونه او شعرونه
تا زلفو کې ایښي وای ګلونه او ګلونه
ما په وچو شونډو درنه کړي وای سوالونه او سوالونه
تا په زړه را ایښي وای زخمونه او زخمونه
ما ژوند ته نیولي وای دارونه او دارونه
ستا شونډو، خندا کړای غورځنګونه غورځنګونه
زړه کې زما بل وای سره اورونه، سره اورونه
ستا ژوندون ډیوې وای څراغونه څراغونه
دغسې وای هیلې او همداسې ارمانونه

ketabton.com - The Digital Library

مــا ورتــه ژړلــی تــا خنــدلی ولونــه ولونــه
حســـن بـــه د تـــا و داســـتانونه، داســـتانونه
ژونــد بــه ټــول زمــا و یادګارونــه یادګارونــه.(۳۵)

## د ټول قافیز دویم ډول:

په پښتو ژبه کې د دې ډول فورمونو ترڅنګ یو بل فورم هم شته، چې د هر بیت لومړۍ مسره یې د بل بیت له لومړۍ مسرې سره په قافیه کې یو شان وي او د دویمو مسرو قافیه یې په خپل منځ کې سره یو شان وي، د غزل د سر لومړی بیت یې مقفی نه وي. هره مسره یې ځانته قافیه لري. یانې دا چې د هر بیت لومړۍ مسره له لومړۍ او دویمه یې له دویمې سره په قافیه کې یو شان وي او ردیفونه یې هم همدا شان وي. هندسي جوړښت یې په دې ډول دی:

=a___________________________
=b___________________________
=a___________________________
=b___________________________
=a___________________________
=b___________________________
=a___________________________
=b___________________________
=a___________________________
=b___________________________

ketabton.com - The Digital Library

دلته به د دې ډول فورم یوه بېلګه وړاندې شي:

## له ستورو نه خالونه

یو ځل مې د زړګي په وران محل کـه ګذر وکړې
قدم تـه دې جانانه د لمدو سترګو ګېـلۍ ږدم
وعده راسره نن کـه د ماښـام پـه ګودر وکړې
له ستورو نه خالونه درته ټیک به د سپوږمۍ ږدم
کوچۍ لیلا کـه کلي تـه مو بیا تـه سفر وکړې
د شپو پـه لویه دښته کې د لمر سپینه کېږدۍ ږدم
د ناز پېغلې وږمې ! کـه پېښه زما پـه سهر وکړې
ټالو کې د کمخو دې د پسرلي تاندې غوټۍ ږدم
پـه برنډو پښتنو دې کـه د بخوا تـه نظر وکړې
د غره وربښمینو څنو نه پر سر لویه پګړۍ ږدم.(۳۶)

ketabton.com - The Digital Library

# دویم څپرکی

## پښتو ازاد شعر

په پښتو شاعرۍ کې د ازاد شعر څو ډولونه تر سترګو کېږي. په دې مانا چې پښتو بشپړ ازاد شعر تر څو پړاوونو وروسته دې شکل ته رسېدلی دی. دلته به د ازاد شعر څو بېلګو ته اشاره وکړو.

۱- هغه ډول ازاد شعر، چې د دودیز شعري فورمونو په چوکاټ کې نه وي راغلي، په شکلي ډول په کې یو څه بدلون راغلی وي. ځینې مسرې یې له قافیې ازادې، لنډې یا اوږدې وي، په نورو اکثرو مسرو کې قافیه راغلې وي، خو دا قافیه په مسرو یا بیتونو کې یو شان نه وي، څو څو مسرې یا څو بیتونه په خپل منځ کې مشترکه قافیه لري، بیا بېلې مسرې ورپسې لوېږي او په دې ډول یو بند جوړوي. په دې ډول نظم کې اکثره مسرې تقریباً یو متحد وزن تعقیبوي. یانې له ځینو وړو مسرو پرته د نورو اکثرو مسرو د څپو شمېر سره برابر وي. په دې ډول فورم کې د ځینو بندونو د مسرو تر قافیې وروسته کېدی شي ردیفونه راغلي وي او ځینې هم کېدی شي هېڅ ردیفونه ونه لري. په پښتو ژبه کې ټاکلي شمېر نظمونه او شعرونه په همدې او یا دې ته ورته فورم کې ویل شوي

ketabton.com - The Digital Library

دي. د نیمه ازاد شعر دا فورم یا ډول عام نه دی، بلکې د کارونې ساحه یې ځانګړې او خاصه ده، دلته به د بېلګې په توګه د اسحق ننګیال د شعر یوه بېلګه راوړو:

## ښکاري ته !

ای ښکاري اشنا ! درته سلام کوم
پربږده چې دا ښکلې مرغۍ والوزي
لاړې شي جوړه جوړه ګلونه شي
ښلکې شي ښایسته شي امېلونه شي
واخلي په وزرونو کې تنکي بچي
وموښي سینو کې ګلالي بچي
سپینې سرې منښو کې زرکني بچي
پام کوه !
پام کوه ماشې له ګوتې مه وروړه !

ای ښکاري اشنا ! درته سلام کوم
پربږده چې دا شنو جلګو کې وځغلي
پېغلې د هوسیو د دامان په لور
واړوي پیکي د شنه اسمان په لور
وخاندي راتاوې شي مستي وکړي

ketabton.com - The Digital Library

ورغړي نخرې وکړي خوښي وکړي
شپو د پېغلتوب ته خوشالي وکړي
پام کوه !
پام کوه ماشې له ګوتې مه وروړه !

ای ښکاري اشنا ! درته سلام کوم
پرېږده د غونچو له لمن پرېوزي
زموږ د کلي باغ کې د سپرلي بلبل
زموږ د خمارونو شرابي بلبل
پرېږده چې په سرو مښوکو وبولي
زموږ د بام له پاسه د سپرلو سرود
بڼ ته د غوټيو د ښکالو سرود
ځمکې ته د ورېځو بارانو سرود
پام کوه !
پام کوه ماشې له ګوتې مه وروړه !(۳۷)

ددې ډول شعري فورم د هندسي جوړښت انځور امکان لري، ځکه چې د مسرو شمېر او د بندونو شمېر يې نسبتاً تاکلی او څرګند دی. د دې فورم هندسي جوړښت داسې ترسيمېدی شي:

ketabton.com - The Digital Library

=a
=a
=b
=b
=b

=c
=c
=d
=d
=d

=e
=e

=f
=f
=f

ketabton.com - The Digital Library

دا ډول شعرونه یا نظمونه چې تر زیاته حده د یوه قید او سیستم تابع وي، د هندسي شکل ترسیم یې ډېر سخت نه برېښي، خو د بشپړو ازادو شعرونو د هندسي شکل ترسیم بیا د هر شعر په خپل خپل جوړښت پورې اړه پیدا کوي.

۲- د ازاد شعر بل ډول دادی، چې له مسرو څخه قافیه لرې شوې وي، یو متحد وزن تعقیبوي، یانې د یو قراردادي وزن لرونکی وي. د مسرو د څپو شمېر یې سره مساوي وي، خو یوه ټاکلې موضوع تعقیبوي. ځینې پښتانه ادب پوهان له هغې جملې نه پوهاند ډاکټر مجاور احمد زیار دې ډول شعر (نظم) ته (مونډی) (۳۸) شعر (نظم) وایي. دا هم د بشپړ ازاد شعر پر لوري یو ګام دی. شاعر دلته د قافیې او ردیف له باره ځان ژغورلی دی، خو له غزلو او قافیه والو شعرونو سره یې توپیر دا دی، چې دلته یوه ټاکلې موضوع تعقیبېږي. د شعر دوه مسرې کومه خپلواکه او مستقله مانا نه شي خندلای. د مسرو شمېر یې هم ټاکلی نه دی.

د ښکلا لمبې:

جوړ زما د نظر سیوری
ستا په دوارو اننګو کې
دا چې ناځي راته وایي

ketabton.com - The Digital Library

په لمبو کې د ښکلا دې
د الفت د دوک په ګوتو
اړولم راړولم
ستا له پامه چې یاغي شوم
د کړو وروځو په ول مې
د ارام زړګي کوډله
د ماښام د اوښکو تل کې
د کباب زړګي له تاوه
په امید د ژوند لاهو کړه.(۳۹)

دلته به د دې شعر هندسي جوړښت یوه بېلګه راوړو:

________________________________
________________________________
________________________________
________________________________
________________________________
________________________________
________________________________
________________________________
________________________________
________________________________
________________________________
________________________________

ketabton.com - The Digital Library

**۳- ازاده منظومه:** د ازاد شعر یو بل ډول، ازاده منظومه ده، چې یوه اوږده موضوع او پېښه انځوروي. دا فورم داستاني بڼه لري، په پېښو کې نورې پېښې هم انځوروي، په دې ډول فورم کې قافیه او ردیف موجود نه وي، خو کله کله کېدی شي د خوند لپاره یو نیم ځای په کې قافیه او ردیف راشي. په دې فورم کې د مسرو د څپو شمېر سره یوشان نه وي. په پښتو کې دا ډول منظومې ډېرې دي. د استاد بهاوالدین مجروح ځانځاني ښامار، نا اشنا سندرې هم دې فورم ته ورته دي، د پیرمحمد کاروان او ځینو نورو شاعرانو هم دا ډول منظومې شته. دلته به له دې ډول ازادو منظومو څخه د ځوان شاعر عبدالغفور لېوال د منظومو یوه بېلګه وړاندې کړو.

## بـاد

کبرګل[۱] کبر وکړ
او خدای(ج) له باغ څخه تبعید کړ اوس په غره کې اوسي
باد راته تشه لپه بیا نیولې
ستا مینه وړو او په تمه اننګو ته زما له شونډو نه سلام غواړي

[۱] کبر ګل یو ډول غرنی ګل دی او د سړو سیمو په لوړو غرونو کې ټوکېږي، د سترګو په شان بڼه لري او جوله یې د غاټول ده، ډېر ښکلی دی، سر یې کښته ځړېږي او اوښکې ورڅخه تویېږي، د دغه ګل په هکله فولکوریکې کیسې هم شته.

ketabton.com - The Digital Library

باد زما پر مینه مین نه دی
ستا لیدو ته درځي
باد د پلمو تږی دی
باد ډېر هوښیار دی په کیسو کې راته خوب راولي
غواړي په خوب کې زما له شونډو نه سلام غلا کړي
او باد کیسه کوي چې:
هلته جنت کې کبرګل پر یوې ښلکې ښاپېرۍ مین و
ګل ښاپېرۍ ته د هغې د ښایستونو د ستاینو کتاب
په څومره مینه د لېمو په ژبه ختم کړلو
خو د هغې په ښکلو سترګو کې یې ټکی د باور ونه لید
د ښاپېرۍ ایمان پر خپل حسن هنداره غوښته
ګل د باغچې پر سینه خوب پرېښوده
ګل لېونی شو د غره کاڼو ته یې غېږ پرانیسته
چې ښاپېرۍ ور نه خپل حسن ته هنداره غوښته
خو ګل جنت کې د وږمو پر ښیښه کبر وکړ
چې: زه مې ښکلې ته غزلو نه ائینه جوړوم

❋❋❋

نو ای د باغ شهزاده !
ولاړ شه د غرونو د کوڅو ملنګ شه
تر هغې ورځې چې شاعر شې

ketabton.com - The Digital Library

تر څو مينه زده کړې
او ګل همداسې وکړل
چې لا تراوسه د ډبرو د اوښانو په پيکي کې زانګي
چې لا تراوسه يې په زړونو کې غزل لټوي
او لا د اوښکو په تار
د لمر د وړانګو پر ليک
د خپل شهيد ګرځنده سيوري په نوم
پر خپلو پاڼو شنه توغونه ليکي
خو ګل لا نه دی شاعر
باد مې د کلي پر کوڅو پېښن شو
باد لکه سترې بقال
د خپل شاعر زړګي بوخڅې راته پرانيستې
د کيسو په بيه ما څخه سلام غواړي.

❋❋❋

۲

يو ببر سري د پښو پر شونډو ښکل کړې
د ډبرو د زخمي اوږو سپېرې شونډې
او هلته پاس يې د غره تور کاکل کې وليد د سپرلي شهزاده
څه دي کوچيه ګله؟
ولې دې خپل څيرې ګرېوان کې اشرپۍ د اوښکو

ketabton.com - The Digital Library

تر خپل قدم لاندې د ورک قسمت د کرښو برج ته
لکه د پښت بابا پر پټه خزانه شیندې
او تش بانه دې ورته نېغ لکه نېزې نیولي
مګر ته هم لکه مومند بابا د خپل مراد د مخ جلوه خپل زړه کې ګورې
بس ببر سریه څوک یې !
او تاته چا ده درښودلې د ګلونو ژبه
زما د زړه له راز نه چا خبر کړې؟
ماته شاعر ښکاره شوې
زه دې د سترګو د ایلبند له کومې پېغلې کوچۍ
د خپل ارمان پګړۍ ته ګل وغواړم
زه مې د مینې د ښکلا قامت تـه څـه شي نـه آینـه جـوړه کـړم او ببر سري ورته
لار د مینتوب وښوده...

***

### ۳

باد مې د عشق په غنم لور راغی
لکه لوګر مې د زړه للمو نه ستړی، ستړی سلام رېبي
او سره غرمه کې زما د روح د شنه توت سیوري ته د باد لوګر
کیسو ستړی کړ
چې د شنه باغ شهزاده

ketabton.com - The Digital Library

د تورو غرونو ملنګ
ها لېونی ګل خپل زلمی زړګی کوچی کړ
چې د مینې له بادونو سره کډه وکړي
او د شپېلۍ کوډګر او مست غږ یې بیا
د ښاپېرۍ پر تور وربل وناخي
څوک له خپل شنه تخته راپاځي لالهانده شي کوچی شي
او ګودر وويني
څو شنه ویاله کې د خپل حسن انځور وپېژني
تر څو په مینه پوه شي
څو یې چې مینه کړي د تورو غرونو جبل کې بندي
او څو د ګل له شنې اروا سره شي غاړه غړۍ
شپېلۍ پر شونډو یو کوچي د باران لار وهله
او ملایکو د اسمان پر دروازو ولیکل:
(( د ګل مین زړګی پرد ښس شو د اسمان کلي ته ))
***

باد مې د اوښکو چم ته بیا راغلی
زما پر ستومانه ښو کاڼي تړي
باد شو د مینې د سلام د شنو مرغیو ښکاري
باد د خوب باغ کې راته دام د کیسو بیا ایښی دی.

ketabton.com - The Digital Library

۴

وخت د پېړیو غمي وپېیل د غرونو هار کې
او د زلمي کوچې کوډګرې شپېلۍ
د ښاپېرۍ د شنې اروا په غوټۍ
په ځومره مسته مینه
د لېونتوب شنې پرخې پڼ ولې
او ښاپېرۍ یې لاالهاند کړه کوچۍ شوه پرګودر پېښنه شوه
یوه مینه کوچۍ
لکه ګل ځانګه کې شبنم او لکه اوښکه ښکلې
لکه پر شنه ځنګله خوره وره د وربځو لړۍ
لکه د غره هسکه دره کې ړنګه بنګه د باران ګردله
کوچۍ دنیا ته راغله
خو د ګل زړه بېرته راونه ګرځېد
هو د زلمي کوچي خبر رانه غی
لکه د وربځو له خاطر څخه هېر شوی د باران ځاځکی
لکه تاریخ څخه په جبر ویستل شوی اتل
لکه سرحد د نادري اور د سیخونو او پښتون سیدال د سترګو ترمنځ
لکه میوند کې د ملالې د لنډۍ انګازې
لکه زما مینې نه وتلی جنون
لکه ستا سترګو څخه تللی غرور

ketabton.com - The Digital Library

کوچۍ دنیا ته راغله
خو ګل هماغسې بې زړه پاتې شو.

***

باد شو لېمو کې د کیسو انځورګر
بیامې د خوب او وینښتابه پر پوله ناست دی لکه ستړی مانښام
زما د مستې بېخودۍ لار کې یې ایښی نظر
څو مې له عقل څخه لرې د عشق کلي نه سلام غلا کړي
او ښایي باد دی چې په خوب کې مې اروا سره
د عرش مېلمه شو.

## ۵

او زما د خوب د پاڼو سترګې لا کوچۍ پېژني
ها د شپېلیو د کوډګرو سندریزو میو مست ساقي
هغه اروا د کبرګل هغه د عشق د بېخودیو پاچا
ها پر ښکلا د سپین باور د آینو سوداګر
ها له مجاز نه حقیقت پورې د تږیو کاروانو څاروان
ها د سهار پر اوږو ناست هغه د ورځې دلیل
ها د ایمان په کروندو کې د شنې مینې بزګر
ها د سپرلي عیسی چې زما د خوب صلیب
یې پر اوږو بار دی
ها د شاعر د سترګو شپو کې تر معراجه تللی

ketabton.com - The Digital Library

ها را ببېل شوی له اسمانه چې په خدای مین شو
ها له خپل آرنه د ببېلتون له چیغو جوړ انځور
د ښاپېرۍ د مینې لاس نه د خدای مینې یو وړ
او د جنت مېلمه نه ځان هېر شو
چې څنګه پاښې پاښې ژاړي د اسمان لارو ته
چې یې ښکالو ته لا د غره په کاږو سیوری کوي.

✵ ✵ ✵

ماته د خوب شهزادګۍ غېږ پرانیستې
زه یې سینه باندې د غره د وږمو مینه کوم
دا راته سترګو کې کیسې د ښاپېریو کوي:

۲

د ښاپېریو له ټبر نه یوه پېغله کوچۍ
چې یې ورک کړی د خپل عشق د اوږد مزله ملګری
لکه د وربځو د کوڅو بوړبو کې
لکه د ګڼو ستړي فصل کې
له خپلې خېلخانې نه پاتې شوې لالهانده زانه
راغله د غرونو د کوڅو لیلا شوه
وخت د پېرېو له باران نه لیچې ډکې کړلې
پر ګل د ډېرو کوچانیو کمیسونو د لمنو سیوري ورپېدل
ګل یو ځل نه څو ځلې هسک شو پر کمڅو د پېغلو ونځېده

ketabton.com - The Digital Library

خو نه ګلونه ښاپېرۍ پېژنده
نه ښاپېرۍ ګلونه و پېژندل
لکه ړانده غاټول نه ورک د پسرلیو موسم
لکه له تربې چنار هېره د ګودر غاړه
لکه شپېه د بېلتانه کې مروره سلګۍ
لکه بېدیا کې له چینې نه سیند ته پته لاره
لکه زموږ د هرې ورځې د سپېدو له شونډو ورکه موسکا
ورکه همدا سې ورکه
خو ګل لا خپل غزل ساتلی د کوچۍ قامت ته
مینځې یې هره ورځ په سپینو اوښکو
او ښاپېرې لا په دې نه پوهېږي.

✵✵✵

مانه د خوب پرښتې والوتلې
لا مې د سترګو د سپېرو مینو نغریو کې د خوب
د سبایي اورونه بل دي ما ترې کډه کړې
او زه په برندو د ګل سیوری وینم
چې لا لهانده دی د خپلې مینې لارې څارې.

۷

او دا دی خپل یوازېتوب مې لاس نیولی ځم د غرو څوکو ته

ketabton.com - The Digital Library

هلته به ګل ته د کوچۍ د کوچ کیسې وکړم
زما دا اروا په ماته چیغه کې به ګل ووینې
چې زړه یې خنګه د اسمان کوربه شو
چې ښاپېرۍ ورپسې خنګه لالهانده شوه،
کوچۍ شوه اوس پر غرونو ګرځي
څو چې د ښکلې ګل پر هرې لېونۍ پانې
زما د خوب یو تاج محل جوړ شي
زه به کوچۍ ته کبر ګل وښیم
څو مې غزل شي د رښتیا هنداره
خوب مې ساقي شي د راز جام به د کوچۍ تږې خاطر ته ورکړي
څو یې اروا د باد په پټو کیسو وپوهېږي
زه به وصلت شم ښاپېرۍ او ګل به ببرته د جنت مېلمه کړم
هلته به عشقه ستا دربار ته په غرور درځم
هلته به مینې ستا د ښکلې چم شاعر شم
لېونی به شم څو مینه زده کړم
دا دی کوچۍ درغلم!
او دا دی واوره ګله!
آه خدایه! دا څه وینم
باد مې سلام غلا کړی
باد رانه ژبه د ګلونو وړې.(۴۰)

ketabton.com - The Digital Library

د ازادو منظومو هندسي جوړښت ټاکلی نه دی ځکه چې ټولې دا ډول منظومې يوه ټاکلې بڼه نه لري. سره له دې چې ازادې منظومې سره څه ناڅه ورته بڼه لري، خو بيا هم د يوې او بلې ترمنځ د مسرو د شمېر، د بندونو د شومره والي، د مسرو د اوږدوالي او لنډوالي له پلوه توپيرونه موجود دي، نو ځکه لکه د غزل، لنډۍ، څلوريزې او يا هم قطعې په شان د ټولو لپاره يوه ټاکلې هندسي بڼه نه شته، البته کېدی شي هره ازاده منظومه په جدا او بېله توګه ترسيم شي او د همغې لاسلرلې منظومې شکل انځور شي.

**۴- بشپړ ازاد شعر:** بشپړ ازاد نظم هغه دی، چې په هغه کې يوه ټاکلې موضوع انځورېږي، د مسرو شمېر او اوږدوالی يې مقيد او ثابت نه دی. قافيه او رديف په کې مطرح نه دي، البته کله يو نيم ځای د خوند د زياتون لپاره راځي، خو وزن تراوسه پورې د ازاد شعر په اساسي توکو کې راځي. لکه څنګه چې د ازاد شعر له نامه څخه ښکاري؛ د يوه ټاکلي او ثابت شکل قيد نه زغمي؛ نو ځکه د ټولو ازادو شعرونو لپاره يو ټاکلی ثابت او کوټلی هندسي شکل نه شته، چې د ټولو ازادو شعرونو رغښت دې افاده کړي. البته په ځانګړي ډول د هر ازاد شعر د ځانګړي هندسي شکل د ترسيم امکان شته. يو ځل بيا يادونه کېږي، چې ازاد شعر د څپو او د مسرو د شمېر او د مسرو د اوږدوالي او لنډوالي له مخې ازاد دی، خو تراوسه لا د وزن له بند څخه، نه دی ازاد شوی او هم هماغه څپيز

ketabton.com - The Digital Library

خجیز جوړښت، چې د پښتو شاعرۍ پر نورو شعري فورمونو تطبیقېږي، پر پښتو ازاد شعر هم د تطبیق وړ دی. دلته به د ازاد شعر څو بېلګې وړاندې شي:

### د مور لیک ته !

لیک مې د مور نه دی زده
چا ته بی ویلي وي
چا ته بی زاري کړي
چې را شه زما ګران زوی ته
ولیکه !
زه روغه یم ته څنګه یې !
یاد خو به دې وي !
چې یوه شنه پاڼه
زموږ د کور له ونې نه
په زوره چا شکولې وه
ژړل به دې
تاتې، تاتې دې ډېره وکړه
ویده شولې
نو ګرانه مینه ګیرکی مې

ketabton.com - The Digital Library

راولیکه !

**زه روغه یم ته څنګه یې !(۴۱ )**

هندسي جوړښت یې د مسرو د شومره والي، اوږدوالي او لنډوالي له مخې په دې ډول دی:

بله بېلګه:

## ګیله

**دا منم چې پرښته یې**

**د شنه سیوري په رڼا کې**

ketabton.com - The Digital Library

لویه شوې ښایسته یې
مګره ګوره:
ما دې څانګو ته
لا لاس در وړی نه و
تا د سرو مڼو د غله په نوم رسوا کړم ! ! ! (۴۲)

هندسي جوړښت یې دادی:

=a__________________________

__________________________

=a__________________________

_______________

__________________

______________________

_________________________________

د ازاد شعر بېلګه:

کب
بېچاره کب !
هغه تور نه پېژني
او نه بې وروسته له دې و پېژني
ځکه چې هر ځلې یې تور ولیده
بیا یې د سترګو کنګل
د اوبو مخ ونه لید. (۴۳)

ketabton.com - The Digital Library

هندسي جوړښت يې په دې ډول دی:

______________

____________________

________________________________

________________________________

_________________________

_________________________

ketabton.com - The Digital Library

# دریيم څپرکی

## د پښتو ولسي شاعرۍ یا نظم فورمونه

### ۱- لنډۍ:

لنډۍ په پښتو شاعرۍ کې تر ټولو کوچنی شعري فورم دی، خو د مانا د ځواک او لېږد له پلوه نه یوازې په پښتو شاعرۍ، بلکې په نړیواله شاعرۍ کې یې ساری لیدل شوی نه دی.

د لنډۍ کمال په دې کې دی، چې مجموعاً په ۲۲ څپو یا دوو مسرو کې درووند مانیز بار او ښکلا لېږدوي. د لنډۍ لومړۍ مسره ۹ او دویمه ۱۳ څپې لري، لنډۍ قافیه نه لري، خو د دویمې مسرې په پای کې یوه اهنګینه کلمه لري، چې د لنډۍ ټول اهنګ بشپړوي. هره لنډۍ باید د زور (ه) په واول یا غږن اواز پایته رسېدلې وي. په پای کې دا زور (ه) رانه شي نو اهنګ یې نیمګړی پاتې کېږي. لنډۍ د پښتو ژبې د فونولوژیکي (غږیز) جوړښت تابع ده او د هغې پر بنسټ جوړېږي. په نورو ژبو کې د دې ډول شعر (البته په همدې وزن او اهنګ) څرک لیدل شوی نه دی او نه نورو ژبو ته د لنډۍ په ژباړه کې د دې اهنګ ساتل شوی دی.

ketabton.com - The Digital Library

پر ټولو لنډیو باندې یو قانون د تطبیق وړ دی، یانې دا چې د هرې لنډۍ لومړۍ مسره باید حتمي ۹ او دویمه ۱۳ څپې وي. د هرې لنډۍ د لومړۍ مسرې څلورمه او اتمه څپه او د دویمې مسرې څلورمه اتمه او دولسمه څپه، خجنه وي. لکه:

امانتي مې ګور کې کېږدئ

که یار خبر شي ما به خپل وطن ته وړینه

ددې لنډۍ څپیز- خجیز جوړښت په دې ډول دی:

U – U U U – U U U

U – U U U -U U U – U U U

له مانیز پلوه لنډۍ پر بېلابېلو ډولونو وېشل کېدی شي. د پښتني ټولنې د ژوند د ټولو ډګرونو انځورنه په کې کېدی شي او شوې هم ده، خو د شکل او جوړښت له مخې لنډۍ همدا یو ټاکلی شکل او قانون لري.

دلته به یو څو لنډۍ د بېلګې په توګه وړاندې کړو:

یوه وعده راسره وکه

چې د صراط په پله به یوځای سره ځونه

***


ستا به واده زما به مرګ وي

ستا به ډولۍ زما به کټ خاورو ته وړینه

***

ولې دې بد راسره وکړه
زما همدغه هیله وه چې یار لرمه

څرنګه چې په لنډیو کې د وروستۍ مسرې وروستۍ کلمه اهنګینه وي او د وروستۍ څپې اهنګ یې لوړ او تر هغې د مخه څپې اهنګ یې لوېدلی شان وي (          ) نو دلته کېدی شي د لنډۍ هندسي جوړښت داسې ترسیم شي:



لنډیو ته (ټیکۍ)، (مسرې) او (ټپې) هم وايي، چې دا هر یو نوم خپل ځانګړی تعبیر او لهجه یې استعمال لري، خو د دې ډول شعر عام او منل شوی نوم همدا (لنډۍ) دی.

## ۲- سروکی (نیمکۍ):

سروکی د پښتو ولسي سندرو یو ځانګړی ډول دی، چې بېلابېل فورمونه یا شکلونه لري. ځینې پښتانه سروکی (نیمکۍ) بولي او د پکتیا په منګلو کې د (پام) په نوم یادېږي.
سروکی د پښتو ولسي سندرو د نورو اصنافو په څېر د پښتون قام د زیاترو کړو وړو انځورنه کوي او د خلکو د ملي، اجتماعي او روحي ځانګړنو عکاسي په کې شوې ده.

ketabton.com - The Digital Library

سروکی معمولاً د لنډیو په واسطه بشپړېږي، داسې چې لومړی سروکی ویل کېږي، بیا ټیکی (لنډۍ) وراچول کېږي. له سروکو سره ټولې لنډۍ ویل کېږي، خو هغه لنډۍ چې د سروکي له موضوع سره ارتباط ولري، خوندورې وي. لنډۍ وار په وار بدلېږي، خو سروکی د هرې لنډۍ په پای کې مکرر راځي. لکه:

خانه راځه دلبره
ډ کې لارۍ د جنکو لندن ته ځینه
د جنکو قدر یې کم که
امان الله ته دې خدای لونې ورکوینه
خانه راځه دلبره
ډ کې لارۍ د جنکو لندن ته ځینه

سروکی کله یو بیتیز وي، یانې دوه مسرې لري، چې لومړۍ مسره یې اوږده او دویمه یې لنډه وي او کله یې دویمه مسره اوږده او لومړۍ یې لنډه وي، کله درې مسریز، څلور مسریز او پینځه مسریز هم وي، چې دلته به د هر یوه بېلګه راوړو:
دوه مسریز سروکی چې لنډۍ هم ورسره مله ده:

الا یو غږ وشو

ketabton.com - The Digital Library

راغلې مه وای د جبو په میدانونه
د لمندار کمیس مېرمنې
الا یو غړ و شو
اور له لمنې باروې ستې دې کړمه
الا یو غړ و شو.

درې مسریزه سروکی:
پسې ورجګ کړه سره لاسونه
لنډ کړه د ټیکي مزي دې
خال به دې وران شي.

څلور مسریزه سروکی:

تورې سترګې خماري
درته کړم ناله زاري
د زړه زخم مې کاري
شوم رسوا ستا په یاري

پینځه مسریز سروکی:

ketabton.com - The Digital Library

بي بي شېرينې
زېړې ګلې
راباندې واچوه
يوه لونګۍ
جوړه لاسونه

ښاغلی زلمی هېوادمل ليکي: (( سروکی بېلا بېل فورمونه لري چې ځينې يې ډېر زاړه دي او د اوستايي ګاتونو له (هوخشتاتره) او (اهونار) سره په تول او وزن کې برابر خېږي)). (۴۴)
ددې ډول سروکو هندسي رغښت داسې انځورېدی شي. دوه مسريز سروکي لږ تر لږه دغه لاندې بڼې درلودلای شي:

________________
______________________

a____________________________
a______________
a____________________________
a____________________________

دويمه او دريمه بېلګې يې دا دي:
شين کميس راوړی کمر بند مې دی تر ملا
و غازي امان الله

ketabton.com - The Digital Library

✵✵✵

**مین چې شو مه په ګل ببو**

**ستي يې کړمه په سرو لمبو (۴۵)**

## د درې مسریز سروکي شکلونه:

یو ډول یې هغه دي، چې د سر لومړۍ مسره یې تر دویمې اوږده وي او دویمه یې تر درېیمې. بل ډول یې دادی، چې د سر لومړۍ او درېیمه مسره یې د څپو د شمېر له مخې برابرې وي او هم قافیه وي، خو دویمه مسره یې قافیه نه لري او هم لنډه وي. شکل یې دادی:

____________________________

________________________

____________________

✵✵✵

a____________________________

________________

a____________________________

دویمه بېلګه یې داده:

**پورې د جانان کلې بارېږي**

**زم ورسره ځمه**

**کله مې مین زړګی صبرېږي (۴۶)**

## څلور مسریيز سروکی:

ketabton.com - The Digital Library

هغه ډول چې ټولې مسرې يې قافيې ولري او د څپو شمېر يې سره مساوي وي. لکه:

a________________________
a________________________
a________________________
a________________________

بله بېلګه يې داده، چې څلور واړه مسرې يې ټولې قافيه والې نه وي او هم يې د څپو شمېر سره برابر نه وي، لکه دا سروکی:

ګودر غاړه اجاره
ما بې وروره مه کې
وروري ما سره جوړه
شرنګ دې د بنګړو (۴۷)

د پورتني سروکي شکل داسې دی:

a______________________
__________________
a______________________
____________

د پينځه مسريز سروکي يو شکل په دې ډول دی:

____________________
____________
________________________
____________

ketabton.com - The Digital Library

سربېره پر دې د سروکو نور ډېر ډولونه هم شته لکه هغه سروکي چې د ښځې او نارينه ترمنځ د سوال او ځواب په توګه ويل کېږي لکه:

ښځه: جانانه راشه ديدن وکړه
خفه زړګی مې ښه کړه
سبا بېلتون دی

نارينه: ګلې سبا ته به درځمه
تا نه خفه کومه
ښکلی ژوندون دی

بله بېلګه:

ښځه: خان دلاور خانه، توره دې لونګی، شمله دې لا مزه کوينه.
نارينه: ګلې بي بي ګلې، تورې سترګې سره لاسونه لا مزه کوينه.

دغه راز يو شمېر ډول ډول سروکي هم شته، چې په بېلابېلو سيمو پورې اړه نيسي، په لنډ ډول هغه د سر محقق زلمي هېوادمل په وينا: ((د سروکو د فورمونو شمېر خورا زيات دی.))

## ۳- کاکړي غاړې (کاکړۍ):

ketabton.com - The Digital Library

کاکړي غاړې چې کاکړۍ لنډۍ يې هم بولي، د پښتو ولسي ادبیاتو یو خوږ ډول دی، چې راز راز موضوعات (رزم او بزم د پښتو ټولنیز، اقتصادي شرایط، کلتوري پابندي، دیني او عقیده یي مسایل، ساده ولسي افکار، ټوکې او ټکالې او د پښتني کلتور بېلابېل اړخونه، خویونه او رواجونه په خپله لنډه تنګه غېږ کې رانغاړي.

کاکړي لنډۍ که څه هم له نامه څخه يې له کاکړو سره تړلې معلومېږي، مګر د ټولو پښتنو اصیل مال دی او په پښتنو کې داسې کام نه شته چې ددې لنډیو په جوړولو کې یې لږه یا ډېره ونډه نه وي اخیستې. دغه ډول له نورو ټپو څخه یو جلا او بېل شی دی، چې لومړی وار کاکړو ننښلولي دي او تر ننه به زیات و کم پنځوس زره کاکړي لنډۍ جوړې شوې وي.

کاکړي لنډۍ له دوو مسرو څخه جوړې وي، چې کله کله یې د دواړو برخو سېلابونه سره برابر او کله کله تو پیر سره لري او د دواړو برخو وروستي توري يې سره یو رنګ وي. هغه کاکړي غاړې چې هره مسره یې اته اته سېلابه وي:

ښايستې که ستا رضا ده
ستا د قام بدي پر ماده

هغه غاړې چې يوه مسره یې اته او بله نهه سېلابه وي:

ketabton.com - The Digital Library

شين خالی نجونې لانبې دي
پــه لاره ځي لــه خندا شنې دي

هغه غاړې چې يوه مسره يې اوه سپلابه او بله يې اته سپلابه وي:
تر لاس نه تړو کړې
مورې ملنګان يو شين خالی
اوه سپلابه غاړې:
د بوټو تنې تړم
د شاکار مېلې ته ځم (۴۸)
په عمومي ډول د دې ډول فورم هندسي جوړښت داسې دی:
يو ډول:

=a_____________________
=a_____________________

بل ډول: a___________________
a___________________

## ۴- د اتڼ نارې:

د اتڼ نارې، لکه له نامه څخه يې چې معلومېږي، يوازې پـه اتـڼ کې ويل کېږي، پـر ناسـتې نـه ويـل کېږي، کـه څوک يـې ووايـي هم

ketabton.com - The Digital Library

خوند نه کوي. ښځې هم په ښاديو کې اتڼ کوي او نارينه هم. د نارينه وو د اتڼ نارې ښځې هم په خپل اتڼ کې وايي، خو ښځې ځانته بېلې مخصوصې نارې هم لري، چې هغه نارينه په خپل اتڼ کې نه وايي. د نارينه وو د اتڼ نارې پر ډول ډول او بېل بېل وزن د اتڼ چيانو له حرکاتو سره سمې ويل کېږي، لکه ورو اتڼ، يو بغله اتڼ، دوه بغله اتڼ، درست اتڼ، د ايشلي اتڼ، د ناستې اتڼ د پروتې اتڼ، د پروتې دوه بغله اتڼ، چپه و راسته اتڼ، غلی اتڼ او... (۴۹)

ددې هر ډول اتڼ له حرکاتو سره سم ناره له خپل وزن څخه اړوي او په نوي وزن يې وايي.

د اتڼ نارې معمولاً درې او څلور مسرې لري، خو هم په درې مسريزه او هم په څلور مسريزه ناره کې د مسرو د څپو شمېر سره مساوي نه وي. په درې مسريزه ناره کې لومړۍ او درېيمه مسره سره هم قافيه يا هم اهنګه وي، وروستۍ يا درېيمه مسره معمولاً لويه وي او دويمه مسره يې تر ټولو کوچنۍ وي.

چتې چې په پښو دې کړې چوتې
ځوانان دې لېوني کړه
زاړه خواران دې وايستل له ګتې

په پورتنې ناره کې (چوتې، ګتې) د قافيې کلمې دي. لومړۍ مسره ۱۰، دويمه مسره ۷ او درېيمه ۱۱ څپې ده.

واورئ د هوا مرغانو واورئ
مسا پر مې دورې تللي

ketabton.com - The Digital Library

## مرغانو په وزرو کې يې راوړئ

په دې ناره کې لومړۍ مسره ۱۰، دويمه ۸ او دريیمه ۱۱ څپې ده (واوړئ او راوړئ) يې د قافيې کلمې دي. هندسي جوړښت يې داسې انځورېدلای شي:

a__________________
_________________
a______________________

ددرې مسريزو نارو بل ډول دادی، چې د قافيې ترڅنګ رديف هم لري لکه:

**کميس مې تر لمنې ګلاګل دی**
**د خيال کميس مې دادی**
**چې اورونه لګوي هغه لا بل دی**

په دې ناره کې (ګل او بل) د قافيې کلمې دي. (دی، دی) يې رديف دی. لومړۍ مسره ۱۱، دويمه ۷ او دريیمه ۱۲ څپې ده. هندسي جوړښت يې داسې دی:

=a__________________
______________
=a______________________

ketabton.com - The Digital Library

کله کله په درې مسریزه ناره کې داسې هم پېښېږي، چې لومړۍ او وروستۍ مسره د څپو شمېر له مخې سره مساوي وي. لکه په دې ناره کې:

**هلکه چې سپین موټی دې چاړه ده**

**ما به خولګۍ درکړه**

**هلکه خو ریباره دې میره ده**

ددې نارې لومړۍ مسره ۱۱ دویمه ۲ او درېیمه هم ۱۱ څپې ده.

هندسي رغښت يې دادی.

=a__________________

___________

=a__________________

د اتڼ نارو بل شکل دادی، چې څلور مسرې ولري، ددې هرې مسرې د څپو شمېر له بلې سره مساوي نه وي. لومړۍ او درېیمه مسره يې نسبتاً کوچنۍ او دویمه او څلورمه یې تر هغو دوو نورو لویې وي. معمولاً لومړۍ، دویمه او څلورمه مسره يې سره هم قافیه وي. لکه:

**دله دله دله**

**کوتره یم راغلې له کابله**

**یا به کابل خپل کم**

**یا به راوړم د کابل ژېړه بلبله**

ketabton.com - The Digital Library

لـومړۍ مسـره ۲ دویمـه مسـره ۱۱ درېیمـه ۲ او څلورمـه ۱۲ څپـې ده.
(دله ، کابله او بلبله) د قافیې کلمې دي. بله بېلګه:

خانه زموږ خانه
دا ستا خاني دې خدای نه کي بېرانه
ملکونه دې رعیت کړه
د دښمن کلا دې وکښه د میدانه.

په دې ناره کې لومړۍ مسره ۲، دویمه ۱۱، درېیمه ۷ او څلورمه ۱۲ څپې ده. (خانه، بېرانه او میدانه) یې د قـافیې کلمې دي، د لـومړۍ نارې هندسي شکل دادی. لومړی شکل:

a____________
a_________________
____________
a____________________

دویم شکل:

a___________
a_________________
______________
a____________________

دویمه بڼه:

د څلور مسریزو نارو بل ډول دادی، چې د قـافیې ترڅنګ ردیف هم لري. لکه:

څه کم د چا څه کم

ketabton.com - The Digital Library

پر خپل غولي ولاړه یم کاته کم
یار که مې نادان دی
د بل پر ښایستو به یې ورنه کم

په پورتنۍ ناره کې لومړی مسره ۲، دویمه ۱۰، دریمه ۲ او څلورمه یې ۱۱ څپې ده. (څه، کاته، ورنه) یې د قافیې کلمې دي.
(کم، کم) یې ردیف دی، هندسي شکل یې دا دی:

=a_______________
=a_____________________
______________
=a_______________________

ولاړه (دوه څپې)
د څلور مسریزې نارې بله بېلګه داده:

پوړنی مې ابي دی
له خیاله مې غبرګ کړی پر تندي دی
مابه اتڼ وکړای
دا ستا د بابا کلی رخشندي دی (۵۰)

په پورتنۍ ناره کې لومړی مسره ۷، دویمه ۱۱، دریمه ۲ او څلورمه ۱۱ څپې ده. (ابي، تندي او رخشندي) د قافیې کلمې دي.
(دی، دی) ردیف دی.
هندسي رغښت یې داسې راځي:

ketabton.com - The Digital Library

=a________________
=a______________________
________________
=a______________________

پر پورتنیو یادو شکلونو سربېره د اتڼ په ځینو نارو کې د قافیې او څپو د شمېر په حساب لږ شان بدلون ښکاري، خو ډېر عام نه دی. د اتڼ د نارو اساسي شکلونه همدا وو، چې پورته یې یادونه وشوه.

## ۵- ببولاله:

ببولاله د پښتو ادب هغه مخصوص شعري فورم یا سندره ده، چې د واده پر لومړۍ ورځ، کله چې د ناوې سر وغوړوي او د واده پر مخصوص تخت یې کېنوي، د ورا او د ناوې تر خوا ښځې ګډې وډې شاوخوا سره کېني او ناوې په منځ کې ناسته وي، نو دا ښځې دغه سندرې په ګډه وایي.

کله کله د ببولالې له اصلي متن سره یوه بله مسره هم یوځای کوي او بیا یې په ترنم کې وایي، دا مسرې ببلابېلې دي، چې د خپلې مانا له مخې ببولاله هم د هغې په نامه یادېږي. لکه (دوه دوه تاره اخلي) (خور ښادي) او (ښه رورا)، بېلګې یې دادي:

دوه دوه تـــــاره اخلـــــــي
ګیســـو ورو ورویـــې بېلویـــه
نـــاوکۍ مـــوده نانداـــه

ketabton.com - The Digital Library

تـــر غرمـــې مـــې يـــې ځنډويـــه

*** 

خـــور ښـــادي دې مـــه ســـه پاتـــه

خـــور ښـــادي دې مـــه ســـه پاتـــه

خـــــور ښـــــادي مـــــو ده

د کمپلـــې ژی، يـــې تـــورې

د کمپلـــې ژی، يـــې تـــورې

خـــــور ښـــــادي مـــــو ده

لالـــی پـــر ننـــګ مـــين دی

خپښـــې نـــه باســـي ســـرتورې

خـــــور ښـــــادي مـــــو ده

*** 

ښـــه رورا ښـــادي دې وســـه

شـــاه ســـلامتي دې وســـه

شـــين بادرنـــګ او بـــورا وړی

شـــين بادرنـــګ اوبـــو راوړی

چا پـه خـوب نـه دی ليـدلی(**۵۲** )

ببـولالې عموماً درې مسـرې لـري. د مسـرو د څپـو شـمېر يـې سره مسـاوي وي، د پښـتو اکثره ببولالې د څپـو د شـمېر لـه مخې (اتـه)

ketabton.com - The Digital Library

څپې وي او دا قانون تقريباً پر ټولو ببولالو تطبيقېږي. کېدی شي د لنډيو په شان د ببولالو وزن هم ځانګړی وي، خو پر لنډيو بيا پر مطلق ډول يو قانون تطبيقېږي، خو په ببولالو کې يو څه شکلي بدلون شته.

په ببولالو کې قافيه شته. د ببولالو لومړۍ او درېيمه مسره په خپل منځ کې هم قافيه وي، خو دويمه يې له قافيې ازاده وي. يانې دا چې:

a______________________

______________________

a______________________

دغه راز ځينې ببولالې تر قافيې وروسته رديف هم لري چې دا بڼه غوره کوي:

=a______________________

______________________

=a______________________

په ځينو استثنايي حالاتو کې کېدی شي دويمه مسره هم قافيه اختيار کړي او هم کېدی شي د څپو په شمېر کې کومه څپه زياته او يا کمه شي، خو د ببولالو عمومي شکل او جوړښت همدا دی، چې درې مسرې لري، هره مسره يې اته څپې لري، لومړۍ او درېيمه مسره يې هم قافيه وي، که د څپو په شمېر کې زياتی او کمښت راشي، نو له ورايه يې په وزن کې کمی احساسېږي. د ترنم او

ketabton.com - The Digital Library

موسیقۍ پر وخت د ببولالو له مسرو سره (ها ببولاله لا له وای) یو ځای کېږي او د شعر کمپوز برابرېږي؛ لکه:

او ښ ولاړ زنګـــون ترلـــی (هـــا ) ببولالـــه
او ښ ولاړ (وای، وای) زنګـــون ترلـــی (وای)
تر هغو به یې خلاص نه کم (وای) ببولاله، لاله
څو زما جان (وای وای) نه دی راغلی (وای) (**۵۳**)

دلته به د ببولالو څو بېلګې وړاندې کړو:

پر کور سور زومبک څرېږي
هغه لور دې سترګې وخوري
چې د پلار په کور نازېږي

د مسرو شمېر یې **۳**، د څپو شمېر یې **۸**، (څرېږي) او (نازېږي) یې د قافیې کلمې دي. هندسي رغښت یې داسې دی:

a________________________
________________________
a________________________

د همدې شکل بله بېلګه:

پر کور دوه زرغونه شاله
زمـا جـان ورتـه ولاړ دی
لاس یې نه ورځي د خیاله

ketabton.com - The Digital Library

د ببولالې بل شکل دا دی، چې تر هماهنګو اهنګينو کلمو يا قافيې وروسته بله کلمه يا رديف هم ولري. دا يې بېلګې دي:

تر بالښت لاندې انار دی
دا سې زوم مو دروستلی
چې نامتو د کندهار دی

بله بېلګه:

ناوکی ګوتې د سرو دي
تر دسمال يې را ايستلي
چې سکه لېورونه ځو دي(**۵۴** )

په لومړۍ ببولاله کې (انار، کندهار) او په دويمه کې (سرو او ځو) د قافيې کلمې دي. په لومړۍ کې (دی، دی) او په دويمه کې (دي، دي) رديفونه دي، هندسي بڼه يې داده:

=a________________________

________________________

=a________________________

## ۲- چاربيته:

چاربيته د پښتو ملي شعري فورمونو هغه ډول دی، چې هر بند يې تر څلور مسرو څخه کم نه وي. زياتره چاربيتې په ملي موسيقۍ کې ځانته په زړه پورې اهنګونه او خوږې نغمې لري او د دې لپاره چاربيتې بلل کېږي، چې بندونه يې يا له څلور بيتو او يا تر څلورو

ketabton.com - The Digital Library

مسرو څخه بېخي کم نه دي. په چاربیته کې همېشه یوه اوږده موضوع چې اکثراً عشقي او حماسي وي (لکه د قصیدې او مثنوي په شان) افاده کېږي.

چاربیته د فورم له مخې په عمومي ډول پر دوو لویو برخو وېشل کېږي:

۱- ساده چاربیته.

۲- زنځیري چاربیته:

دغه دوه ډوله چاربیتې بیا په خپل وار سره د مسرو د شمېر برابروالي اوږدوالي او لنډوالي له مخې پر ډېرو نورو ډولو وېشل کېږي؛ لکه: د څلورو، پینځو، شپږو، اتو، نهو او لسو مساوي لنډو یا اوږدو مسرو زنځیري چاربیته.

له مانیز پلوه چاربیته پر عشقي، تاریخي، رزمي او نورو برخو وېشل کېږي. د ساده چاربیتې یوه بېلګه، دا چاربیته د نوښار د محمد دین ده.

مطلع: څوک به پیدا نه شي د فرهاد او شیرینۍ په شان
یو ځای به څوک نه شي د ادم او درخانۍ په شان

بند:

یو ځای به څوک نه شي لکه و عاشق فرهاد
تل به یې کولو په اشنا پسې فریاد

ketabton.com - The Digital Library

وه يې کړه خواري ځکه حاصل يې شـه مـراد
کړې به يې خبرې د طوطا د ښارونې په شان

بند: کـړې بـه يـې خبرې د مجنون دا مشغولا وه نه
بل به يې څه نه وو خو په خوله به يې ليلا وه نه
وچ شه لـکه دړه د خـاونـد پـه دې رضـا وه نه
بيا به ګرځېده پـه دې پسې د لـېونې پـه شان

بند: راغـی قـطب خان چې رارو ان له رانيزو نه شو
سر په ټيک ويـده و ځـکه پاتې لـه مزو نه شو
پروت و لکه مړی سرو کار يې لـه نـيازو نه شو
غوځ يې په ځيګر که لکه توري ايرانۍ په شان

بند: غوځ يې په ځيګر که چې رانجا عاشق په هير شو
تـل يـې سر تـندی واهه همېش د ځان په وير شو
مـړ مـلا بـهادر نـيمبو لا ځکـه دستـګير شـو
هلته ظلم نه شته دی شاګرده د خانۍ په شان(**۵۵** )

ketabton.com - The Digital Library

ددې ډول چاربيتې هندسي بڼه داسې انځورېدلای شي:

مطلع:

=a________________________

=a________________________

بند:

b________________________

b________________________

b________________________

=a________________________

تر پايه

په دې ډول ساده چاربيته کې له ځينې استثنايي حالت پرته، د ټولو مسرو د څپو شمېر سره مساوي وي. د هر بند وروستۍ مسره په قافيه کې د مطلعې له مسرو سره يو شان وي.

د پښتو ولسي شاعرۍ په باب ډېر ځله دا څرګندونه کېږي، چې په دې فورمونو کې ويل شوي شعرونه اکثره د نالوستو شاعرانو زېږنده دي. دا خبره مطلقه نه ده، په همدې فورمونو کې د هېواد يو شمېر نوميالیو لوستو شاعرانو هم شاعري کړې ده، له هغې جملې نه د همدې چاربيتې په فورم کې په ساده چاربيته کې له پورتني ډول پرته نور ډولونه هم راتلای شي. دلته به د ساده چاربيتې د يو بل ډول دوه بېلګې راوړو. لومړۍ بېلګه يې د جرار صيب ده:

د سترګو مخ مې وسو ياره ستا د مخ په نور تک تور لکه ماغوت

تاو کړی په ماغوت کې خپل اشنا ته ورم ضرور د سرو اوښکو ياقوت

که وايم ستا په مخ مې دا جوړه کسي وريته دي تاثير به د لمبې وي

ketabton.com - The Digital Library

| | |
|---|---|
| وښته د مخ له تاوه تار پــه تــار ســره پــراته دي | دا تاو به د شـغلې وي |
| حبشو ته حيران يم پــه فـرنگ يــې ورخـاتــه دي | دا زور به د حــملې وي |
| سپــين مــخ دې مــعركه شــو امــتحان به كړي ضرور | معلوم به شي مزبوت(۵۲) |

پـه دې ډول فـورم كـې د سـر لـو مړۍ او دريـيمـه مسـره د څپـو د شـمېر لـه مخې پـه خپـل منځ كـې سـره برابـرې دي او يـو شـان قـافيـه تعقيبوي. دويمـه او څلورمـه مسـره بيـا پـه خپـل منځ كـې د يـو شـان قافيې لرونكې او د څپو د شمېر له مخې سره برابرې وي، د هر بند لويې مسرې په خپل منځ كې د څپو د شمېر له مخې سره برابرې او په خپل منځ كې يو شان قافيه تعقيبوي او وړې مسرې يې په خپل منځ كې، خو د هر بند د پـاى لويـه او وړه مسـره بيـا د مطلعې د لـويې او وړې مسرې د قافيې او شكلي جوړښت تابع ده. پـه ټـوليز ډول ټـولې لـويې مسـرې لـه لويـو او وړې مسـرې لـه وړو سره د څپـو د شـمېر لـه مخې برابرې وي.

بڼه يې داسې انځورېدلاى شي:

| | |
|---|---|
| a__________________ | b____________ |
| a__________________ | b____________ |
| =c__________________ | =d____________ |
| =c__________________ | =d____________ |

ketabton.com - The Digital Library

| | |
|---|---|
| =c__________________ | =d____________ |
| a__________________ | b____________ |

دې ته د ورته چاربيتې يوه بله بېلګه هم راوړو. دا د ملا مقصود چاربيته ده:

مطلع:

شين خال دې په شمال اينبی د وروځو په پيوند — ځلېږي زرافشان
اوربل دې الول لکه بخمل دې بند په بند — راپورته کړه چشمان

بند:

شين خال دې په مشال اينبی د وروځو په مابين — له ورايه تجلی کا
نری پوزه الف خواړه دې دواړه شفتين — زړګی مې واويلا کا
زنخ لرې ګبين خوله دې شيرين سره دې عنين — څوک څه لره ګيلې کا

✵ ✵ ✵

جمال درکړی رب، لرې نسب دا سې څرګند — رايت دې که خاقان
جمال راکړی رب لرم نسب د پاچايانو — روغ ځان ساته کمبخته
عاجز غريب سړی يې ياري مه کړه د خوبانو — چې رانه شي بې وخته
ته خپل مساوي ګوره ستا دی ځوی د نادارانو — لرمه طبعه سخته
ژوندی به دې پرې نږدم زما خدای په نوم سوګند — ته واوره دا بيان(۵۷)

**زنځيري چاربيته:** زنځيري چاربيتې ته اته مسريزه چاربيته هم وايي، په دې باب يو ليکوال وايي:

هغه چاربيتې چې اته مسرې لري هغې ته عوامي چاربيته ويلی شو، ځکه چې د عامو شاعرانو په اصطلاح کې چاربيته وايي همدې ته چې څلور بيته او اته مسرې وي، په دې ډول چاربيتو کې د سر دواړه مسرې په خپل منځ کې هم قافيه نه وي، بلکې اوله يې په

ketabton.com - The Digital Library

یوه قافیه وي او دویمه یې په بله. او بیا د هر بند په پای کې چې کوم بیت راځي د هغه بیت د دواړو مسرو قافیه د مطلعې د دواړو مسرو له قافیې سره یو شان وي. عبدالحکیم اثر هم همدا راز د ۸ مسرو چاربیته پر درې ډولونو باندې وېشي:

۱- یو قسم هغه ده، چې د هر بند اول درې بیتونه یانې شپږ مسرې یې په خپل کور کې سره په یوه قافیه وي او وروستی بیت د چاربیتې له مطلعې سره موافق وي. ددې بېلګه داده:

مطلع:

شاګرده اول نص د الهي پروردګار دی
استاده بل حدیث د محمد نبي حضرت دی

بند:

شاګرده په جهان کې جبرائیل نومی ملک دی
استاده خاص مقام د ده اووم اسمان فلک دی
شاګرده ټول وجود یې د زنځیر حدیده کلک دی
استاده سر تر پایه په وزرو باندې چک دی
شاګرده د رحمت په رب کې ډوب لکه سمک دی
استاده ما په دې خبره هم ویستلی شک دی
بې حده ښایسته د نور په شان شعله انګار دی
د باد په شان ته ګرځي په هوا باندې اوچت دی

ketabton.com - The Digital Library

بند:

شــاګرده زه یــې نــوم ویلــی نــه شــم ویــرول کــا
اســتاده هغــه دادی چــې د روحــو قبضــول کــا
شـــاګرده قبضـــول د ګنهګـــارو پـــه زلـــزل کـــا
اســتاده بختــورو تــه پــه پــوزه بــو د ګــل کــا
شاګرده غټ عذاب دی چې زورونه په ګوګل کا
اســتاده پــه ســختۍ د بــدو روحــو وښــکل کــا
کمبختــو ګنهګــارو تــه پــه دغــه شــان قهــار دی
چــې ســم یــې پــه شــرف یــې مقــرر ورلــه جنــت دی

بند:

شــاګرده زه ډوب شــوی د غمونــو پــه دریــاب یــم
اســتاده زه د غــره لانــدې حصــار پــه پــېچ و تــاب یــم
شــاګرده پــه تهمــت بانــدې تــک تــور لکــه غــراب یــم
اســتاده لاس مــې مــروړم پــه ارمــان لکــه ذبــاب یــم
شــاګرده زه غریــب بنــده د پــاک غنــي وهــاب یــم
اســتاده شــکر وایــم چــې مســلمو کــې حســاب یــم
مرګــی مــې رانېــژدې شــو نــن ســبا لــه مــې رفتــار دی

ketabton.com - The Digital Library

((میاګل)) د ګټکي ژاړي چې په مخ کې مې قیامت دی(۵۸)

=a____________________
=b____________________

=c____________________
=c____________________
=c____________________
=c____________________
=c____________________
=c____________________
=a____________________
=b____________________

همداسې نور بندونه

په پورتني فورم کې د ټولو مسرو د څپو شمېر سره مساوي دی. د سر لومړی بیت یا مطلع په خپل منځ کې د قافیې اختلاف لري. دواړو مسرو کې قافیه حتمي او ردیف اختیاري دی. د هر بند شپږ مسرې په خپل منځ کې یوه قافیه تعقیبوي؛ اومه او اتمه مسره یې په قافیه کې د مطلعې د لومړۍ او دویمې مسرې تابع ده.

**۲- د اته مسریزې چاربیتې دویم ډول:**

په دې ډول چاربیته کې د سر یو بیت، چې د مطلعې په توګه راځي. لومړۍ مسره یې ځانته قافیه لري، د دویمې مسرې په منځ کې یې یوه قافیه راځي، چې د لومړۍ مسرې له قافیې سره سمون خوري، خو د دویمې مسرې وروستۍ قافیه ځانته جلا او د لومړۍ مسرې له قافیې سره سمون نه لري. د هر بند لومړۍ، درېیمه،

ketabton.com - The Digital Library

پینځمه مسره، په خپل منځ کې هم قافیه وي او هم د دویمې، څلورمې او شپږمې مسرې په منځ کې راغلې قافیې هم د نومورو مسرو د قافیو بڼه تعقیبوي، خو د دویمې، څلورمې او شپږمې مسرې په پای کې نورې قافیې راځي، چې دا بیا د نومورو مسرو خپلمنځي قافیې ګڼل کېږي، د بند اوم او اتم بیت د مطلعې د شکلي سکښت تابع وي.

لکه په دې لاندې مثال کې:

د ښایست اواز دې لاړو په عالم کې لور په لور
زه دې سوی یم په اور، ټیک دې کوز کړه له جبینه
د ښایست اواز دې لاړو په کابل په هندوستان
ځکه ناست یمه حیران، رارسېږي یا نصیبه
عاشقي ده ډېره ګرانه ځي د اوښکو مې باران
پرې مې لوند شولو ګرېوان، پوه نه شوم له ترتیبه
په هر چا باندې تېرېږي د فاني دور دوران
ځوک راځي ځوک ترې روان، کاندي یاروته قریبه
بارې خپل دی که پردی دی راکوي راته پېغور
سترګې نه شمه نیولی ګوره ډوب یم ستا په مینه.

✲✲✲

بارې خپل دي که پردي دي راکوي راته تهمت
کتی نه شمه اوچت په یارۍ کې د بې ننګه

ketabton.com - The Digital Library

چېرې تا کتلی نه دي لکه سپي ته چې کړې ست
تاو چې راغی په صورت، ته له مانه کوې ځنګه
جاروتی نه شمه بېرته رب دې نه کا خوک عادت
د سرو شونډو په شربت، کیف یې زیات وینم له بنګه
په رنې زنې د پاسه دې خالونه درې څلور
ما پرې تل کړی دی زور، خوند یې زیات دی له ګبینه

✵✵✵

د نرۍ زنې له پاسه دې خالونه دي قطار
توري زلفې دې تار، تار دي پرتې لکه ورېځې
په سینه کې دې پخ شوي دي د مینې دوه انار
ورته پروت یمه بیمار، دارو مې د مرض یې
رب دې نه کا څوک په رنځ کې ستا د مینې ګرفتار
نن دې ځان کړلو سینګار، بېګاه مې په اور سوزې
کله زېر شي کله بم شي سره ګنګرې دې کوي شور
قدم اخلي په ټکور، ښاپېرۍ راغلې له چینه.(۵۹)

a________________________________
b____________ a____________

c________________________________

ketabton.com - The Digital Library

d_____________ c_____________
c_____________________________________
d_____________ c_____________
c_____________________________________
d_____________ c_____________
a_____________________________________
b_____________ a_____________

او همداسې نور بندونه

د پورتنۍ چاربيتې د لومړي بند د وروستۍ مسرې په منځ کې (سترګې نه شمه نيولی ګوره ډوب يم ستا په مينه) کې (سترګې نه شم نيولی) برخه کې قافيه خطا شوې، خو په نورو بندونو کې پورتنی شکل په پوره ډول تعقيب شوی دی. د يادونې وړ ده، چې په پورتني ډول چاربيته کې د مسرو د څپو شمېر سره مساوي وي.

۳- د اته مسريزې زنځيري چاربيتې بل ډول دادی، چې ټوله مقفی وي او هر بيت او هره مسره يې په خپل منځ کې قافيې لري.

يوه بېلګه يې داده:

د ليلا په لبو سور | پېزوان لکه ښامار
تربنه ځي شغلې د اور | نتکۍ نه يې بار بار

راوځي ما سپين | ژوندی زما صورت که
زما زړه يې کړ غمګين | سرداره څه حکمت که
ګونګري يې کوي شور | چې دا شي په رفتار

✵✵✵

ketabton.com - The Digital Library

رفـتـار مـې کوي خوند　　ورځــمـه مـازيـګـر
وربل مې بند پـه بـنـد　　د سـپـين تندي په سر
خراب بـه دې کړم ژوند　　کاتـه کـړم پـه هـنـر
شين خـال مې ادم خور　　ذقـن مـې مـزه دار(۲۰)

په دې ډول چاربيته کې له څينو مسرو پرته د نورو اکثرو مسرو د څپو شمېر سره مساوي وي. پـه مطلع کې د لـومړي او دويم بيت د لومړيو مسرو قـافيې سره يوشان وي او د دويمو مسرو قـافيې پـه خپل منځ کې يو شان وي. د هر بند د درېو بيتونو د درېو لومړيو مسرو قافيه يو شان او درېو نورو مسرو قافيه بل شان وي، خو د څلورم بيت رغښت او بڼه د مطلع د بيت تابع وي. هند سي جوړښت يې په دې ډول دی:

مطلع:

b______________　　a______________
b______________　　a______________

بند:

=d______________　　c______________
=d______________　　c______________
=d______________　　c______________
b______________　　a______________

همداسې نور بندونه...

د ډېرې قافيه لرونکې زنځيري چاربيتې يوه بله بېلګه داده:

مطلع:

ketabton.com - The Digital Library

کله به راوړې دواړه بس دې دي رنګين شيرين
سپين دې جبين زرين مخ دې ځلېږي

بند:

کله به راکړې دواړه لب شات او ملهم صنم
مه کړه ستم هر دم په غضب ښورې
سرې دې منګولې همېش وړې زړونه قلم قلم
اخلې قدم په چم سترګې دې تورې
په در دې پروت يم همېش غواړم ستا کرم محکم
لرې کړه غم الم که رب ته ګورې
نن دې په غاړه باندې زانګي لونګين رنګين
سپين دې جبين زرين مخ دې ځلېږي.(۲۱)

په دې ډول چاربيتې کې د سر لومړی بيت يا مطلع په لومړۍ مسره کې يو شان دوه قافيې موجودې وي. د دويمې مسرې تر نيمايي پورې بيا يو شان دوه قافيې چې د لومړۍ مسرې له قافيې سره يوشان وي، راځي او د مسرې په پای کې اهنګينه کلمه راځي چې له دې قافيو سره په جوړښت کې توپير لري.

د هر بند لومړۍ مسره ځانته يو شان دوه قافيه لري او د دويمې مسرې په پای کې يوه ځانګړې قافيه؛ دريمه مسره له لومړۍ مسرې سره په قافيه کې يو شان وي څلورمه د دويمې په شان وي،

ketabton.com - The Digital Library

پینځمه د لومړۍ او شپږمه د دویمې په شان وي او هم د ځلورمې او شپږمې مسرې په منځ کې راغلې قافیې د بند د لومړۍ مسرې د قافیې تابع وي، اوومه مسره د لومړي بیت یا مطلع د لومړۍ مسرې په شان وي او اتمې مسرې د منځ قافیې د مطلعې د لومړۍ مسرې د قافیو تابع وي او پاتې برخه یې د مطلعې د دویمې مسرې پاتې برخه وي؛ د مطلعې د دویمې مسرې تکرار وي. په دې چاربیته کې د سر بیت لومړۍ مسره ۱۴ او دویمه ۱۱ څپې ده. د بند لومړۍ، درېیمه، پینځمه او اومه مسره هم ۱۴ څپې او دویمه، څلورمه، شپږمه او اتمه مسره ۱۱ څپې لري.

هندسي بڼه یې داسې انځورېدلای شي:

مطلع:

aa________________________________

____________aa________________

بند:

bb________________________________

c________، bb____________________

bb________________________________

c________، bb____________________

bb________________________________

c________، bb____________________

aa________________________________

____________، aa________________

ketabton.com - The Digital Library

## ۷- مقام:

ځینې پښتانه یې رباعي هم بولي، پښتانه ولسي مجلسیان یې د مجلسونو په پیل کې وایي، مقامونه نسبتاً ورو، اوږده او په داسې تال او اهنګ ویل کېږي، چې ټول مجلس چوپ شي او پوره غوږ یې نیولی وي، کله چې مقام خلاص شي نو سندرغاړي سمدستي لوبه، چاربیته او یا بګتۍ یا غزله پیلوي، چې اورېدونکي سم له لاسه له هغه ارام او غلي حالت نه راوباسي او په شور او زوږ یې راولي.

د مقامونو مضمون معمولاً ټولنیز او اخلاقي وي او د پند او عبرت ښه مطالب لري، عشقي مقامونه هم شته، مقامونه لکه د دېواني غزلو داسې جوړښت لري، د لومړي بیت دواړه مسرې یې په یوه قافیه وي او د نورو بیتونو لومړۍ مسرې یې له قافیې نه ازادې او دویمې مسرې یې له لومړي بیت سره قافیه تړي. له درېو څخه نیولې تر پینځو او شپږو بیتونو پورې وي. د مقام هره مسره دولس یا یوولس څپې وي له دېواني غزلو سره یې توپیر دادی:

یو خو یې ژبه ډېره ساده، عام فهمه او ولسي وي او بل د ولسي سندرو د قافیه تړنې پر اساس د سره ورته غږونه قافیه کول په کې عادي خبره ده، ځکه دغه سندرې په شفاهي بڼه منځته راغلي، نه په لیکنۍ بڼه. بل دا چې ویونکی یې ولسي شاعر وي، د سپلابونو شمېر یې یوولس یا دولس وي. دا چې د ولسي سندرو دغه فورم

ketabton.com - The Digital Library

ولې مقام بولي باید وویل شي چې د مقام نوم ورسره په څو سببه وړ دی:

۱- دا چې د مقام لغوي مانا (ځای) دی او دغه سندرې د پښتو په ادبي مجلسونو کې د چاربیتو، غزلو، بګتیو او بدلو څخه مخکې ویل کېږي، په دې حساب نو مقام د مجلس پیل او د نورو ولسي نظمونو لپاره انتظام برابروي او خلک دې ته متوجه کوي چې خپل ځایونه ونیسي او په کرارۍ سره مجلس واوري.

۲- دا چې په مقام کې پندونه او نصیحتونه بیانېږي، نو کېدی شي چې سړی د مقام پر موضوعاتو عمل وکړي او یو لوړ اخلاقي مقام ونیسي، له دې کبله چې دا وروستۍ خبره سمه او مانا لرونکې ده او نوم له نومول شوي سره برابر دی، دا سندرې په دې نامه یادې شوې دي، که چېرې دا سندرې مقام وبولو، نو یوه بله ګټه به مو هم کړې وي او هغه دا چې د دېواني سندرو له رباعي سره به مو د مغالطې مخنیوی کړی وي. دلته به د ولسي شاعر ګلستان یو مقام چې په دغه مقام کې د (بحث) د کلمې عامیانه تلفظ (باس) له لباس او خلاص سره قافیه شوی دی. د بېلګې په توګه راوړو:

د کم اصلو له یارۍ نه واخله لاس
مه غولېږه د هغو په تش لباس
د کم اصلو یارانه د خره سورلي ده
عاقبت به دې په کنده کړي راخلاص
شامدام به درنه ګرځي کوز او پاس

ketabton.com - The Digital Library

لـه کـم اصـلو نـه وفـا کلـه مونـده شـي
دا متل دی په هر ځای کې عـام و خاص
چې لـه لـرې نـه يـې ګـورې ورنـه تښـته
ګلســـتانه ورســـره مـــه کـــوه بـــاس(۲۲)

هندسي جوړښت يې دادی:

a______________________
a______________________

______________________
a______________________

______________________
a______________________

______________________
a______________________

______________________
a______________________

يادښـت: سـره لـه دې چې زمـوږ يـو زيـات شـمېر ادبپوهـانو او ليکوالو ((مقام)) يو ځانګړی جلا ادبي فـورم بللی، خو زه چې دې فورم ته ګورم، له غزل سره يې په هندسي جوړښت کې کـوم خـاص

ketabton.com - The Digital Library

توپیر نه شته، نو ځکه ویلای شو، چې ((مقام)) یوه محتوا ده نه جلا ځانګړی فورم. تر هغه پورې چې زموږ ادبپوهان په مطلق ډول (مقام) یوه محتوا ییي مسئله وګڼي نه شکلي، تر هغه پورې زه په دوديز ډول (مقام) د همدې فورمونو په چوکاټ کې محاسبه کوم، خو بیا هم زما نظر او وړاندیز دادی، چې مقام فورم نه دی، محتوا ده.

## ۸- بدله:

د پښتو په ځینو سیمو کې په عام ډول ټولې ولسي سندرې لکه: لنډۍ، سروکي، د واده سندرې، چاربیتې، نیمکۍ او نورې بدلې بولي، خو دلته زموږ مطلب د ولسي خاصو سندرو له هغه ځانګړي فورم څخه دی، چې پښتانه مجلسیان یې ملي غزلې یا ولسي غزلې بولي.

دغه سندرې هم لکه د ولسي سندرو د نورو فورمونو په څېر د عربي عروضو او بحرونو په شعري چوکاټ کې نه ایسارېږي او د اریایي ژبو د شعرونو په شان د سېلابونو او څپو پر بنسټ ویل کېږي.

بدلې عموماً شفاهي دي او مجلسیان یې خوله پر خوله یو بل ته سپاري خو د بدلو لیکلې او پخوانۍ بېلګې هم لرو؛ تر اوسه زموږ په لیکلو اسنادو کې د شیخ بستان برېڅ بدله له لومړنیو لاسته راغلو بدلو څخه ده، چې د لسمې پېړۍ په وروستۍ لسیزه کې تر زرم کال وړاندې ویل شوې ده.

ketabton.com - The Digital Library

بدلې له شکلي پلوه په لومړي سر کې پر ساده او سپرو بدلو وېشل کېږي او بيا يې هر ډول په خپل کور کې د مسرو د شمېر او مسرو د اوږدوالي لنډوالي او برابروالي پر اساس پر ډېرو نورو برخو وېشل کېږي. د بدلو هر بند اکثراً تر دوو مسرو زيات وي، چې کله يې هر بند درې مسرې، کله څلور مسرې او کله لا زياتې مسرې هم لري، چې د (خلکو سندرې) مولف په شکلي لحاظ بدلې پر پينځلسو ډولو وېشلي او که پلټنه وشي ښايي تر دې هم زيات ډولونه ولري.

ولسي بدلې لومړی يو کسر (مطلع) لري او ورپسې يې بندونه وي، کسر يې له يوې اوږدې او يوې لنډې مسرې څخه جوړ وي، چې بيا د قافيه يي تړون له مخې له هر بند سره قسماً يا ټول تکرارېږي. د ساده بدلې په بېلګه کې د شيخ بستان بړېڅ (۱۰۰۲هـ کال مړ) د بدلې سر او يو بند راوړو:

مطلع:

اوښکې مې څاڅي پر ګرېوان يو وار نظر که پر ما    راسه ګذر که پر ما

بند:

د خوږو زړونو له حاله ته يې ای باداره اګاه    يې د بېوزلو همراه
د خپل عزت په روی(بستان) ته کړه مهر ښندل    کړي له ګناه ګوابنل
اوښکې مې څاڅي پر ګرېوان يو وار نظر که پر ما    راسه ګذر که پر ما

په دې ډول بدله کې يو ځل د سر لومړی بيت چې يوه مسره يې اوږده او بله يې لنډه، يانې تقريباً د هغې تر نيمايي وي. د بند هره

ketabton.com - The Digital Library

اوږده مسره يې تقريباً د لومړي بيت له اوږدې مسرې او لنډه يې له لنډې سره برابره وي. د بند هر بيت په خپل منځ کې هم قافيه وي او د بند په پای کې د بدلې لومړی بيت بيا تکرارېږي. هندسي شکل يې داسې دی:

مطلع:

=a______________________
=a______________

بند:

b______________________
b______________
c______________________
c______________
=a______________________
=a______________

سپره بدله، د بدلې بل ډول دی، دې کې ګڼ شمېر قافيې موجودې وي، دې ډول بدله کې هم د مسرو اوږدوالی او لنډوالی موجود وي، خو د سر د لومړي بيت د مسرو له اوږدوالي او لنډوالي سره يې د بندونو د مسرو اوږدوالی او لنډوالی برابر وي. دلته د ښاغلي جرار د سپري بدلې کسر او يو بند وړاندې کېږي:

مطلع:

دا دی جنګېږي د ګوګل د پاسه هار که مار
چې لري زار په خوار کوي تاثير

ketabton.com - The Digital Library

بند:

پر ما شوې تېرى ستا په مینه کې خوارى زارى
لاس د یارى جارى راکړه محکم
پرسان مې وکړه ساه مې راغله تر مرى پرى
زلفې چورى نرى رقم رقم
ورکړه چې بایلو زړه صنم ستا په رخسار انار
سینه گلزار ((جرار)) مه کړه تاخیر.

هندسي جوړښت یې داسې دى:

a.a___________________________
b________a.a________
c.c___________________________
d________c.c________
c.c___________________________
d________c.c________
a.a___________________________
b________a.a________

## ۹- لوبه:

لوبې هم د ولسي خاصو سندرو یو ځانګړى او جلا شعري ډول دى، چې له بګتیو ښځه هم چابکې ویل کېږي. لوبې تر ډېره حده د لنډیو په خم کې رنګ شوي، کله کله یې بندونه لنډیو ته ورته

ketabton.com - The Digital Library

جوړښت خپلوي او کله بیا په وزن او رواني جوړښت کې لنډیو ته ورته بندونه لري.

ځینې کسان لوبې له بګټیو سره ورته بولي، په داسې حال کې چې لوبې د یوه ځانګړي شعري فورم په توګه له بګټیو سره یو د ویلو پر وخت توپیر لري او بل دا چې د لوبو دکسر مسرې اکثره وخت سره په یوه قافیه وي او بګټۍ ټول ټال دا شان نه دي. لوبې له نیمکۍ سره هم جوت توپیر لري، ځکه په نیمکۍ کې لنډۍ کټ مټ راوړل کېږي او په لوبه کې په خپله لنډۍ نه راځي او بل دا چې لوبه د ولسي سندرو له عمومي برخې سره چې ویونکي یې معلوم وي، اړه لري. دلته به د لوبې یوه بېلګه راوړو چې ولسي شاعر محمد نور ویلې ده:

لوبه:

غمونه لرې کړه له ما عاجز غمګینه
راتاو شه لونګیه
ودې ویشتم روغه دې نه کړم
نوره یاري درسره نه کړم
بل دې په سرو شونډو نتکۍ زانګي مینه
راتاو شه لونګینه

❋❋❋

ketabton.com - The Digital Library

پاس په بامو ګرځې کوترې
زما د خورېزړګي دلبرې
چې شال پر سر کړې ځنګه ښه ښکارې سنګینه
راتاو شه لونګیه

❋❋❋

د محمد نور فقیره بخته
ځنګه راپرېوتې له تخته
بخت مې کوټه شو اس مې لاړ سره له زینه
راتاو شه لونګینه (۲۳)

په دې ډول لوبه کې د سر لومړۍ مسره اوږده او دویمه لنډه وي. بیا د هر بند دوه لومړۍ مسرې په خپل منځ کې هم قافیه وي او هم یې څپې سره برابرې وي. د بند دریمه مسره د لوبې د سر بیت (کسر) سره په قافیه او د څپو په شمېر کې یو شان وي او ورپسې د سر بیت دویمه مسره د تکرار په ډول راځي. شکل یې داسې دی:

a____________________________
a______________
=b______________
=b______________
a____________________________
a______________
c______________
c______________

ketabton.com - The Digital Library

a____________________________
a_____________
d_____________
d_____________
a____________________________
a_____________

## ۱۰- داستان:

داستانونه د ولسي ځانګړو سندرو د یوه ځانګړي فورم په توګه د شکل او مضمون دواړو له پلوه ځانته خاص سکښت او بېل جوړښت لري او د ولسي ادب هر څېړونکی پر دې پوهېږي، چې زموږ ولسي ادبیات د مضمون له پلوه، زموږ د ولس د قامي ژوند هنداره او د شکل له پلوه هم زموږ د ژبې خاص ملي اهنګونه دي، چې زوږ اریایي اساس لري او پښتانه مجلسیان یې په ځانګړي وزن او خاصه لهجه وایي. داستانونه هم د ولسي خاصو سندور د نورو فورمونو په څېر اوږده ماضي لري او د لومړي ځل ویلو ځای او نېټه یې معلومه نه ده، یوازې د داستانو هغه بېلګې چې د پټې خزانې په واسطه لاسته راغلي، څلور سوه کلن عمر لري؛ په پټه خزانه کې د حافظ عبدالطیف اڅکزي د (سوی او اوښ) فولکوریک کومیډي او انتباهي داستان راغلی، چې دلته یې یو کسر او یو بند وړاندې کېږي:

غوږ ونیسۍ یارانو د اوښ او سوی قصه سوه

ketabton.com - The Digital Library

خورا ډېره خوږه سوه

يو سوی د اوښ اشنا سو

بې حده يې همرا سو

ياري به يې کوله يو له بله يې يارانه سوه

خورا ډېره خوږه سوه

داستان د ډېرو اوږدو مضامينو د بيان لپاره پوره زغم لري. مطالب يې عموماً فولکوري، ديني، رزمي او تاريخي وي، لکه په اخلاقي برخه کې د ولسي شاعر غلام شاه د حاتم طايي د سخاوت روايتي داستان.

په وړاندې زمانه کې يو فقير و مستانه

غوښته يې شهزادګۍ پاچا ته ودربده

په عشقي برخه کې د سيف الملوک او بدرۍ جمالې داستان:

روان شو شهزاده سيف الملوک باغ ارم ته

سفر د جدايۍ دی رخصت غواړي له پدره

په ديني برخه کې د حضرت ابراهيم خليل الله د صداقت، حق او رښتيا ويلو روايتي فولکوري داستان

د نمرود په زمانه کې

راغلی په کيسه کې

پيدا شو ابراهيم خليل الله دوست د اکبر و

ketabton.com - The Digital Library

## بېشکه پیغمبر و

داستان ویونکی د داستان ویلو پر وخت د تفریح او جلب لپاره لنډۍ هم وایي، چې د داستان خوند نور هم زیاتوي. ځینې پوهان او ادیبان د ولسي خاصو سندرو دغه فورم عربي مثنوي او قصیدو سره یو شان بولي او وایي چې ولسي داستانونه د عربي مثنوي او قصیدې په پیروۍ ویل شوي دي. باید ووایو چې دلته داسې ډېر دلایل شته، چې د هغو له مخې موږ ولسي داستانونه له کتابي مثنوي سره یو ډول نه بولو او لومړی اریایي فورم او دویم تقلیدي شکل ګڼو، لومړی دا چې د ولسي داستان د زنځیر د سرکړۍ له لرغونو اریایي سرودونو سره نښلي او د عربي مثنوي او قصیدو په پیروۍ نه دي ویل شوي. د ولسي داستانونو ویونکي معمولاً ولسي او نالوستي شاعران دي. دغه ولسي سندرې ټولې قافیه یې ازادۍ لري او هغه شرطونه چې په مثنوي او قصیدو کې شته، ولسي داستانونه یې پر منلو مکلف نه دي.

د ولسي مثنوي ډوله داستانونو په څېر نورې سندرې هم په پښتو ادب کې لرو، چې مثنوي ته ورته دي، لکه د بېټ نیکه مناجات، د شکلي جوړښت له مخې دغه مناجات هم د مثنوي په ډول دي، خو د تذکرة الاولیا مولف یې سندره بولي. دغه ډول د کاکړیو فورمي جوړښت هم د مثنوي په ډول دی، مګر هېڅ له مثنوي سره یو شی نه دی بللی او نه یې مثنوي ته غاړې ویلې دي. دا هم د ولسي داستان یو څو بیتونه:

ketabton.com - The Digital Library

خــان بابــا د چکــدرې چــې پــه ســفر لاړ
لــه دنیــا نــه د حــق لــور تــه برابــر لاړ
ظریف خان لعل بېگ ترې پاتې ماشومان شول
مــوریې مخکــې مــړه وه دواړه یتیمــان شــول
چــې یــې لــور بــې بــې کــو پــاتې شــوه یتیمــه
یرېــده بــه لــه دښــمن ظــالم غلیمــه

دا هم د یوه بل داستان یوه برخه:

نـن مې ولـیـد عجیبـه ښـکلی داسـتان
طلسـمات بـه درتـه واړه کـړم بیـان
د یمــن یــو شــهزاده و زمــا یــاره
یوه ورځ ښکار ته وواته له ښاره(۲۴)

دا ډول داستان پـه پښتو کې پـه څـو ډولـه دی. مـثلاً د حـافظ عبدالطیف خان اڅکزي د (سوی او اوښ) فولکوریک کومیډي او انتباهي داستان داسې دی، د کسر لومړۍ مسره اوږده او دویمه یې لنډه، خو دواړه پـه خپل منځ کې هم قافیـه وي. ورپسې بنـد راځي. د بند د سر لومړۍ دوه مسرې په خپل منځ کې هم قافیـه او لنډې دي. درېیمه مسره یې د کسر له لومړۍ مسرې سره په اوږدوالي او قافیـه

ketabton.com - The Digital Library

کې یو شان وي. د بند څلورمه مسره هماغـه د کسـر د دویمـې مسـرې تکرار دی. شکل یې داسې دی:

=a___________________________

=a__________

✵✵✵

=b__________________

=b__________________

=a________________________

=a_____________

د حضرت ابراهیم خلیـل الله د صداقت داستان پـه دې فـورم کـې دی، چې لومړی دوه لنډې هم قافیـه مسـرې چې تقریبـاً پـه څپـو کـې برابرې دي، ورپسې یوه اوږده مسره چې د هغو دواړو مسـرو د څپـو له مجموعي شمېر سره یې څپې برابرې دي او ځانته بېله قافیه لري، ورپسې یوه لنډه مسره راځي، چې په قافیه کې له درېیمې او په څپو کې له دویمې مسرې سره برابره وي. سکښت یې په دې ډول دی:

=a__________________

=a__________________

=b_______________________________

=b__________________

بل ډول داستان چې زیات عمومیت لري، دا دی، چې هر بیت یـې ځانته قافیه لـري، خو د ټولـو بیتونو دمسـرو دڅپـو شـمېر یـې سره برابر وي:

=a__________________

ketabton.com - The Digital Library

=a__________________
=b__________________
=b__________________
او همدرانگه نور..

یادښت: د داستان په باب به دا خبره معقوله وي، چې وو ایو داستان داسې یوه محتوا ده، چې په بېلابېلو شعري فورمونو، لکه غزل، قصیده، مثنوي او د پښتو نظم په نورو ولسي فورمونو کې ځایېدلای او دا فورمونه ورته کارېدلای شي، خو د دې ترڅنګ داسې ځانګړي فورمونه هم شته، چې د پښتو له نورو ولسي شعري فورمونو سره ورتوالی لري، خو د داستان لپاره کارول کېږي، خو بیا هم د دې ډول ولسي فورمونو سره توپیر په کې لیدل کېږي، که د دې ډول فورم یا فورمونو ته د داستان فورم نوم ورکړل شي، معقولیت به ولري.

## ۱۱- بګتۍ:

په پښتو ولسي شعرونو کې د غه فورم ځانته د خوند او رنګ بېل بازار لري، بګتۍ پښتنانه مجلسیان او سازیان له مقام، چاربیتو او بدلو څخه کله وروسته او کله هم په منځ او پای کې په یوه ګرم تال او وزن، خو په ورو او نرم اواز (اهنګ) د مجلس د رنګ د بدلولو او د اورېدونکو د خوښۍ او خوشالۍ زیاتولو لپاره وایي. د بګتیو د اورېدلو پر وخت په مجلس کې ټول حاضر کسان په ولولو راځي، اتومات ټول ښورېږي او له مجلس نه خوند اخلي.

ketabton.com - The Digital Library

بګتۍ هم د بدلو او چاربیتو په څېر کسر لري، خو کسر یې معمولاً یو بیت (دوه مسرې) وي. بندونه یې هم ډېرې مسرې نه لري او په عمومي توګه د څلورو مسرو په شاوخوا کې وي. د بندونو شمېر یې هم محدود وي، خو بیا هم د بګتیو د بېلابېلو بېلګو خپلمنځي توپیرونه ډېر دي. په بګتیو کې هم هر ډول عشقي، تاریخي او افسانوي کیسې په لنډ ډول بیانېږي، دا یې هم یوه بېلګه ده:

وزیرستان بانـدې جنګونـه
انګرېزان وایي چې سبا به جنګ له ځونه
انګرېز ویلي چې خاونده څه اسرار دی
په سترګو نه وینم غازیان، په ما ډزهار دی
نصیب مې نه شته، برې، بند مې شو توپونه

فقیر ویلي دا ستا لاس دې را دراز وي
که د بغداد مېړنی ځوان زما همراز وي
په شان د خټو به دې بند کړمه بمونه

وزیرستان باندې خو نن سبا جګړې دي
غازیانو لاس کې پولادي تورې تېرې دي

ketabton.com - The Digital Library

## ما شېر افضل يې په شعرو کړل صفتونه.(۲۵)

دا ډول بګتۍ د سر بيت د ځپو د شمېر له مخې له لنډيو سره يو شان وي. ياني دا چې د لنډۍ لومړۍ مسره هم نهه او دويمه ديارلس ځپې ده، خو په وزن کې هغه وزن نه لري چې لنډۍ يې لري خصوصاً لومړۍ مسره د بندونو دوه مسرې يې په خپل منځ کې هم قافيه او دريمه يې د کسر يا د سر بيت له قافيه سره يو شان وي. د بګتۍ سر بيت له لومړۍ مسرې پرته نورې ټولې مسرې د ځپو په شمېر کې سره مساوي وي. هندسي شکل يې داسې دی:

a__________

a_________________

=b_________________

=b_________________

a_________________

=c_________________

=c_________________

a_________________

=d_________________

=d_________________

a_________________

ketabton.com - The Digital Library

# څلورم څپرکی

## د پښتو ولسي شاعرۍ یا نظم ځینې نور فورمونه

په پښتو ولسي ادبیاتو کې د نظم یو شمېر نور داسې فورمونه شته، چې په هغو کې د ولس ځینو ستونزو، ربړو، دودونو، تاریخي روایاتو، نیمګړتیاوو، دردونو، ناخوالو او د چاپېریال پېښو انعکاس موندلی دی. دا فورمونه په دې ډول دي:

منظوم فالونه، د بې بې د ستې سندرې، لنډکۍ، سولې، برغازي، سلسلې، انګۍ یا چغیان، د میندو سندرې، د ماشومانو سندرې، د وړو مشاعرې، کیسې، د ځوانانو سندرې، محلي پارچې یا ولسي ننداري، ساندې، نکلونه، د ښادۍ سندرې، تاریخي نارې، سنځر خېلې نارې، د مروتو کسرونه، سوزخواني او ځینې نور. څرنګه چې د نظم دا پورتني فورمونه د پښتو نظم د ځینو نورو ولسي فورمونو لکه لنډۍ، سروکي، کاکړي غاړې، د اتڼ نارې، ببولالې، چاربیتې، بدلې، لوبې، بګټۍ او داستان په شان ډېر دود او اغېزناک نه لري، نو دلته یې یوازې د هر یوه د بېلګې په راوړلو سره بسنه کوو.

ketabton.com - The Digital Library

منظوم متلونه:

چې ډول دې وي په څنګ
لــه وهــلو یــې څه ننګ

❋ ❋ ❋

امیر چې ظلـم کـار وي
اور بل پر ټول دیار وي

فالونه:

د جــنت پــه مــنارې
سور چرګ وهي نارې
شېر د خدای تــېرېږي
خلکو کاندئ نندارې

د بي بي دستې سندرې:

د دوهــې ملنګې سـر دې ولـې تـور دی
سـر مــې داسـې تــور دی پــر مــوږ هــم
ښــه لــوی دیــن د محمدرســول الله دی
لا الـــــه الله محمـــــــد رســـــول الله
برایـــــي د شـــېرعلي د لــــور واده و
ملکـی پــه ورا رالـی لـه ښــه زړګي یـې

ketabton.com - The Digital Library

د ســـــترګو کســـــي ســـــره وو
بنــه لــوی دیــن د محمد رســول الله دی
لا الـــــه الله محمد رســـــــول الله

لنډکی:

تــه چې جــواري کـړې مـا بـه بايـه کـړې مینـه
مـه راپســې ژاړه وو ړکیــه نــه مــې درکوینــه
جـګ کـړه مړوندونــه جلــۍ غیــږې لــه درځمــه

شولې:
شولې ټکومه ټکوم تا به واده کمه
په خدای مې دې قسم وي وپلاني ته به دې ورکمه
شولې ټکومه ټکوم زه پلانی نه کوم
په خدای مې دې قسم وي پلانی زوړ دی که یې وه کمه
شولې ټکومه ټکوم تا به وده کړمه
په خدای مې دې قسم وي و پلاني ته به دې ورکمه
شولې ټکومه ټکوم زه پلانی نه کوم
په خدای مې دې قسم وي پر ما لوی دی که یې وکمه.
برغازي:

ketabton.com - The Digital Library

بـازار میـان دی خـولگۍ راوړه
چـرګ اذان دی خــولگۍ راوړه
لــوړ ســهار دی خــولگۍ راوړه
زمــا تلــوار دی خــولگۍ راوړه

***

راځــه وړې راځــه چــې ځــو
د ګــل ګېـډۍ راځـه چـې ځـو
نـــن ســبا راځــه چــې ځــو

***

الکــانو کــور مــه چېــرې دی
د لال ټکـــر مـــه چېـــرې دی
د مســتۍ غـولی مـه چېـرې دی

سلسلې:

راوتلـــی پـــر ســـحر یـــم
زه د ښـــو نجونـــو اجـــل یـــم
پــه شــان د ســپینکي مــار یـم
د هـــر چـــا تـــر اوده تـــر یـــم

انګۍ یا چغیان:

ketabton.com - The Digital Library

زه په خپل کور کې وم په راحت
بابک خرخه کړم په ډېر دولت
په پردي کور کې مې نشته عزت
خود به ژړا کړم په هر ساعت

❋ ❋ ❋

شینکۍ کوتره وم ښورېدمه
نه چا نیومه نه چا کتمه
په هر یو تکي به پربوتمه
نن ناولـده یې کېنستمه

د وړو مشاعرې:

ددې ځای اور سیچو
چرګه راغله بې بچو.

ددې ځای او ددې ډنډه
تیر پروت دی شل برغنډه

ته وایه غنم
خبرې دې منم.

ketabton.com - The Digital Library

کیسې:

په یورپ ځي اسمان ته
چار چاپېره ټول جهان ته (د سترګو لید)

دپاسه راغی سور بلوڅ
اغوستي یې دي پنځه پنځوس (پیاز)

د ځوانانو سندرې:

ابکه له کمه رالې
له بلخ و بخارا
په شا دې څه شی دي
ورېځ او باران
ماینې دې څو دي
ویل یې اووه
نومونه یې څه دي
ویل یوه چیختنه ده
یوه بختنه ده
یو ترګوک لاندې ورسته ده
یوه اسمان ته غرېده

ketabton.com - The Digital Library

پچکولمه یې وشلېده یوه سپینه زلیخا ده.

## محلي پارچې یا ولسي ننداري:

### ۱- تمثیلي پارچې:

وئ وئ مرم ابۍ
بچی کوم ځای دې خوږېږي
بچی کوم ځای دې خوږېږي
ابۍ ګېډه مې خوږېږي
ابۍ ګېډه مې خوږېږي
ګولۍ به درته راوړم
نه خورمه ګولۍ
دا ګولۍ له زارو ډکې دي
نه خورمه ګولۍ
دا ګولۍ له زارو ډکې دي
ابۍ ګېډه مې خوږېږي
بچی کوم طبیب دې خوښ دی
بچی کوم طبیب دی خوښ دی
دا (پلانکی) خان طبیب مې خوښ دی پرې رغېږمه

ketabton.com - The Digital Library

نه خورمه ګولۍ دا ګولۍ...

۲- کمیدي پارچې:

ما بورې نانګه خوړل
زامن مې بلا وخوړل
هی هی اجي ډومبک
ما بورې ګذر راوړی
دوی د خاورو ډک خوړلی
هی هی اجي ډومبک

۳- عادي پارچې:

د یوې تاریخي پېښې په باب:

نـــواب مــړ کـــړ پـــه ځنګلــه کـــې نوابـــه ګـــل
وینـــې یـــې راغلـــې پـــه راده کـــې نوابـــه ګـــل
د نـــــواب ســـــترګې غټــــې غټــــې نوابـــــه
پـه هـر میـدان یـې اړوي لکـه سـکروټې نوابـه ګـل
نــــواب دې پــــټ مــــې تېرویــــه نوابــــه
دلتـه مـې خـور ده او ورور مـه راخبـروئ نوابـه ګـل.

ketabton.com - The Digital Library

ساندې:
په لنډيو کې ساندې:
(پلانکی) د خاورو لایق نه دی
دا (پلانکی) دې ورته جوړه کړي بالکۍ په سينګارونه
که نور دې هر څه ميراتېږي
ميرات دې مه شه دا د غاړې تاويزونه
بې وروره خور په کوڅه راغله
ناره يې وکړه شپه به چا کره کومه

د نکلونو نارې (غږونه):
لکه د ادم او درخو په نکل کې چې د درخو رويباره (استازې) ادم خان ته د درخو احوال وروړي، نو ادم پر خپلې ښځې توتيا داسې غږ کوي:
(نکلچي وايي) ادم وويل:
زما توتيا عزت يې وکړه
دغه استازی د درخو راغلی تاته
کله چې درخانۍ د خپلې ملګرې بسوګۍ واده ته ځي، نو مور يې منع کوي او داسې غږ کوي:
ته چې دې واده ته ځې سلا مې نه ده

ketabton.com - The Digital Library

اوس وتنه د همداسې نجونو نه ده

درخو وايي:

تر قيامته به کوي توري ماتوري
ځان به جوړ کړم دواړه سترګې به کړم توري
د بسو واده ته ځم ادکۍ موري.

د ښادۍ سندرې:

د کونج مېرمنې پاڅه که دې زړه شي
هومره خو پانه څې چې پلانکی خان دې لونګۍ په لاس درته رانه شي

***

زموږه ناوې تيله داره ده نه ژاړي
چې د (مېړه نوم يې اخلې) لغتې وخوري دا به ښه ژاړي.

تاريخي نارې:

د هوتکو د دورې:

څوک خبر وو چې تقدير به کوي داسې
شاه حسين به نادر نيسي
بيا به يې نورې د ايران ته بندي باسي

د احمد شاه بابا د وخت:

ketabton.com - The Digital Library

که زمری دی شاه ولي د جنګ زمری دی
له سنګرو يې ايستلی مېړنی دی.

سنځر خېلې نارې:
سعدالله ول په پښې کې مې اځغی دی
اځغی مه راخخه کاږه
تر ما لاندې د اودولو اوسلی دی

شاه نادر ويل زما له دا غونډ يه ډار سي
دوست محمد پروزلی
دوست محمد پرېکړې راوليا ړ سي

د مروتو کسرونه:
د سر (مطلع) يو دوه بېلګې:
ډېرې اند ښنني مې په زړګي شوې راچاپېرې
ښکلې محبوبه پېزوان په شونډو رپېده

د مروتو يو کسر:
چې په تا باندې ښيا هغه به وشي

ketabton.com - The Digital Library

چې په تا باندې بېيا نوره به نه شي
سلطان خېل موسيان ګنجيو لشکري شي
الهي په تا باندې راولې خواري
خواري په تا باندې راولې آه سخته

سوز خواني:
د نورالله شاعر يوه سوز خواني:
يارانو ټول په وسلې وو يو لاسونه
نن بهار دی کربلا
شاميان نږدې شو ورته وتړو صفونه
تور غبار دی کربلا
ورځ د لسم دی د علي د زويو ننګ دی
بېدار شو وخت د جنګ دی
عباسه وروره مخکې واخله نشانونه
نن ګلزار دی کربلا. (۲۲)

ketabton.com - The Digital Library

# پایله

کله چې ما د پښتو شعر د بېلابېلو فورمونو د لټون هڅه پیل کړه نو دا راته لا ښه څرګند ه شوه، چې د پښتو شاعرۍ لمن ډېره پراخه ده. پښتو نه یوازې اکثره هغه شعري فورمونه چې په عربي ژبه کې دود دي، راخپل کړي، بلکې په همدې فورمونو کې یې ډېر جولیز زیاتون هم راوستی دی.

ددې شعري فورمونو شمېر هم تر هغو زیات دی، چې فکر یې کېږي. کله چې خپله د پښتو د ځانګړو شعري فورمونو خبره رامنځته کېږي، نو دلته هم سړي ته په ډاګه کېږي، چې تراوسه پورې ددې امکان برابر شوی نه دی، چې د پښتو شاعرۍ ټول فورمونو دې معرفي شوي وي. البته د پښتو د ولسي او لوستې شاعرۍ ځینې مشهور فورمونه له بېلګو سره معرفي شوي، خو بیا هم د پښتو ولسي شاعرۍ لمن ډېره پراخه ده او تر اوسه لا د هر فورم ټول ډولونه او د هغه بشپړې بېلګې نه دي معرفي شوي. په حقیقت کې د پښتو ولسي شاعرۍ هر فورم باید په جلا جلا ډول وڅېړل شي. ځکه چې د ټولو څېړل د یوه کتاب له اوسېلې نه وځي.

په پښتو شاعرۍ کې د مشترکو نظمونو، ازادو شعرونو او د ازادو شعرونو ترڅنګ ځینې نور داسې شعري فورمونه هم شته چې په پورتنیو یادو فورمونو کې نه راځي او پښتو شاعرانو د خپل فکر او ژوند د اړتیا له مخې د نورو شعري فورمونو له په پام کې نیولو پرته رامنځته کړي او کومه ځانګړې نومونه نه لري. دا برخه هم یو جلا باب غواړي، له همدې کبله که چېرې مورږ د پښتو

ketabton.com - The Digital Library

شـاعرۍ د نظـم د ټولـو فورمونـو او د هغـو بېلابېـل ډولونـه پـه مجموعي ډول تر نظر تېر کړو ، نو شمېر به يې تقريباً دوو سوو بېلابېلو جوړښتونو ته ورسېږي. ګڼ شمېر نور داسې پښتو شعري فورمونه شته، چې هغه زموږ په لوستې او ولسي شاعرۍ کې باب دي او په دې اثر کې له راغلو شعري فورمونو څخه جوت توپير لري، په دې اثر کې نه دي څېړل شوي، يوازې هغه شعر فورمونه تر شننې لاندې نيول شوي، چې په پښتو شاعرۍ کې ډېر زيات باب دي او يوه ټاکلې نومونه لري. په پوره ډول د پښتو د ټولو شعري شکلونو پېژندګلوي، د بېلګو راوړل او د هغو د هندسي جوړښت ترسيم د يوه ټاکلي اثر په پاڼو کې نه ځايېږي.

ما د خپلې علمي ترفيع (پوهنيار رتبې) لپاره د پښتو شاعرۍ يو شمېر مشهور فورمونه څېړلي او د هغو هندسي رغښت مې انځور کړی دی. کېدی شي د ځينو فورمونو د پېژندنې ترمنځ ټکر هم پېښ شوی وي، خو دا ټوله هڅه د وړانديز بڼه لري. د وخت د لنډون او د علمي ترفيع د معيار په پام کې ساتلو سره مې اوس پر همدې بسنه وکړه. هيله ده وخت د دې امکان برابر کړي، چې د خپلې ژبې د نورو درنو ليکوالو او پوهانو په مرسته دا هڅې نورې هم وغځوو.

ketabton.com - The Digital Library

# اخځونه


۱- د کابل پوهنتون د ژبو او ادبیاتو پوهنځي درسي لکچر نوټ.

۲- پوهاند زیار پښتو شعر څنګه جوړېږي؟ د اطلاعاتو او کلتور وزارت کابل، ۱۳۶۱ل کال.

۳- اورنګ زېب ارشاد، بدیع او د پښتو شعر، پېښور، دانش کتابتون، ۱۳۶۹ل کال، ۹۵-۱۱۰ مخونه.

۴- خوشال بابا، ارمغان خوشال، پېښور، یونیورستي بک ایجنسي، ۴۹۷ مخ.

۵- پیرمحمد کاروان، چنار خبرې کوي، پېښور، دانش کتابتون، ۱۳۷۲ل کال، ۲۵۳مخ.

۶- محمد هوتک پټه خزانه، څلورم چاپ، د زلمي هېوادمل په زیار، کابل، ۱۳۵۲ل کال، ۲۹ مخ.

۷- محمد هوتک پټه خزانه، څلورم چاپ، د زلمي هېوادمل په زیار، کابل، ۱۳۵۲ل کال، ۳۰ مخ.

۸- عبدالمالک بېکسیار، سوچونه او کرښچونه، ۱۳۷۲ل کال، ۱۹مخ.

۹- درویش درانی، هوا او څراغونه، لاهور، ۱۹۹۵م کال، ۱۴۰مخ.

ketabton.com - The Digital Library

۱۰- اورنګ زېب ارشاد، بديع او د پښتو شعر، دانش کتابتون، **۱۳۶۹**ل کال، **۴۲-۴۳** مخونه.

۱۱- اسحق ننګيال، هغه شپې هغه کلونه، کابل، **۱۳۶۵**ل کال، **۴۶-۴۷**مخونه.

۱۲- اسحق ننګيال، ښاخکي ښاخکي، د ليکوالو انجمن، ۱۳۶۸ل کال، **۶۵** مخ.

۱۳- علي ګل پيوند، سيلۍ او باولۍ، پېښور، دانش کتابتون، **۱۳۷۲**ل کال، ۱۷-۱۸ مخونه.

۱۴- هيله دوه مياشتنۍ خپرونه، **۳** ګڼه، **۱۳۷۲**ل کال، ۲۰ مخ

**۱۵**- د خوشال رباعيات، کابل پښتو ټولنه، ۱۲ مخ.

۱۶- محمد صديق پسرلی، پسته اور، لاهور، **۱۳۷۴**ل کال، **۱۸۷**مخ.

۱۷- حمزه شينواری، د خيبر وږمې کابل، پښتو ټولنه، **۱۳۷۴**ل کال، **۸۴** مخ.

۱۸- ډاکتر سيد بهاوالدين مجروح، نا اشنا سندرې، پېښور، **۱۹۸۹**م کال، ۱۰۹ مخ.

۱۹- ډاکتر امين الحق امين ګوري ورېځې، کابل، **۱۳۶۲**ل کال، **۹۸** مخ.

۲۰- عاصي اشنغری، توده وينه، کابل پښتو ټولنه، **۱۳۵۴**ل کال، **۱۸۵**مخ.

ketabton.com - The Digital Library

۲۱- پوهاند عبدالحی حبیبي، د پښتو ادب په تاریخ کې قصیده، کابل، ۱۳۵۷ل کال، ۱ مخ.
۲۲- محمد هوتک، پټه خزانه، ځلورم چاپ، د زلمي هېوادمل په زیار، کابل، ۱۳۶۵ل کال، ۱۹-۲۳ مخونه.
۲۳- پیرمحمد کاروان، چنار خبرې کوي، پېښور، دانش کتابتون، ۱۳۷۶ل کال، ۴۸ مخ.
۲۴- درویش درانی، هوا او ځراغونه، لاهور، ۱۹۹۵م کال، ۱۵-۲۰ مخونه.
۲۵- پوهندوی عبدالخالق رشید، د ژبو او ادبیاتو پوهنځي درسي لکچر نوټ.
۲۶- اورنګ زېب ارشاد، بدیع او د پښتو شعر، پېښور، دانش کتابتون، ۱۳۶۹ل کال.
۲۷- د حاجي جمعه خان بارکزي دېوان، د زلمي هېوادمل تدوین، کابل، د علومو اکاډمی، ۱۳۶۰ل کال، ۱۸۵ مخ.
۲۸- د عبدالحمید مومند دېوان، کابل، د علومو اکاډمی، ۱۳۶۳ل کال، ۴۰۷ مخ.
۲۹- د معزالله خان دېوان، د خیال بخاري ترتیب او تدوین، پېښور، پښتو اکاډمي، ۱۱۲-۱۱۳مخونه.
۳۰- د جمعه خان بارکزي دېوان، کابل، ۱۳۶۰ل کال، ۱۹۰ مخ.
۳۱- د نورمحمد لاهو شعري مجموعه، ناچاپ.
۳۲- د معزالله خان دېوان، ۱۱۴-۱۱۵ مخونه.

ketabton.com - The Digital Library

۳۳- پوهندوی نوراحمد شاکر، بدیع او بیان، کابل، ۱۳۶۵ل کال، ۲۵-۲۶مخونه.

۳۴- د حنان بارکزي دېوان، کابل پښتو ټولنه، ۱۳۳۲ل کال، ۲۲۹-۲۳۳ مخونه.

۳۵- اسمعیل یون، مټکور (شعري مجموعه)، د لیکوالو انجمن، ۱۳۶۹ل کال، ۸۸-۸۹ مخونه.

۳۶- عبدالغفور لېوال، فرهنګ مجله، ۲ ګڼه، ۱۳۵۷ل کال.

۳۷- اسحق ننګیال، هغه شپې هغه کلونه، کابل، ۱۳۶۵ل کال، ۱۳۵-۱۳۷ مخونه.

۳۸- پوهاند زیار پښتو شعر ځنګه جوړېږي؟ ۱۴۲ مخ.

۳۹- اسدالله اسد، د کاڼو موسکا، د افغانستان د لیکوالو انجمن، ۵۲ مخ.

۴۰- عبدالغفور لېوال، مخه ښه، پېښور، ۱۳۲۷ل کال، ۱-۱۱ مخونه.

۴۱- علي ګل پیوند، سیلۍ، د لیکوالو انجمن، ۷۱-۷۲ مخونه.

۴۲- کمال الدین مستان، د پاڼو شهادت، د اطلاعاتو او کلتور وزارت، ۱۳۶۹ل کال، ۵۰ مخ.

۴۳- احمد تکل، کرونده، کابل، د لیکوالو انجمن، ۱۳۶۹ل کال.

۴۴- غوټۍ خاورې د پښتو شفاهي ادبیات (شکل او مضمون) د علومو اکاډمۍ، ۱۳۶۲ل کال، ۵۹-۶۱ مخونه.

۴۵- تورخان شېرزاد، پښتو سروکی، ناچاپ اثر.

ketabton.com - The Digital Library

**۴۶**- تورخان شېرزاد، پښتو سروکی، ناچاپ اثر.

**۴۷**- تورخان شېرزاد، پښتو سروکی، ناچاپ اثر.

**۴۸**- غوټۍ خاورې هماغه اثر، **۵۵-۵۶** مخونه.

**۴۹**- محمدگل نوري، ملي سندرې، کابل، پښتو ټولنه، **۱۳۲۳**ل کال، هـ مخ.

**۵۰** – محمد گل نوري، همدا اثر، بېلا بېل مخونه.

**۵۱**- محمد گل نوري، ملي سندرې، کابل، پښتو ټولنه، **۱۳۲۳**ل کال، ح،ط، ی مخونه.

**۵۲**- محمد گل نوري، ملي سندرې، کابل، پښتو ټولنه، **۱۳۲۳**ل کال، ک مخ.

**۵۳**- محمد گل نوري، ملي سندرې، کابل، پښتو ټولنه، **۱۳۲۳**ل کال، ح مخ.

**۵۴**- محمد گل نوري، ملي سندرې، کابل، پښتو ټولنه، **۱۳۲۳**ل کال، بېلابېل مخونه.

**۵۵**- پوهنیار احمد شاه زغم، پښتو چاربیته (د پوهنملۍ تیزس) **۱۳۷۱**ل کال، ۱ مخ.

**۵۶**- غوټۍ خاورې هماغه اثر، ۸۲-۸۳ مخونه.

**۵۷**- پوهنیار احمد شاه زغم، هماغه اثر، **۱۴-۱۵** مخونه.

**۵۸**- سرمحقق زلمی هېوادمل، ولسي سندرې، ۲ ټوک، **۱۳۶۶**ل کال، ۸۲ مخ.

**۵۹**- پوهنیار احمد شاه زغم، هماغه اثر، **۱۸-۱۹** مخونه.

ketabton.com - The Digital Library

۲۰- پوهنیار احمد شاه زغم، هماغه اثر، ۲۰-۲۱ مخونه.
۲۱- غوټۍ خاورې، هماغه اثر، ۸۳ مخ.
۲۲- غوټۍ خاورې، هماغه اثر، ۸۹-۹۱مخونه.
۲۳- غوټۍ خاورې، هماغه اثر، ۹۲-۹۷مخونه.
۲۴- غوټۍ خاورې، هماغه اثر، ۱۰۱-۱۰۲مخونه.
۲۵- غوټۍ خاورې، هماغه اثر، ۹۸-۹۹ مخونه.
۲۶- غوټۍ خاورې، هماغه اثر، بېلابېل مخونه.

ketabton.com - The Digital Library

# د محمد اسمعیل یون لنډه پېژندنه



محمد اسمعیل یون د حاجي محمدخان زوی پر ۱۳۴۲ل کال، د لغمان ولایت د الینګار ولسوالۍ دنیازیو په یوې روښنفکرې کورنۍ کې زېږېدلی دی.

لومړنۍ زده کړې یې د الینګار ولسوالۍ د سلینګار په لومړني ښوونځي کې سرته رسولي دي، تر هغه وروسته کابل ته راغی او په خوشال خان لېسه کې شامل شو. پر ۱۳۶۲ل کال له نومورې لېسې څخه په دویم نومره بریالی او پر ۱۳۶۷ل کال د کابل پوهنتون د ژبو او ادبیاتو پوهنځي د پښتو څانګې محصل شو. پر ۱۳۷۰ل کال له نومورې څانګې څخه اول نومره بریالی او پر همدې کال بېرته د پښتو څانګې د کدر غړی شو. پر ۱۳۸۵ل کال په نومورې څانګه

ketabton.com - The Digital Library

کې د ماسترۍ دوره پیل شوه، یون په ډېر ښه او بریالي ډول دا دوره پایته ورسوله.
محمد اسمعیل یون له ۱۳۷۰ ل کال څخه بیا تر ننه پورې د کابل پوهنتون د ژبو او ادبیاتو پوهنځي تدریسي غړی او د(پوهندوی) علمي پوړۍ ته رسېدلی دی، پر استادۍ سربېره، استاد یون د ((کابل پوهنتون))، ((هیلې)) او((شمشاد ))مجلو د چلوونکي دنده هم په ښه ډول ترسره کړې ده. په پېښور کې د چاپېدونکې ((معارف)) مجلې کتونکی غړی هم و. همدارنګه دیو شمېر نورو چاپي خپرونو همکار هم پاتې شوی دی.
استاد یون پر ۱۳۸۱ ل کال، په جلال اباد کې ببړنۍ لویې جرګې ته د ختیزو ولایتونو د انتخاباتو د دفتر مشر شو، ددې جرګې لپاره تر ټاکنو وروسته د جرګې غړی، بیاد جرګې د غړو له خوا د ببړنۍ لویې جرګې دلومړي منشي په توګه انتخاب شو.استاد یون په دې جرګه کې تر خپل وروستي وسه خپل ملي او تاریخي مسولیت ادا کړ او د هېواد دښمنه عناصرو د توطیو مخه یې ونیوله.
تر دې جرګې وروسته، کله چې د افغانستان د اساسي قانون د تدوین بهیر پیل شو، نو استاد یون بیا ددې بهیر لپاره د ختیزو ولایتونو د دارالانشاد دفتر مشر وټاکل شو. په ختیزو ولایتونو کې د اساسي قانون د لویې جرګې لپاره انتخابات هم د همدې دفتر له خوا ترسره شول.استاد یون د اساسي قانون د تصویب په لویه جرګه کې د نوموړې جرګې د دارالانشا د غړي په توګه خپل فعال رول ادا

ketabton.com - The Digital Library

کړ. ټاکل شوې وه، استاد یون په ختیزو ولایتونو کې د افغانستان د جمهوري ریاست لپاره د عمومي ټاکنو د دفتر مسول شي، خو په کابل کې د لویو جنګسالارانو او ځینو تنظیمي مشرانو له خوا پر حکومت او ملګرو ملتونو د زیات فشار له امله له کاره ګوښه شو. ملګرو ملتونو (UNAMA) استاد یون ته وړاندیز وکړ، چې په کابل کې به تر دې لوړه دنده در وسپارو، خو استاد یون ونه منله او خپلې استادۍ ته یې دوام ورکړ.

درې کاله وروسته یې د ځینو ملګرو په زیات ټینګار او غوښتنه، د جمهوري ریاست د ملي امنیت شورا په دفتر کې د فرهنګي چارو د ریاست دنده و منله او په کابل پوهنتون کې پر استادۍ سربېره لا تر اوسه دا دنده پر مخ وړي.استاد یون پر ۱۳۸۵ل کال د افغانستان او پاکستان د امن ګډې جرګې لپاره د افغانستان له خوا د منشي په توګه غوره شو او دا دنده یې هم په ښه ډول ترسره کړه.

استاد یون د خپلو اکلیکوال په توګه په تېرو شلو کلونو کې ګڼ شمېر فرهنګي او ټولنیز خدمتونه ترسره کړي، په ګڼو چاپي، راډیویي او ټلویزیوني مرکو کې یې د و اقعیتونو او حقایقو د څرګندیدو له امله د خلکو په زړونو کې ځای نیولی دی. که څه هم ډېر خلک د یون لیکنې، مرکې او نظریات خوښوي، خو یو شمېر داسې خلک هم شته، چې د یون سرسختي مخالفین دي. د هغه ملي او ګټورو نظریاتو ته هم غلط رنګ او تعبیر ورکوي، دا ډول اشخاص، چې اکثره یې زورواکي او د سیاسي ډلو ټپلو غړي او

ketabton.com - The Digital Library

مشران دي، د استاد یون نظریات خپلو شخصي او تنظیمي ګټو تـه خطر بولي، نو ځکه یې په ټینګه مخالفت کوي. زه ددې شاهد یم، هر کله چې یون کومه لیکنه او مرکه کړې، نو دده پر وړاندې یې مثبت او منفي غبرګونونه دواړه راپارولي دي، منفي غبرګونونه اکثره وخت د هغو اشخاصو او ډلو له خوا وي، چې په تېر کړکېچن سیاسي بهیر کې یې ډېرې نامشروع ګټې ترلاسه کړي او ځانونه یې مطرح کړي دي.

مثبت غبرګونونه اکثره د ولس د مشرانو، روښنفکرانو او نورو مخورو له خوا وي، خو استاد یون په دغسې سختو اغزنو او تنګو شرایطو کې بیا هم خپل فرهنګي، سیاسي او ټولنیز کار ته دوام ورکوي.

دا اوسنی فرهنګي کار، چې تاسو یې اوس په مسلسل ډول ګورئ، دا د تېرو شلو کلونو کارونه دي، چې لـه تېر یو نیم کال راهیسې پرې په منظم ډول کار شوی، او ډل شوي او دا دی ستاسو مخې ته اینبودل کېږي، په داسې یو دولتي دفتر کې چې بوختیاوې په کې ډېرې وي، د منظم او ستر فرهنګي کار سرته رسول اسانه کار نه دی استاد یون پر خپلو فرهنګي کارونو سربېره د ګڼو فرهنګي ټولنو د غړي، همکار او موسس غړي په توګه هم خپل فرهنګي رول ادا کړی، پـه پېښـور کـې یـې د دوو الـمـان مېشـتو فرهنګـي ټولنـو (دافغانستان دکلتوري ودې ټولنې) او (د پښتني فرهنګ د ودې پراختیا ټولنې) د همکار په توګه د بېلابېلو لیکوالو په لسګونو

ketabton.com - The Digital Library

اثـار، ایـډیټ او چـاپ کـړي دي دغـه راز یـې پـه سـلګونو کورنیـو مشاعرو، ادبي غونډو او سیمینارونو کې ونډه اخیستې ده، خپله یې هم په لسګونو مشاعرې، سیمینارونه او علمي ورکشاپونه جوړ کړي دي.

سربېره پر دې، په یو زیات شمېر، ملي او نړیوالو کنفرانسونو کې یې په ښه ډول د خپل هېواد استازي کړې ده. دلته به یې د اثارو یادونه وکړو:

## اثار

### الف- پنځونې:

| کتاب نوم | څرنګوالی | چاپکال |
|---|---|---|
| متکور | لومړی شعري ټولګه | دویم ۱۳۸۷ |
| په اورونو کې سندرې | دویمه شعري ټولګه | دویم ۱۳۸۷ |

### ب- راټولونې:

| | | |
|---|---|---|
| هیلې | ګډه شعري ټولګه | دویم ۱۳۸۷ |
| نیمګړي ارمانونه | د حیران شعري ټولګه | دویم ۱۳۸۷ |
| د لوونو فصل | ګډه شعري ټولګه | دویم ۱۳۸۷ |
| د نازو انا یاد | د سیمینار د لیکنو ټولګه | دویم ۱۳۸۷ |
| د استاد الفت نثري کلیات | د استاد الفت نثرونه | دریم ۱۳۸۷ |
| سیندونه هم مري | د اسحق ننګیال شعري منتخبات | دویم ۱۳۸۷ |

### ج- ژباړنې:

- د ټولنپوهنې له نظره: په افغانستان کې د واک جوړښتونه د پوهنوال روستارتره کي اثر دویم ۱۳۸۷

ketabton.com - The Digital Library

- .د افغانستان فرهنګي ميراثونو ته يوه کتنه
د نينسي دوپرې اثر دويم ۱۳۸۷
- په افغانستان کې د جګړې جنايتکارانو محاکمه
د پوهنوال روستار تره کی اثر دويم ۱۳۸۷

## د- يونليکنې:

- د اماراتو سفر د اماراتو يونليک دويم ۱۳۸۷
- که يون دی يون دی د اروپا يونليک لومړی ۱۳۸۷
- د پنځاګون ترڅنډو د امريکا يونليک لومړی ۱۳۸۷

## هـ- څېړنې او شننې:

- د محمد ګل خان مومند اند و ژوند ته يوه لنډه کتنه دويم ۱۳۸۷
- استاد زيار د پښتني فرهنګ يو ځلاند ستوری دويم ۱۳۸۷
- دکابل پوهنتون د ادبياتو پوهنځي پښتو کتابښود دويم ۱۳۸۷
- د افغانستان فرهنګ ته اوښتي ژبانونه دويم ۱۳۸۷
- د پښتو شعر هندسي جوړښت شپږم ۱۳۸۷
- له افغانستانه د مسلکي کادرونو د فرار عوامل دويم ۱۳۸۷
- ساينسي پرمختياوې دويم ۱۳۸۷
- ببرړنۍ لويه جرګه ولسواکي او زورواکي دويم ۱۳۸۷
- انديال خوشال لومړی ۱۳۸۷
- هيله د خپلو سريزو په لمن کې لومړی ۱۳۸۷
- کلتوري يون لومړی ۱۳۸۷
- فرهنګي فقر لومړی ۱۳۸۷
- مرکه او مرکې لومړی ۱۳۸۷
- خوشال په خپل ايډيال لومړی ۱۳۸۷
- دکتابونو په ورېمو کې لومړی ۱۳۸۷

ketabton.com - The Digital Library

- افغانستان په سیاسي کړلیچ کې لومړی ۱۳۸۷
- پښتو لیکنی سمون لومړی ۱۳۸۷
- اوسنۍ رسنۍ لومړی ۱۳۸۷
- که نړیوال ماته وخوري؟ لومړی ۱۳۸۷

خدای(ج) دې استاد یون ته ډېر عمر ورکړي او جرئت دې ورته هم تاند لري، الله(ج) دې دی له هر ډول بدو بلاوو وژغوري، په فرهنګي کارو زیار کې ورته د نور زغم او سېلې هیله لرم.

په درناوي
وفاالرحمن وفا
کابل- افغانستان

ketabton.com - The Digital Library

# dəpaŝto şer
# handosi joṛəŝt

(Geometrical Structure of Pashto Poem)

BY:
M. Ismael yoon

ISBN 978-9936-500-12-9
9 789936 500129 >

د خپرونو لړ: (۱۳)

# Thank you for reading

Find more e-books and articles on Ketabton - your multilingual digital library.

**www.ketabton.com**

*Ketabton - Pashto, Farsi, Arabic & English*